

Ketabton.com

ښاغلی قیام‌الدین خان « خادم »
د «روهی ګاونه» مؤلف

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپښتو ټولنې له خپرونو څخه :

دخپرونو لمبر ( ۷۱ )

# روهي گلونه

مؤلف

قیام الدین « خادم »

دپښتو ټولنې ددائرةالمعارف دترجمې دڅانگې مدیر

۱۳۲۵

دکابل عمومي مطبعه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زېرى

بلبلان پسې ناري وهي رحمانه ! دبهار گــلو نه شو يدى كه نه دى ؟

«رحمان»

* * *

دسو ندك مو ندك سپلى اخرى كيبزي په بلبلو زېرى وكړه : بيا بهاردى

«خوشحال»

* * *

دگلونو قدر چا زده ؟

دبلـــبل يا دبو را زده

«خوشحال»

تقریظ:

# روهی گلونه

هرطرف ته نو بهار دی غوړ بد لی
سترگی وخوره چه‌به دا ننداره نه کا
( خوشحال )

دابنکلی گلونه چه دښاغلی خادم په زیار راغونډ شوی دی او دپښتو ادب مینانو ته دسوغات په توگه وړاندی کیږی ، هغه‌گلونه دی چه پښتنو دپخوا نیو شاعرانو دزړه په وینو روزلی شوی دی .

خنگه چه تراوسه پوری دپښتو ژبی په ادبیاتو کښی داسی یوجامع منتخبات نه و ، او ښاغلی خادم (چه دپښتو یوپیاوړی ادیب دی) په دې کارگوتی پوری کړی اوبریالی شوی دی ، نوپښتو ټولنه داخپله وظیفه گڼی چه ددی فاضل دادستاینی وړ خدمت وستایی اوپه دې انتخاب ده ته‌تبریک‌ووایی اوهم په‌دې گلونوسره دهغو پرد یسانو روح ښاد اویاد کړی چه دوی به‌د خوازه وطن په بیلتون کښی‌ویل :

قاصدان له روهه نه راځی مدت شو
سلا م باد را رسوی منت ئې تم دی

اوله خدایه غواړی چه داسی ډیر آثار پښتنوته‌وړاند ی کړی .

( عبد الرؤف « بېنوا » )
دپښتو ټولنی عمومی‌مدیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تهدیه

زه دا درنگ رنگ تا زه گلونو دسته هغه چانه په مخکښې زدم چه تر هر چا اوتر څه دروه په گلانو مین دی !

دشا هانو ور کړه لعلو چواهر وی          دادب دخاوندانو ؛ دزړه وینی

« خادم »

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

د لوی څښتن حمد او ثنا وایو . او دده په هغه استاځي چه تر ټولو غوره دی ؛ او په آل اولادئې ، درود لېږو او د دې شکر کوو چه په لږه موده کښې مونږ د خپل ملت (پښتو او پښتونولی ) په خدمت کښې «چه زمونږ د مشرانو او خصوصاً د ګران ټولواك اعلیحضرت محمد ظاهرشاه رضامندي هم په دې کښې ده »
خو مره چه کېدی شوه د هغې نه ډېر کامیاب شو . یعنی په کوم وخت کښې د پښتو خدمتګارانو زیات آثار و لیکل ؛ چه لږ له دغو څخه چاپ شوی دی ؛ او ډېر لا پاتې دی په فرصت کښې به چاپېږي او د ذوق خاوندانو ته به وړاندې کېږي .

یو له دغو آثارو څخه چه د پښتو په ادب کښې ورته ډېره اړتیا لیدی شوه دا کتاب دی چه د «روهي ګلونو» په نامه نن له چاپه راووت . دا کتاب د ډېرو پخوانو هغو شاعرانو د اشعارو انتخاب دی ، چه نن یې آثار ډېر لږ کېږي . دا اشعار او د دغو شعراؤ دیوانونه ما په ډېر کوښښ پیدا کړیدی . او په ډېر زحمت سره مې تري دا مجموعه جوړه کړېده ؛ چه په خپل ډول او ترتیب کښې د نورو ژبو دیوې ، انتخاباتو ته هم نده ورته .

او داله دې کبله چه د پښتو شعراو ادب ځانته روح او ځانته لاري لري . ما دغه روح او د غه اسلوب په نظر کښې نیولی دی ؛ او هغسې مې د کتاب د ترتیب نقشه جوړه کړېده . او بیا مې دا کتاب لیکلی دی د دې کتاب په ترتیب کښې نوې خبره داده چه د تهجي توروپا د ردیف او قافیې په لحاظ ندی ترتیب شوی بلکه په ترتیب کښې موضوع او معنی ته زیات اهمیت ورکړی شوی دی ، نو هر څو مره چه دا مجموعه یوه ادبي مجموعه ده ؛ او د ادب او شعر د ښکلا کتو او شاهکار یو څخه ډکه ده ؛ هغو مره د ژوند او زندګی د اسرارو خزانه هم ده !

په دغه شان سره د پخوانو کلاسیکي شعراؤ شعر په شپږو بابونو ویشل شویدی چه په هر باب کښې فصلونه دی ؛ او په فصلونو کښې هم ځانته ځانته عنوانونه دی . او د هر عنوان لاندې د مختلفو شاعرانو اشعار لیکلي شویدي . امید دی چه د قدر دانانو په نزد به زما دا خواري ځای و نیسي ؛ او په درنه سترګه به ورته وګوري !

کابل - تسندوز سازی ـ قیام الدین خادم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی باب

## مینه او محبت

لویه خدایه ، لویه خدایه ! ستا په مینه په هر ځایه
غر ولاړ دی درناوی کښېږي توله ژوی په ځاری کښېږي
د لته دی د غر و لمنې زموږ کنډی دی پکښېږي پلنې
داو ګړی دېر کړی خدایه !
لویه خدایه ، لویه خدایه !

دلته لنډ زموږ اور بل دی وړه کور ګی دی، وړه بورجل دی
مینه ستا کښېږي مو نږ مېشته یو د بل چا په مله تله نه یو
هسك او ځمکه نغښته ستا ده د مهر و وده له تا ده
دا یا لنه ستا ده خدایه !
لویه خدایه ، لویه خدایه !

« بیټ بابا »

❀ ❀ ❀

پر لویو غروهم په دښتو کښې په لوی سهار په نیموشپو کښې
په غاړه ژغ او په شپېلکو کښې یاد ویر ژلیو په شپېلو کښې
تول ستادیاد ناري سوري دی!
دستا د مینې نندارې دی !

جنډی زرغون که په بېدیا دی دېر ښه خواته په خندا دی
ترنك چه خړدی په ژړا دی دا تول اغېز د مینې ستا دی
توله ښکل دی ستا له لاسه
ای دپا سوالو پا سه پا سه !

که نمر روښانه مخ یې سپین دی یا دسپوږمیه تندی وړین دی
که غر دی ښکلي پر تمین دی لکه هنداره مخ یې سپین دی
ستا دښکلا د ا پلو شه ده
دا یې یو سپکه ننداره د ه

---

لغات : هسك آسمان . مېشته : ډېره . ځاري : عجز . جنډی : ګل . ترنك : دیورود نوم دی .

دلته لوی غرونه زرغونېږی — دړوند وږمې پکښې چلېږی
بوراوې شا وخوا ګرځېږی — سترګی لیدو ته یې هېښېږی

لویه خاونده دا ټوله ته یې
تل د نړۍ په ښکلېده یې

خاونده! ښکلی ستا جمال دی — ښکاره یې لوری په لور کمال دی
کورخ که شپه که پېړی کال دی — ستا د قدرت کمکی مثال دی

ستا د لور ونو یوه رڼا ده
دلته چه جوړه تماشا ده

زړه مې دا ستا د مینی کور دی — سوی د عشق په سوځندا ور دی
رب یې وتاته په هر لور دی — بیله دې هېڅ دی ورک یې پلور دی

ستا د جمال په لیدو ښاد دی
که نه وی دغه نور برباد دی

په غرو کښې ستا د عشق شپېلکی دی — د دې نړۍ په عشق سمی دی
که غټ که ووړ که پنځه نړی دی — ستا د جمال ځری هر شی دی

چه پر دنیا مې سترګی پرې شوې
ستا د جمال په ننداری شوې

نه هسک نه ځمکه وه تورتم ؤ — تیاره خپره وه ټول عدم ؤ
نه دا ابلیس نه نی آدم ؤ — ستا د جمال سو چه پرتم ؤ

چه شو ښکاره ښکلی دنیا شوه
د پنځ پر لوری یې رڼا شوه

زه چه څرګند پر دې دنیا شوم — د ښکلی مخ په تماشا شوم
ستا پر جمال باندی شیدا شوم — له خپلی ستړی را جلا شوم

په ژړا ژړام چه بېلتون دی
یمه پردیسی بل مې تون دی

وګړیو، ولې «متی» ژاړی — سورې یې اوری غاړې غاړی
څه غواړی، څه وایی، څه باړی — خپل تون او کورو کلی غواړی

چونی چه بېل شی نیمه خواشی
تل یې د بڼ په لور ژړا شی

« شیخ متی : کلات بابا »

❀ ❀ ❀

---

لغات ـ هېښ : حیران ؛ تون : ځای ؛ چونی : بلبل ؛ بڼ : باغ

الهی ! د محبت سو زو گداز را
تن پرور بلبل دي عيش کاندی پر گلو
که مي نزموبی په وياړ دوزو ستر گو
چه نظر لـه ناتوانی وچا ته نـه کا
چه مي نوی سر کوزی چاته بي ښکلیو
اضطرا ب د حرص مي کړي له زړه گی ارې
کـه مي نـه فاشوي سرزيد و عمر تـه
څو بـه گورم د قیامت و ورځو شپو ته

چه خپل بر گک په آب د چرخ نکرم سر سبز
چه مدام وی په چشمه د آفتا ب ولـی
چه کباب يي په گرمی ، زما ځيگر شی

چه بلبل يي و ديدن تـه انتظار کا
کـه مي نه محتاجوي د صبا باد تـه
سرخرو يي زما نصيب لـکه لاله کړه

په اوبو کښي يي د کاملی گوټ پيدا کړ
پـه سجود يـي مځـکي سردی لـگولی

الله مي رب د ی زه يي مربوب يـم
غرق يـه اوبو کښي کـله اوبه وينی

د د ه يـه حـکـم با لا پـستی شی
نـه تل بهار و ی نـه تل خزان و ی

چه زما په چمن راشی گستاخی کا
چه آزاد ه د منـکر تر سره پر بوځی
چه کشور د افـغـا نا نو معطر شی
الـهـی ! د خپل حبيب لـه بر کـتـه

په داور کښي دستی(۱) سمند رسازرا
پروانـه لره پـه اور ز ما گـداز را
می د عيش په ميخانه کښي د مجازرا
د هغو بيمارو ستر گو نـازو نيا ز را
لـه دولت د عشقه هسی کبر و ناز را
قنا عت قوی لنـگر دد ي جها ز را
خپل زانو لـکه نر گس محرم راز را
دا انجام په دم قدم کښي د آغاز را
«عبدالمجيد مهمند»

د همت علو پشان د کهکشا ن را
د سحر پشان درست عمر سپين دامان را
دلاله غوندی پهجام مئی جوشان را
کاظم خان «شیدا»

نن و ماوتـه گـلشن د هغه با غ را
بوی د يار د تورو زلفو په دماغ را
پرسينـه لـه محبـتـه هسی دا غ را
«شمس الدين کاکړ»

ده ور کړی پـکښي اورلره مکان دی
هم يي زوړندپهر کوع سره آسماندی
«عبدالرحمن مهمند»

بنده دده يم کـه خوب نا خوب يـم
نعمت يي نه و ينم پـه نعمت ډوب يم
«عبدالقادر ختك»

مستی خمـا ر شی خمـا ر مستی شی
هستی نيستی لری ، نيستی هستی شی
«خوشحال ختك»

د شبنم په څېر يي عمر پوزمان کړي !
د فلك په څېر مي توره د زبان کړی !
د هر بيت مصر ع مي زلفي د خوبانـکړی !
دا : ساده انشار نگينه د رحمان کړي !
«عبدالرحمن مهمند»

---

(۱) په اکثرو نسخو کښي د (سنی) پځای (سهی) ليکـلی شويدی ؛ خوموږ نتر يي په معنی نيو هيږو «خادم»

روهي گـلونه(٥٢٥) ب سردار محمد : ح سراج الدين : ر محمد امين : ن محمد نعيم : ه اجرائيه پښتو ټولنه ليل١٨ : -٨-٢٥-ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



الهی د مینی دردرا
کرم دل آهو نه سردرا

خلاص کړه ما له بې دردی
له دې هسې د لسر دی

زړه په شان د غنچې را کړه
آتشی ز ما مینا کړه

«کاظم خان شیدا»

پر هر چا چه حق یاد نشی ناتمام دی
پر کاغذ اول دده پنام م.قلم ږده

«دوات لوانی»

## ب : داستانی په مینه

که رنا ده پیروی د محمد ده
گنډه نشته په جهان بله رنا

«عبدالرحمن مهمند»

ړندې ستر گې چه دزړه مې پرې بیناشوې
یم پیدین د محمد آخر زمان خوښ

«عبدالعظیم رانیزی»

توره تاریکی تو له لدې جهانه لاړه
نوردپاك رسول چه په جهان کښې شه پیدا

«میانعیم متی زی»

ما مختار یکښې مذهب د حنیفه کړ
چه مختارؤ خود په ستورو کښې مهتاب

«پیر محمد کاکړ»

راغلم ووجود ته د حبیب له بر کته
شوم لکه ذره هسې په نمرسره اظهار

«پیر محمد کاکړ»

توره تاریکی تو له له دې جهانه لاړه
نوردپاك رسول چه په جهان کښې شو پیدا

«میانعیم متی زی»

په زرگونو انبیاتردنیا تیر شو
محمد غوندې بل نه ؤ پیغمبر هیڅ

«دولت»

## ج : عشق ... ؟

هسې یې گرځم دا زیړرخسار له خلقو
لکه زرچه خوك له خلقو پټ پنهم ږدی

راحت نه دی بې زحمته چا مونده لی
کوم طبیب دی چه په روغ صورت ملهم ږدی

زه هر گوره خپل صنم پورې شرمیږم
برهمن چه سر په پښو د خپل صنم ږدی

وآسمان ته لاس د عقل نه رسیږی
داخو عشق دی چه په عرش کرسی قدم ږدی

«عبدالرحمان مهمند»

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د سربښندل دشوار په ما و تا دي
اندېښنه سري بیدار کاندي له خوبه

دا په عشق کښې سهل کار دي دشوار نه دی
کم اندیشه که بیدار دی بیدار نه دی
«عبدالرحمان مهمند»

که په کار دي د سروشو نه و شیرینۍ وي
درحمان په عاشقۍ کښې سترګې وشوي

د خپل ځان په وینو سور لکه انار شه
خوګ چه وایي عاشق ږوند دی هغه خوار شه
«عبدالرحمان مهمند»

عشق د نفس له خاصیته منزه دی

کار د ستر ګو به خوګ څرنګ پېدا ځنګا
«عبدالرحمان مهمند»

څه حکمت د یار په مینه کښې رب کېښود
دا باران نه دی چه اوري له آسمانه

چه عاشق اره همدرد او همدوا شوه
د مرغانو په رحمان باندی ژړا شوه
«عبدالرحمان مهمند»

چه په زړه باندی ز رداغونه جوړ شي

چه دیار له داغه آه کا هغه ګرم دی
«خوشحال ختك»

زه تر عشق جار ېږم : تر هغو چه عاشقان دی
رایشي له کومه ځای په څوو کا په زړه کښې
هی دخدای دیاره تفحص رایسي مکړه

واړه عشق یکار دی حقیقت دی که مجاز دی
هیڅ پري نه پوهېږم عشق یوڅه سوز و ګداز دی
پلار ته وایه نشي عشق یو هسې مخفي راز دی
« خوشحال ختك »

عاشقان دعشق له کاره انکار نه کا

فاسقان به په خپل زړه کښې اری غلا
« خوشحال ختك »

ځینې هوس کامینه په باغ لري
داد واړه ګروهه بوالهو سان دی

خوك مې پسر ستره حب دا یاغ لري
عاشقان مینه د زړه په داغ لري
« عبدالقادر ختك »

لیونی غوندی دعشق په کار و بار کښې

د خپل ځان په سود و زیان نه یم هرګز
« عبدالحمید مهمند »

که هر څو مې تندتېزه توسن دعقل

عاقبت شو په دنبال د مینې پا تې
« میا نعیم متي زی »

دعشق یوسبق کافي دی

نور ددرست جهان دفتر هیڅ
« صدرخان ختك »

عاشق ګرم او شوقي وی
چه دعشق په لاره درومي

زاهد سوړ بی حمیته
خالي نه دی له تهمته

« دولت لوانی »

خام خاطر مې مشوش و پههجران کښې — چه تمام دعشق په اور وسو متین شو

«دولت لوانی»

معرفت ځنې پیدا شو — عشق د عقل پلارو مور دی

«مرزا خان انصاری»

دغه عقل چهپه عشق با ندې شیدا شو — دعرب په مینه گوره چه عجم مری

«مرزا خان انصاری»

وقبلې د عشق مخ د کل عالم دی — ودریاب تهځی که سیل له هر جا پاځی

«مرزا حنان»

په هرداغ مې دخپل زړههسې باوردی — چهپه مرگ به راته شمع شيپه گور کښې

«عبدالحمید مهمند»

کهشهید نکړی خپل ځان دعشق په توره — نوش به کله جام دحوض کوثر نکړی

«عبدالعظیم رانیزی»

دسیماب پهشان په لاس کښې نیوی نه شم — عشق را هسې گرم هم نرم هم لطیف

آئینې غوندې هر و لی هر نا و لی — شی مهمان ځما په کور کښې بی تکلیف

«شمس الدین کاکړ»

هر یو زړه چهشی پیدا غه پکار نه دی — چه بی مهره شی برات هغه باطل دی

«مرزا حنان»

ته دعشق په لذتو نو خبرنه شوې — په سراب دځان مشغول کړ، له دریابه

هغه چاری چه دعشق په جذبه کېږی — کله کېږی په لښکرو په افواج

«خواجه محمد بنگښ»

جریده د عشق په لار ځم همراه نه لرم بې عشقه

بې رفیقه، بې پناه ځم، پناه نهلرم بې عشقه

هرساعت چه بیلتون یاد کړم په خپردادو فریاد کړم

څکړم چاو ته فریاد کړم، نیکخواه نه لرم بې عشقه

مدام غوښې د زړه خورمه، دزړه وینې بهتل څښمه

څکړم څکړم چرتهځمه، همراه نه لرم بې عشقه

معتقد پدا خپل رزق یم، مبرا پهزړه له فسق یم

واړه سرتر پا یه عشق یم، یو گناه نه لرم بې عشقه

دافقیر دولت نفسی یم، و گناه ته هوسی هم

خدای مې بیامرزه عاصی یم، گناه نهلرم بې عشقه

«دولت لوانی»

عشق دی دا که یوفساد دی نه پوهېږم — په جهان کښې چه دا شورو شرپیداشه

پیابه روغ دعاشقی له رنځه نشی — په هر تن کښې چه د غه اثر پیدا شه

«عبدالرحمان مهمند»

(c) ketabton.com: The Digital Library



باد شاهانو که قصرو نه کړه آباد     ماد عشق عمارتونه کړه آ باد (١)
نوم د کوم یوه بادشاه هسی یادېږی     لکه نوم دی دمجنون او د فرهاد
عشق عاشق لره یوهسی پیر استاددی     چه به نه دی بل دا هسی پیر استا د
دغه واړه کرامت د عاشقی د ی     چه څوك غوث كاندی، څوك قطب څوك اوتاد

« عبدالرحمان مهمند »

د رحمان شراب له عشقه     نه انګور (٢) نه له عنبه

« عبدالرحمان مهمند »

عاشقی ده خدای له اوره پیدا کړی     چه په اور کښې یې وطن وی څه به خوب کا

« عبدالرحمان مهمند »

مدام ناست یم وچ کو کل ستر ګی په نم کښې     عشق راو ښود بحروبر په خپل حرم کښې

« عبدالرحمان مهمند »

دا یو څرنګه ژوندون دی نه پوهېږم     خواب وخیال دی که افسون دی نه پوهېږم
د ښنګ او د بلبل ترمینځ حیران یم     مخ دې اوردی که ګلګون دی نه پوهېږم
عشق په هسی رنګ مقام بانډی قائم کړم     چه وصال دی که بېلتون دی نه پوهېږم
د رحمان څهره یې زیړه زعفرانی کړه     خدای زده عشق دی که طاعون دی نه پوهېږم

« عبدالرحمان مهمند »

خودځر ګندوی لکه صبح په جهان کښې     هر ګېروان چه په یاری کښې دریده شی
بی مطلوبه بی هیڅ فهم په چا نه وی     هر طالب چه په طلب کښې فهمیده شی
یا به قند یا به نبات او یا به شهد وی     هر کلام چه له رحما نه شنیده شی

« عبدالرحمان مهمند »

سر او مال مې شو تالا په تور د عشق     لامې ندی لاړ له سره شور د عشق

« عبدالقادر خټك »

چه د عقل په تدبیر مې عاشقی کړه     پوهېد لی په تد بیر وم د د بیر کج
هیڅ مدد له عقله مه غواړه په عشق کښې     د دغه طبیب دارو لری تا ثیر کج
راهبران دعقل واړه رهزنان د ی     لنز د عشق له لاری مه بیا یه بهر کج

« عبدالحمید مهمند »

په هر ځای کښې ناست ولاړ زانګم له غمه     مینی مخ راته د ځمکی ګهواره کړ

« عبدالحمید مهمند »

ته چه ما له عشقه اړ وی نا صحه !     دا عبث دی پول د سحر په دریا زدی

« شمس الدین کاکړ »

عشق دعقل په تدبیر چلاوه نشی     په دې ناوې نه جوړېږی پسول د چا

« عبدالحمید مهمند »

---

(١) په مجنو نسخو کښې (بنیاد) راغلی دی (٢) دانګور په ځای که (خورما) وای، ښه به وای «خادم»

داجهان دی خدای له عشقه پیدا کړی — د جمله ؤ مخلوقا تو پلار دی دا
تر عشق غوره بل څه کار په دنیا نشته — تر همه کارو نو غوره کار دی دا

« عبدالرحمان مهمند »

بل به هسی سرگردان په جهان نه وی — یا عاشق دی یا آسمان دی یا آسیا
ته چه ژ غوري سرومال په عاشقی کښې — عاشقی دا هسی کله ده و یریا
چه یې کسب عاشقی ده د دلبرو — نظر نه کاندی په کسب د کیمیا

« عبدالرحمان مهمند »

بېدردان دعشق له درده خبر نه شول — براهیم ځکه منت بار دا هل درد یم

« ابراهیم »

هیڅ می نزده محبت که اور دی دا — په اور سوزم په رضا که زور دی دا
چه په تله د سرو مال راڅخه نه ځی — واقعی د تورو ستر گو تور دی دا
چه یې زه له بله غمه په امان کړم — دعشق غم دی که زما غمخور دی دا
چه می ولیدو «حمید» دعشق په کار کښې — لېونی د مجنون کشر و رور دی دا

« عبدالحمید مهمند »

یاد بنکلیو دپا ولیو شرنګها ر دی — یا د عشق د لېونیو د ز نځیر

« عبدالحمید مهمند »

بی رهبره یون دعشق پهلاره گران دی — دلیه بویه چه پیدا کاندی رهبر څوك

« عبدالرحمان مهمند »

خپله مینه یې رهبر پیر کامل دی — عاشقان ځکه طلب دبل پیر نه کا

« مطیع‌الله پیرخیل »

آرام زړه په عشق کښې نشته سرله سره — خوب محال په هغه ځکه چه توده شی

« عبدالله پوپلزی »

چه اثر د مینې نه وی بانديې شوی — هغه زړونه گویا کانې د بېدیا دی

« ملا جمعه »

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزلیات

که خوك یار یه جهان غوانړی یار دی دا   یار دی دا که دجهان سنګار دی دا
خیال دز افویی زما له زړه چا پیر شو   که تر ګنجه چا پیر شوی مار دی دا
دا جهان دی خدای له عشقه پیدا کړی   د جملو ؤ مخلو قا تو پلار دی دا
تر عشق غوره بل څه کار په دنیا نشته   تر همه کا رونو غوره کار دی دا
بل بلبل به د ګل توم اخستی نه ؤ   که خبروی چه ګل نه دی خار دی دا
بیا را تله و دی جهان ته بل وار نشته   بل وار نشته بل وار نشته وار دی دا
د حباب عمر دي وګوری چه څه دی   که څوك شمار کاندی دعمرشماردی دا
د مجنون صورت یه زړه کړه رحمان ګوره   ستا یه عشق کښي هسی خوار زاردی دا
« عبد الرحمن مهمند »

چه یی و لید و ستا حسن بیحساب   له دي قصده تاو پیدا شو د آفتاب
یه آرزو یي دنرګس سترګی څلور شوي   غنچه سره دزړه یه وینو شوه غرقاب
ستایه غم می دواړه سترګي سري ناغي شوي   که خیمی د ی سیاه پوشي سره طناب
که دي زلفي یه مخ پیچ وتاب شوي ښایی   وبښته څه طاقت لری د اور له تاب
در حمان بخت یه هله له خوبه ویښ شی   که سترګي ورته بورته کړي له خواب
« عبدالرحمن مهمند »

که ساقی تلخه باده دریای شور کا   د فلك یه جام یه مست کله مخمور کا
آرا سته وی تل محفل د خنده رو یو   زمانه یه د ګل جام څرنګه نسکور کا
چه یه لاس کښي یی تل چوب لکه شانه وی   بی افسونه یه نیول د تور منګور کا
د لتنګی کړم لکه ګل یه خندا ورکه   که می بل دصبا باد یه خونه اور کا
چه یه سریی سبز آسمان زری دستار زدی   عاقبت یی لکه شمع بیا سر تور کا
لکه ګل کړی ګران بار تر دا منځی   باد دي څه لکه غبار یه کتف سور کا
« کاظم خان شیدا»

که ښکا ره زما خاطر د لاله داغ کا   یه ژړا یه سترګي سري د ګلو باغ کا
د حباب غوندي مي دك یه آه سرد کړ   څوك زما یه ګور یه بل څرنګ چراغ کا
افرو خته یی وی محفل یه شان دشمع   چه سوخته دبل یه کار کښي خپل دماغ کا
د ګردش نوبت یی هیڅ یه ما دا نشی   که ساقی د زمانې ، فلك اياغ کا
زنګ که هر کله «شیدا» دتیغ جوهر خوری   دمګس یه بال یه څرنګ استفراغ کا
« کاظم خان شیدا»

چه می ولیده ابرو یه مخ دیار کج   له تعظیمه ور ته زه شوم یه تلوار کج
کنږي ورو لمی کوږ با نه کنږي یی زلفی   منا سب دی له کنږو سره رفتار کج
مار یه دا سبب مدام کمر قتاری کا   چه یی ولیده دا ستا د زلفو مار کج

هسې ژړا خلې اتر له همنشینه
چه معماري اول خپته کېږه کښېښې دی
ژړبه وا چوی یار دار چار یای به ځا کښ
هېڅ جواب د پیغام نه را ځی دیاره

په سبب د کنړی پښې شي سم بازار کج
بیا ترسره پوری ځی هغه دیوار کج
که یې یو ځله خوك وځکوی مهار کج
بسی زما شوه تورلیمه په انتظار کج
« شمس الدین کاکړ »

خوږ ژوندون راپوري هسې کړ هجران تریخ
نو خطان چه د عاشق له ژړا بد و دی
په وصلت کښې له رقیبه نه خلا صیږم
مې حرام دی په مجلس کښ چه یارنه دی
چه می نوم ستا د هجران په ژبه وا خیست
که فرهاد ته شیرین غم د شیرینی دی

لکه حال وی پر بند یانود زندان تریخ
پرسبزه باندې نا وخته وی باران تریخ
پرموسم د گل اوقات شی دباغبان تریخ
بی له گله وبلبل ته شی بوستان تریخ
لا تر او سه مې په هغه دی دهان تریخ
داستا غم کړ شیرین عمر پرحنان تریخ
« د مرزا حنان »

چه مې یار ولید په سیمه د اغیار گډ
د غه حق د بلبلا نو په جا نب دی
په امید د زلفو و نښتم په دام کښ
ددیدن په گدائی کښې مې ننګه نه شی
د وفا د گلو پانې پکښې نشته
زه رحمان ئې د فردوس له غمه خلاص کړم

له غیرته می لیمه شوه په خو نبار گډ
خدای دنه کا مبتگیر کړ په لاله زار گډ
رو هیلی وم ساده دل په هندو بار گډ
د ر و یږ گریم د بتا نو په با زار گډ
کاشکی نه وی زه ددهر په گلزار گډ
چه په گلی په کوخه شوم د خپل یار گډ
« عبدالرحمن مهمند »

دا تور خط را غی په مخ د گلعذار
سپین رخساریی په تورخط کښې هسې پټ شو
زما نه به بی سپین مخ دا هسی تور کا
هر کارسازنن په خپل کار کښې درمانده دی

که غا لب شوه په کشمیر باندی کفار
لکه پټه چه معنی وی په اشعار
چه غرض اری د بل په کا رو بار
او به کله ودای شی گرخ دخپل رخسار
« شمس الدین کاکړ »

او ښو د فراق دستر گو خواب را خخه یووړ
رنګ په رنګ ژړا کړم لکه نی دیار لغمه
نه مې را برسېره کړ گوهر دعشق له بحره
تل چه یې هوش کاندی سره لاس وخونریزی ته
یوطرف ساقی شو بل طرف شو جام دمیو
وا چولم یار د جدائی په سره دیگ کښې
هېڅ یې نظرونه کړ زما وخاکسارۍ ته
سینه خوله دیار چه په خواست زه شمس الدین غواړم

کور زما دصبر دې سیلاب را خخه یووړ
زړه مې په یوه نفس احباب را خخه یووړ
زیاتې یې لاآرام لکه حباب را خخه یووړ
سرې د هغو ستر گو قصاب را خخه یووړ
عقل یې له میانه په شراب را خخه یووړ
روح یې زما دځان لکه گلاب را خخه یووړ
زړه مې سیا چشمو په شتاب را خخه یووړ
خواست دهرې ورځې دمخ آب را خخه یووړ
« شمس الدین کاکړ »

زما زړه ګوره چا یووړ      په دوه زلفو لیلی یووړ
ځکه د ی شوبی ارامه      چه د زلفو بلا یووړ
چه په خپل قوت غره وم      زړه قوت په تالا یووړ
دا کتاب زما دستر ګو      سیلا بو د ژړا یووړ
څه بازار چه مي د زړه ؤ      ...ن ستاحسن په غلا یووړ
حسن باج ؤ چا ورنکړ      ده جهان په یغما یووړ
ما ویل چه مینه نه کړم      زړه بیوا که شیها یووړ
قراری دزړه مي نشته      بیقرار زلفو ستا یووړ
داتمام عالم ښادی کا      احمد غم دا شنا یووړ
«احمدشاه ابدالی»

ستا د زلفو خیال چه زه افګار ساتم همیش      هسي په سینه کښي ګویا مارساتم همیش
زلفی دي سنبل مخ د ګلاب ستر ګي نرګس دی      زه بانديباغبان یم داګلزار ساتم همیش
داله تلو سي نه چه پرقلب مي پیرزو نه شی      ځکه په ځګر کښي ستا ازار ساتم همیش
خلق زهیر ښزی چه مجلس لره ور دروم      پس له دي به زه نور ځان کنارساتم همیش
عکس درخسارچه دي زما په زړه کښي ګرزی      زه په خپل ځګر کښي سورا نګارساتم همیش
زړه مي ستا له غمه همیشه آه و فغان کا      زه په خپل وجود کښي دابیمار ساتم همیش
ستر ګي مي څلورشی ستاپرخواچه وعده و کړي      زه حنان له غیرو داستالار ساتم همیش
« مرزا حنان »

خطبه مخ د صنم راغی که سپوږمی شوه په هاله کښي      دایی غابن په خوله کښي زیب کاکه ژاله شوه په لاله کښي
هسي رنګ سحروجادو کا په نظر د شهلاستر ګو      نه یي سیال په هند کښي شته دی نه ئاني په بنګاله کښي
لکه ونښلی مرغی په سست دام د سلو لومو      هسي زه یم پرېشانو زلفو کښي پستم په کشاله کښي
دازما له غمه شپی زړه یکښي خیال د یار دلبو      هسي رنګ زیب وزینت کالکه می په شنه پیاله کښي
ماویل عین ګټ ګل دی دغنچي په لمن لښتي      که مي کوت یو ګل اندام وپروت په سبزه دوشاله کښي
شکلی مخ کا ولي ناسته ، په مجلس د رقیبانو      په جوار د سپو کښي نه وی هیڅ ارام په غراله کی
سرتر پایه تبغ د هجر لکه نی سوری سوری کړم      ځکه یم مدام داهسي په فریادو په نا له کښي
که یارغوادي هومره ژاړه خودر ځی عبدالحمیده!      دایه دا چه درموندمه شی په دریاب ئه په ناله کښي
« عبدالحمید مهمند »

زه داهسي دیوا نه او مجنون چا کړم      له رواج او له رسومه بیرون چا کړم
نه پوهېږم چه داهسي چاري څوک کا      لیونی د خپل نګاه په افسون چا کړم
کومي ستر ګي کوم بانړه کومه غمزه ده      دوب شهید غوندي په خاک اوپه خون چا کړم
نوان توفیق چه دفتنو را څخه نه ؤ      په فتني د تورو ستر ګو مفتون چا کړم
رحمان هیڅ له خپله ځانه خبر نه یم      چه دا هسي رنګ زبون اومحزون چا کړم
« عبدالرحمان مهمند»

زه دیدار په دردوغم کښي شاد مان یم      لکه ګل دیر پشانی په وخت خندان یم
ته زما و بیکسی ته نظر مکړه      خدای ساتلی لکه ګنج په بیابان یم
لکه ونه د ځنګل په میوه پوره      په ویرا نه ویرا نی کښي ابا دان یم
یوه ښتنه مي دصورت بی عشقه نه دی      څوکیدار په هر نفس دخپل کار وان یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دو صال مارغه داو بنو دا نه را کره — لکه لعل ودر په غاړه د خوبان یم
د کاملې عقیدې له برکته — دروهی په غاړه ناست شاه جهان یم
روښنائی مې په طلب کښې شوه حاصله — شپه اوورځ لکه آفتاب پهلار روان یم
چه صفت د تو رو زلفو د اشنا کړم — بلی، سر په لو په لار د هندوستان یم
بی مینه مې هیڅ حال د صورت نشته — لکه بې مال ومتاعه تش د کان یم
دهوس بلبل ویسا را با ندې نه کا — دافلاس په کبل بو تی د خزان یم
دلبرانو ته خاك تر تلى لا ندې — د دې نور جهان په سر لکه اسمان یم
چه دیار په دیدن سرو مال شندمه — خلقو واوری زه هغه عبدالرحمان یم
«عبدالرحمان مهمند»

زه دیار په درو غم کښې غرقاب خوښ یم — په داور کښې بیطاقته بېتاب خوښ یم
تر داپوچې گفتگوی چه زه یې اورم — په نغمه په تر انه د رباب خوښ یم
چه دیار دخط وخال نښې پکښې وی — زوند سر په مطالعه د کتاب خوښ یم
د ریا تر ناقبو له عبا د ته — دساقی په میومست او خراب خوښ یم
چه نه علم نه تسبیح نه تلاوت وی — له دې هسې بیداری نه په خواب خوښ یم
دطوبى دونى سوری مې خوښ نه دی — ستا دمخ په لمبو سوی کباب خوښ یم
خاموشی که هر څو لو یه مرتبه ده — زه دیار سره په سوال وجواب خوښ یم
دیار د ہري غمخوری یم عاجز کړی — رحمان ځکه په خوردن دشراب خوښ یم
«عبدالرحمان مهمند»

خوك چه بد راسره کا ورسره ښه یم — هم په دا بنو دبد انو تو ز لپمه یم
لاهغو مې څه اندوه چه په خوی اوردی — په خپل خوی کښې سوند اوزم تراوبه یم
چه وماته وزما عیب پښکښ راوړی — ددی هسی یار له خدا په په غو ښته یم
نور زما دی، نار زما دنو رو څه دی — دیتنگوغوندې مخ خیردځان په سوه یم
په ایرو یې مخ سپیره شي چه نفاق کا — آینې غو ندې مخ سپینه تور په زړه یم
چېرې نه وی چه به بل مخ وته گوری — په هجران کښې خوښ دستر گو په واته یم
له نور چا گله گله عبد القادر کړم — زه خوار کړی خپلو ستر گو یم خپل زړه یم
«عبدالقادر ختك»

مخ دې لکه نمر دې ورته ځیر کتلی نه شم — ځکه یې دمدحې ترعهدې وتلی نه شم
زده یې راغلبیل کړ دهجران په ناو کیو — راز پکښې دیار د محبت ساتلی نه شم
اوس مې په معنو کښې ښه مین دستر گو کسی — کسی به د خلقو په ویل ایستلی نه شم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه یې د زنخ په څاه کښې بند لکه یوسف کړم
بند یې د حواس په پنجره زه عبدالقادر کړم

د خپل یار له مینې هسې دیوانه یم
که بې آهه بې ناڅې بې زغه سوزم
د خال خیال یې ما ضعیف لره کافي دی
چه یې خیال ساتم د سرو لبو په زړه کښې

په جنت نه یم خوښ هر گز په درد یار مې قسم
زړه مې له نا وعده د وصل هر گز و نه لیده
پر وایه گل و په خار نکړم د جنون له فیضه
که مې سرولاړ شې ستا په مینه لا خوشحاله یم زه
توربخت مې و نه لیده هیڅ ستا د کتا کل شب قدر
ستا د گلگون رخساره شرقه زه حنان دا وښو

زه چه مین دیار پر مخ یم نوبهار څه کوم
چه وعده و کړي د هغې ترمیان کړي تېر گلونه
رضا د ځان مې په رضا د خپل اشنا ور کړي
چه مې زړه وړی په منگوله هغه یار دی زما
که د وصال په هوا را شي یکتنها دلبره

سپین رخسار دي وای سپین صبا شو قم
د صبا او د بیگا تر مینځ حیران یم
سبر یندې غوندې قی کړی کوله مې ناست یم
گنجینه شوم ستا د مینې له دولته
چه میرا در سره نه وی قلندر ره!
قلندر په کومه بوزه لاړ شی صوات له
د میرا صاحب له جوره قلندر ره!

مغنی گوتې په ځیر ز دی په بم هم
ستا د عشق د غشی هسې ځای پرهار دی
ستا د زلفو مار چیچلی نه ر غیږی
تا چه مخ ورته ښکاره کړو ابونی شو
هغه راز د محبت چه پټ له تا دی
د خوښۍ پیاله په لاس کښې نن زما ده

بې یې د زلفینو درسی ختلی نسه شم
زړه مې پرواز غواړی ولې الو تلی نه شم
«عبدالقادر ختك»

چه خبر نه په کعبه په بتخانه یم
پر څراغ د مخ یې هغه پروانه یم
د مینې په دود قانع په لږ دانه یم
دا په دا مدام د لعلو خزانه یم
« مرزا حنان »

خوښ په لذت یم د خوارۍ په اعتبار مې قسم
په ناامیدگۍ د توري شپې د انتظار مې قسم
په سینه صافه آئینه د نو بهار مې قسم
په تېره تېغ د استاد جور جوهردار مې قسم
په تورو مینگو ستا د زلفو په هر تار مې قسم
گلان کړم هره گړۍ په لاله زار مې قسم
« مرزا حنان »

تماشه بې دیار له مخه د گلزار څه کوم
بې له وصاله ئې د خوابې خالي اقرار څه کوم
دا که مې قول د یار په لاس دی خپل اختیار څه کوم
نور حسن داره بې له ده د قندهار څه کوم
نور منتونه زه جمعه به د ربار څه کوم
« جمعه بارکزی »

تور کتا کل دې وای تور شیه د تم
نه پوهېږم چه عمر و کړم په کم
د هجران لاس مې و کاږی زړو بم
اژ دهار را باندې گرزی دمبدم
ته چه صوات لره ورځې عذر دی کم
چه میرایی همراه نه وی هوس کم
دا یو لاړو، السلام علیکم
« قلندر »

هم ساقی شته هم بهار و صنم هم
چه ریښه پرې ایښوداى نشی مرهم هم
په ستا نو په زیار تو نو په دم هم
پاس د غرو نو په سر گرزی په سم هم
زړه خبر ور ځنې نشو قلم هم
درد زحمت را څخه و تښتېده غم هم

به لذت دې دسروشرنبو کوثر هیڅ کړ
د یوه لاس نغاره دا سې آواز کا
که ناستي دیار کوي به خاورو مو مې

د شبنم دانه که تخم شي د ګلو
چه بې نشه لکه ګل ښه رخسارونه
حال دسوي طالع څه بیان کړم چاته
معطل به عارضه د شام غریب دی
داسمان به شان یې تیز دفتنو تیغ کړ

بسرلی مې دخزان به تاتار تېر شو
اوس که ځان وهم که خاورې په سر اړونم
لا مې غټ‌ور ته په ځیر کتلی نه وو
لکه ټیر پری پیکر هم پری رو وو
یوه ورځ به دا غمز و شي عایغا نه

بې له یاره راښکاره ژوندون ذبون شو
چه دعشق په مکتب داغ د داستان اوست
دقلم به دود به چا که سینه ثقی کړم
دحسرت ګوتې به غاښ کړي طبیبانو

سور پېزوان د به سروشو نه وهسې ژبې کا
دسرو ټیک دشهزاده په جبین پروت دی
دواړه لیچې دي وښکلي مصرۍ نوري
ستا له غمه به ځان زړه در حمان سوزي

پارسائي یې د پارسا له لاسه یووړه
چه مې کړې وه توبه له مې خوارۍ
معجزه چه د احیاده په دوه لب بې
دلبرانو چه دعوی د دلبری کړه
را ته پاتې دا یوه مسلماني وه
ماوې زه به دعشق راز لرم په زړه کښې
چه دزړه صبر دیار له سخه غواړم
که دنورو هوښیاري په عشق کښې بس وه دی

د حیات او به لا هم د زمزم هم
دا افسر کلا به ستا نه دی دم هم
باغ بهار د سکندر دی ارم هم
« سکندر خان خټک »

زړه به سور په دیدن نشي د بلبلو
څوک به څه کا توري زلفي دسنبلو
لکه نمر زما جبین دی د داغلو
که مې زړه په حلقه بندشو د کاکلو
صبح وشام ګرزي ښکاره په سرو منګلو
« کاظم خان شیدا »

مالا ګل بوی کړی نه ؤ بهار تېر شو
په هیڅ رنګ په پېر ته نه رازي وار تېر شو
لکه برق رخشنده په تلوار تېر شو
هم هغه رنګه تېز روېږي وار تېر شو
چه فلاني هم لکه ګردو غبار تېر شو
« علیخان خټک »

اشتیاق مې دزړه مرګ وته افزون شو
هک حیران زاته فرهاد دویم مجنون شو
دمرجان په طور وینې مې اړ ون شو
له قانون اوله شفي رنځ بېرون شو
« محمد »

لکه جیم په قلم ښکلي کاتبانو
شینکي خال دي محاسل په بند یوانو
در پوهېږم سر به پرېکړي دخوارانو
لکه شمعه په زیارت د شهیدانو
« عبدالرحمان مهمند »

دانائي ئې د دانا له لاسه یووړه
په چشمانو یې زما له لاسه یووړه
لاس په لاس دمسیحا له لاسه یووړه
دا دعوی یې دهرچا له لاسه یووړه
دا مې هم هغه ترسا له لاسه یووړه
دا خبره مې ژړا له لاسه یووړه
محبت مې دا دعا له لاسه یووړه
دخوشحال یې لا په خوا له لاسه یووړه
« خوشحال خټک »

ستا د زړه سختي مې سر تر پايه وليد نه    سنګ به سينه دوړ کړی ستا له هسې سخته دله
نور ه دنيا نشته چه څه وه را شخه خلقه    وار په وار مې واخه په دلبرو و بند له
يار مې هغه وخت وي چه په شيشه په سره تاست وو    شمعې به ژړا کړه صراحي به خند پد له
ګل چه شګفته شي عندليب باندې ناري کا    نشته يو ه ښکلی چه يې و بو لم بد له
تل ګونه و هلی هر زمان ساده اهو نه    ما چه عاشقي کړه خود په ما به دا کيدله
سري لمبي بي بلي دخوشحال ختك په زړه کړي    سور خت يې اغوستي په دا لاري تېر بدله
«خوشحال ختك»

مست يم مې پرست يم رندي کړمه کړمه کړمه    واوره محتسبه ! باده خورمه خورمه خورمه !
نور شراب مې واخه تور عالم وته بخښلي    لام و ي مې مجادلي يې مرمه مرمه مرمه!
موږ به ځني نه شم زه د ميو مستسقي يم    تل که هسې د کې پيالي چښمه چښمه چښمه !
لار د محبت زه تل به روغ سلامت نه وم    زه چه په دا هسې لاري تلمه تلمه تلمه!
څه وايي وماته حال دڅوک په هجران کښي    نور خبر دار نه يم په زړه سومه سومه سومه !
خلق راته وايي رنګ دې بيا زيړ شو عاشق شوي    هيڅ منکري نکړم خلقه شومه شومه شومه !
دور د عاشق دادی چه په عشق کښي ملامت وي    ځکه زه خوشحال ملامت وړمه وړمه وشړمه !
«خوشحال ختك»

توره چه تېر يسږي خو ګذاره اره کنه !    زلفي چه ول ول شي خو خپل ياره لره کنه !
ولي راته وايي چه په ښکلو نظر مکړه    ستر ګي چه پيدا دي خو ديدار لره کنه
شيخ دې نو نسخ روزه کا زه به د کې پيالي اخلم    هر سړی پيدا دی خپل خپل کار لره کنه!
نا وي چه زما د خولې بوسه لکه دا روده    غوادم دا دارو د زړه پرهار لره کنه !
ويني مې د زړه خوري مګر نور څه لره نه دي    زړه زما پيدا دی تا خونخواره لره کنه !
څه ژړا فرياد کړي دشپي د تورو زلفو    نور تلي پيخپله دي ښا مار لره کنه !
خو به ستا د مخه د ګياه غوندي خر کندشي    ګل د لاله را وړه خپل رخسار لره کنه !
مې شته چنګ و نی شته د خپل يار سره خوشحاله؟    خپل باغ په لاس کښي ځه ګلزار لره کنه!
«خوشحال ختك»

لکه مخ زما د يار دی نمر خوهسې وی کنه!    لکه زه په عشق کښي زبريم زبر خوهسې وی کنه!
د عالم د بري خبري اور به اوز توري لښکر يي    زړه مې نه خوځي له ځايه غر خوهسې وی کنه!
بي د عشق له شور و شره چه هر ګز زما له سره    نه ځي نور څه هر څه درومي سر خوهسې وی کنه!
چه يې ريم عمل لاکا چه يې ورك کړی ځان پيد کا    ورځ د شپه دا هسې کړ کړم کړ خوهسې وی کنه !
تاوي درومه او مې زبر کړه بل سبق له زړه پر کړه    تل مې نه يې به خاطر کښې زبر خوهسې وی کنه!
وهغه ته مې سر کوزدي چه معلوم ورته رموز دي    په خبره نه پوهيږي خر خو هسې وي کنه !
چه آزاد مري ور درومي خپل مراد ور ځني مومي    په هيڅا هدی تړلی ور خو هسې وی کنه !
په يوه زمان ته يار ه ورشي راشي خو ګذاره    د خوشحال خاطر تېر بردی پرخو هسې وی کنه!
«خوشحال ختك»

د وفا خبر پیدا ران دی بل خوا دروغي
دا متاع د زمانې په دکان نشته

مګر ځان وسپاری خدای ته به امان شي
ګینه بل خوا ته د هیچا امان نشته

هغه یار به زه و ګرمي خواته غوادم
چه یې هیچیر یې منزل او مکان نشته

دلبران که هر څو ډېر دی په جهان کښې
زما یار غوندې د نبر په جهان نشته

چه هم قد لري هم زلفې هم سرې شونډې
دغه هسې رنګ آفتاب په آسمان نشته

عشق عاشق لره یو هسې ګلستان دی
چه وباغ و ته یې لار د خزان نشته

که مجنون غوندې په عشق کښې څوك صادق شي
د لیلی په دروازه کښې دربان نشته

دا نایان به د رحمان په قال پوهېږي
دا ته کار د هر نا اهل و نادان نشته
«عبدالرحمان مهمند»

ستا به مخ کښې چه حساب د جمال نشته
څکه ما څخه د صبر مجال نشته

ته د سرو د مال وېره په ما مکړه
وېره ما څخه د سر او د مال نشته

روښنائي مې د چشمانو ستا دیدن دی
په دا کور کښې بل چراغ او مشال نشته

په جو یبار زما د سترګو سروته یې
په دا نهر باندې بل څه نهال نشته

مخ دې بې له خط و خاله هسې زیب کا
چه یې هیڅ حاجت په خط وپه خال نشته

ستا په یادو کښې رحمان هسې مشغول دی
چه په زړه کښې یې نور هیڅ غم و خیال نشته
«عبدالرحمان مهمند»

ګنج وعقل زار شه د عاشق د خاځکي اوښي
نه خر وار د عقل شه د عشق یوه دانه

تیغ د یار له لاسه په مري د عاشقانو
هسې لذت کا لکه د میو پیمانه

خدای لره به ورسم په سودا د یار له مخه
بل مقصود مې نشته په کعبه په بتخانه

څه که زاهد زهد کا د یو جنت د پاره
سر بند لې نه شي په ور بل د جانانه

ګوره د منصور هسې به دار نه شي رحمانه
مکړه دا د عشق خبرې مې ستا رند انه
«عبدالرحمن مهمند»

په ګلونو اواز ورو کړه بلبله!
پرېښېږي ستا د شوره له غلغله

عقل و هوښ عزیز تر هر څه بندل نه شي
ته یو څه رنګه ډېر ګران یې دملو جله!

خدای دې ه کاچېرې چوخ بودې په بېهوشي
قدم ورو ږده د را پیاو په ګل ګله!

ومطرب ته مینا وایی وایه وایه!
دا معنائي پیدا کېږي له قلقله!

صدقه یې هم تر پسل عبدالقادر شه
څه قدرت لري چه وایې اه دل دله!
«عبدالقادر خټك»

و ینځه که اصیله وي که توره وی که سپینه
کښېلې شی له حوروچه پرې ورشي د زړه مینه

شهد که څه نبات دی که شته شیریني نورې
مینه که ئې ګوري چه تر هر څه ده شیرینه

خیال یې د زلفینو لکه مار ور باندې پروت دی
نه پرېږدي و زړه ته بله مینه چه ورځینه

سل زخمه که وخوري توی به یو ځاځکي پرې نوځي
هسې رنګه وچه د صورت کا مینه وینه

خرب به یې بدل په بیداري خوښی پرې وپرشي
هر چه یې په زړه کښې د دلبرو مینه وینه

یار په هوا دندی که د زړه مینه پیدا کړي!
مینه هسې خیز دی چه نه زدې لري کوینه

څه عبدالقادره! په خوله مینه مینه وایې
خودې لاو چاره نده مینه نده مینه
«عبدالقادر خټك»

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه له خپله اشنا نه لری گډه ... له نور چا به په نور څه لری گله
انگوری ترخه شراب ور اره بویه ... میخواران له گبینه لری گله
چه بی تا یې غروم د بل و مخ ته ... به دا خوی له ما نیمه لری گډه
هیڅ ایستادي یکښې ونکړتري بربوت ... له ناو که یې مي زړه لری گله
چه چارو مي ستا د در د خاورونکړه ... ډېر زما له ما با نه لری گله
بد و بدو ته ښکاریږی ښه و ښه ته ... ښه له بد و بد له ښه لری گله
ښه که سرؤ تری قربان عبدالقادر کړ ... بیا تري ولې یار له ده لری گله

«عبدالقادر ختك»

ننداره لره راځی چه پسی ځو نه ... په اختر به ځلمی جونه کا سیلونه
ته به وایی مخ یې گل د پیغمبر شی ... چه یې د په مخ ووهی خالونه
چه په سیل د بهار د گلو گرځی ... ځلمی گل به پگړی زدی په اوربل جونه
ځینی دواړه زلفي ډکی کا له گلو ... خوك په غاړه د گلونو کا هارونه
زیړ او سره نمری اغوستی گلرخانو ... و ایی سبز و نبي و نیول گلونه
چه گلو نه نولوی سندري وایی ... شرمنده کا د بلبلو اوازونه
درست صحرا په خوشبوئی سره خوشبوی کا ... په هغه ځمکه چه کیږدی قدمونه
چه له سیله را روانه شی د کورته ... گل لمن بلبل یې نیسی آستینونه
چه له هسې ننداره نه ځان وساتي ... شیخه ورك دي شه بیو خته خلوتونه
له لیدل د ښایسته ؤ یکښې نه وی ... چا به څه کړه اته واړه جنتونه
که اوازدی که لیده د روح خوراك دی ... نفساني دي باندي نکا غرضونه
تېر شو وار عبدالقادر ره ! را به نشی ... که زړا کړي که فریاد کړی که آهونه

«عبدالقادر ختك»

څه افسون دي په ما وکړ پریزاده ... چه یودم نه یم خالی د تا له یاده
زړه مي ډك لکه سیند دی شعله بویه ... که بږ زړه په فراد وکړم څو فریاده
بهانه ددي غرض مگر شانه کړي ... ته یې لاس وروړي و زلفو ته شمشاده
چه اواز دي د تېشي په کهسار نشته ... د شیریني په طلب لاړي فرهاده
په اسباب کښې مي زړه بند په اسباب ندی ... د چمن په قید سرو ده آزاده
مهیا ورته قفس د ښاخ د گلو کړه ... که څه رحم په بلبل کوي صیاده
چه په هر منزل کښې سرخوری لکه شمع ... د هغه لاري څه نفع ده له زاده
په سختی کله امساك د دولت کیږی ... جوهر نه ځی په هیڅ وخت له فولاده
همیشه یې پیچ و تاب لکه جوهر وی ... چه شیدا راغی تر دا حیرت آباده

«کاظم خان شیدا»

زه چه مست په لب دیاریم هیڅ حاجت دشراب نشته ... اور دعشق مي زړه کباب کړ و هیڅ حاجت د کباب نشته
تمام تن مي وچ لرگی شو ، رگ مي تار در باندي پربوت ... زیروبم اواز تري خیژی هیڅ حاجت درباب نشته
پربرهار ننگ یاشی کړی چه پرسش کړی له ما نه ... حال مي خودورته معلوم دی هیڅ حاجت د جواب نشته
لکه مرغ نیم بسمل یم تپش کړم په ځمکه باندي ... ځان مي ور کړ ستا په عشق کښې هیڅ حاجت دقصاب نشته

«خوشحال شهید»

(c) ketabton.com: The Digital Library



سحر دا آوازمی غوږ پرست له بلبله
ستا خندا په ژړا کښې پسلم گله !

ترمستی یې لا لذت د خمار ډیر دی          ستا د ستر گو مستی بده ده ترمله
ښا پسته د زمانې د نیا پرست وی          په گوښه کښې یې پلمه کښېنږده بې پلمه
په چغلی مې ستا ؛ په یار مینه زیاتیږی          څو دې زړه هومره چغلی کوه چغله !
ساقي مې چه را کوی یې په قهقه خانده          زده کړه دا د صراحی له قلقله
د لیدونکو په نظر کښې تفاوت وی          او که نه وی خبر جدا نه وی له کله
په پریشانو اندیښنو خاطر پریشان شی          جمعیت مومی خاطر له تو کله !
چه ستا مخ ورته حاضر وی گل به گوری          دغه ستر گی دي دخدای نکابی گله
د مجلس روښنائی ته یې ته دی استی یې          کوم نقصان دی که صبا کړه دیوه گله
دا دنیا په مثال پل د آخرت دی
تیر شه زر عبدالقادره لدی پله

«عبدالقادر ختک»

سرو که لیده شی د چمن تازه تازه          ستاحسن تری وینم ماه من تازه تازه
زلفې دی سنبل دی یا ښامار دی په چمن نو          یا دوایه نافې دی دختن تازه تازه
گوره ستا له مینې زړه یې ډك دی وینې وینې          رحم کړه شیرینې په کوهکن تازه تازه
ساز دی ښه مجلس دی ښه یاران دی سره جمع          وایه ای فاضله ! هر سخن تازه تازه

«فاضل»

۞ ۞ ۞

زه اول هم دیوانه وم ، دیوانه یم لا تراوسه          له دلداره همخانه وم ، همخانه یم لا تراوسه
له طفلی نه عاشق و شوم ، غم طلب او بلا کش وم          د دلبر د مخ په شمع ، پروانه یم لا تراوسه
زه هلك هم افسانه وم ، له عالمه بیگانه وم          تر خلو ښتو کالو تیر شوم بیگانه یم لا تراوسه
چه عاشق په جانانه شوم ، له اغیارو کرانه شوم          تور و ښته مې د سر سپین شو ، کرانه یم لا تراوسه
چه داخل دیار په صف شوم ، د تهمت د تیر هدف شوم          عام وخاص مې وائده ولی نښانه یم لا تراوسه
تل راضی یې په قضاوم ، هم صابر یې په بلاوم          عذر نلرم له حکمه ، بی بهانه یم لا تراوسه
د شیرین دلبر له لاسه ، ما شراب د عشق بی قیاسه          څو بې حده مې ډیر و څښه ، فرزانه یم لا تراوسه
دا فقیر دولت یو مست یم ، د اشنا په مینه هست یم
په ازل مې شراب څښلی دیوانه یم لا تراوسه

«دولت لوانی»

۞ ۞ ۞

ناست یم ستاله لاسه زړه یاره سینه افگاره          ته له ما نه څه غواړې فلکه ستمگاره
ته یو موش گیرك بی لایق نه یې د گلو نو          ولی بلبلان شړې کمبخته ! له گلزاره !
یار دی له ما بیل کړ تا خو هیڅ ښادی و نکړه          وایه څه دې وگټل رقیبه دل آزاره !
یو دی د هجران په تنا ره کښې لو غږن کړم          بل دې د رقیب سینه رایخه کړه دلداره !

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر یو گل یی خار شی به لمن زما څو خپړی
سیر د گلو و چه کوم بي له خپل یاره
نه چنه د وفا طمع کوي له سرو قنده
سروبه هیچا لید اې نه وی میوه داره
غوڅ وي قلندر په تیغ د هجر کړی نیا زه!
مه کوه میرا! نوره جفا درب دیاره!
« قلندر »

څوك چه ستا په مینه کښې وما ته کا پندونه
واده بیفائدی زدی ابا سینه لره بندونه
زده مي که نادان په لاس کښیومات لکه ښیښه شو
نه شی څوك ایښو دای وښیښوته پیوندونه
او ښې دبا نوو په سر چه را شی نه در ښږی
ندی چا بند کړی په گیا سره سیندونه
نه شی څوك ساتلی سره بڅری په گریوان کښې
ومي سول پاه سره د صبر در مندونه
نه دی چا موندلی ښاپیری په دوشالو کښې
وا خله قلندره! په میرا پسې کندونه
« قلندر »

چه صبا یی په هر گل باندي طواف کا
زه هوس د هغه باغ لرم له شوقه
د پتنگ په دود د ځان په سوورضا یم
ځکه مینه پر څراغ لرم له شوقه
همیشه د گل په بوی زه شمس الدین ځم
په خپل یار پسی سراغ لرم له شوقه
میل نه کا راته باز د یار د سترگو
تل په لاس کښېپردی زاغ لرمله شوقه
«شمس الدین کاکړ»

څوښي له وصله نه شوم د هجران له غمه زه
نه کړم به گل مینه دخزان له غمه زه
خلق را ته وایی چه زحمت دي لاد وادی
لا نه چه بی خلاص شوم د درمان له غمه زه
سر دي په جها نه کښې د همه وا ډو ښا دیو
نه دي شم بیغمه د جانان له غمه زه
لوس به اه دي ورو سته دخپل یارپه غم اخته شم
ډیر به زده زهیر شوم دجهان له غمه زه
غم د ي له ازله په نصیب د عاشقانو
ځکه ته خلا صیږم یو زمان له غمه زه
ما عبدا لقادر چه دا غزل د فراق و وي
رشك به کړم په اوښو دباران له غمه زه
« عبد القادر خټك »

یو غوا ډم له یاره ښه دیدن تازه تازه
بل در قیبا نو ځا نکندن تازه تازه
ځکه بلبلان چغار کوی په تازه گلو
نه به مدام گل وی نه چمن تازه تازه
یو زمان له مدحې د د لبرو مه د ر ښزه
تل دیارله وصفه کړه سخن تازه تازه
زړه چه د رقیب زما به بد سره ښه کیږی
مکړه په ازار زما د ښمن تازه تازه
آه کوی له د له په فریاد له زیر گلمه
وا وره له بلبله ښه گفتن تازه تازه
بل فکر مي نه کیږی بی ستا له گفتگو یه
شیر شکري وایه له دهن تازه تازه
مه کړه په جفا سره ازار د بلبلانو
ښه خوبه وفا کړه انجمن تازه تازه
سترگی مي خیره شوی چه ولاړ یې زه دي گورم
وکړه په دا لوری آمدن تازه تازه
زړه د یونس چوی ستا د هجر له سختی
ښه خوبه خیل مهر کړه غمجن تازه تازه
« یونس »

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه مې ولیدل په سترګو واړه ښکلي
چه تر واړو لا تېری کا جمال ستا دی

د دنیا په مخ به ډېر وي ښه مخونه
چه تر هر څه ډېر لذت کا وصال ستا دی

د واړه زلفې د حلقه کړې لکه لومې
چه دانه دې په دا لومه کښې خال ستا دی

دواړه ښې ګلګونې سرې په دماغ درومې
ګوره بیا څومره وګړي پایمال ستا دی

ته کشتن د غمزې کړه مه ودرېږه
مقتولانو قبول کړی وبال ستا دی

که همه د خلقو ښکلي سره ټول شي
خسته زړه مې په ټولو کښې لېوال ستا دی

چه دې څوک په کوڅه تېر شي نور مېن شي
چه تمام له عشقه روغ دی دېوال ستا دی

که مثال د صورت غواړې ګوره میاشت ته
چه پوره د دوه هفتو شي مثال ستا دی

چه صبا بېګا یې لوند لرم په اوښو
یادګاری را څخه پاتې رومال ستا دی

څو ریبار در سره نه بیایې دواړه اندې
چه په چم به یې تېرېږې محال ستا دی

که په قهر یې شړې په لطف یې بولې
چه یې نه پرېږدې په هېڅ کښې خوشحال ستا دی

« خوشحال ختک »

مخ د یار شمس و قمر درې واړه یو دی
قد یې سرو صنوبر درې واړه یو دی

حاجت نه لرم په شهد و په شکرو
لب د یار شهد و شکر درې واړه یو دی

که بې یاره په بستر د پاسه پروت یم
نار و خار و دا بستر درې واړه یو دی

چه و در او و دیوار ته یې نظر کړم
باغ بوستان او دغه در درې واړه یو دی

چه غبار یې د کوڅې را باندې راشي
دا غبار مشك و عنبر درې واړه یو دی

خدای دې یار له هجره هیڅوك خبر مکړه
تاخت و قتل و دا خبر درې واړه یو دی

هغه دم چه سړی د روحې له جهانه
توري خاورې سیم و زر درې واړه یو دی

قلندر که په رښتیا قلندري کا
خان سلطان او قلندر درې واړه یو دی

په دکان د نابینا ؤ جوهریانو
خرمهرې لعل و ګوهر درې واړه یو دی

دا پېران دې عار زما له عشقه نکا
پاك عاشق پیر و پدر درې واړه یو دی

په سبب د ظالمانو حاکمانو
ګور او کور و پېښور درې واړه یو دی

غزا و شوه که خان ستانۍ ورحمان ته
بې هنر و ګاو خر درې واړه یو دی

« عبدالرحمن مهمند »

تور ګېسو د په چنډ نې باندې ښامار دی
توري زلفې دې سنبل د نوبهار دی

توري سترګې دې هوسۍ دې د خطا شوي
چه وخرو ته پرتې په سنبل زار دی

توري وروځې دې لېندې باڼه دې غشي
عاشقان یې زخمي شوي په ګذار دی

مصفا تندی دې ښه دی تر بلوره
بېدلان یې په سرونو خریدار دی

دغه خال چه دې دوه رو څو په پیوند دی
د خطا د ملك اصلي نافې ترې جار دی

سپینه پوزه دې غوټې د زنبق ده
چه چاپېر ترې نور ګلونه د ګلزار دی

ښنا ګوټ د نسترن دې غوړېدلي
د چنبې تر ګلو به د واړه رخسار دی

سپینه خوله که دې غنچې سره نسبت کړم
د غنچې غوټې کله شکر بار دی

دواړه سرې شونډې دې ښې دی د سرو لعلو
سپین غاښونه بې بها در شهوار دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښا یسته ز نه د سیب د سمر قند دی — چه خوا ږه یی تر ښا تو نه بسیار دی
عمر ا حی د سپینو ر رو سپینه غا ړه — سیم اسا اوږي دي هم په د غه شمار دی
وا ړ ه تن د ي د حلب تر ښیښی صا ف دی — چه را زونه دد رون تري نمو دا ر دی
سپینی لیچی د ي و ښکلی مصر ی تو ری — چه خو نونه یی په غا ړه سل هز ار دی
د یا قو تو نیګنی د ي سر ه نو کو نه — ځای په ځای دي په اوږوباندي قرار دی
چه مي ستا د تیو ښه ننند ا ر ه و کړ ه — هغه کلک په لبذت ډك خوازه انار دی
د نا مه غو ټی د ي ګل ده د ګلا بو — کینږ اوښی د ګلو پانې پري انبار دی
د نا مه ن ښکته د م و هلی نه شم — هم هغو زده چه خبر په دا اسرا ر دی
د پنډ یو تر صفت د ي نه ر سیږم — ولې سپیني په سپینو ا لی تر چنار دی
سپیني پښې د ي د ز نبق د ګلو پا نې — دیښو ګو تې دي ګلو نه دا نار دی
تما م قد د ي په مثا ل د ښیر و نه — در یده یی سم په مثل د چینا ر دی
سر تر پا یه ننندا ره بی ځان دي چوړ کړ — ترتا جار واړه را نمی د هند و با ر دی
ستا مثال په هند و بار کښې را ښکاره شو — د او بیا دا نه یو ه مټر خر و ا ر دی
نه خو ډ یر مهر کوی عمر د ي ډیر ښه — دخوشحال خټك دي تش لیدل په کاردی

« خوشحال خټك »

عا شقی را با ندي سو ری کړ ي مري — هیڅ مي نه د رو می بې با ره تر مري
څه ا ثر به یی د عقل و ی په سر کښې — د هغو په سر چه کیښني ښا پیری
د مژګا نو په پنجه مي ز ړ ه و کا ږی — خدای دتر کو مستې ستر ګې کړي مرزي
علو فه به یی بې غمه نو ر څه نه وی — هر چه کا ندي دخو بانو چا کری
لېږ د صبر سبق ما لر ه هم را کړ ی — که په عشق کښې څوك دغه طاقت لری
خدا یه څه دي د کو ټوال په لاس کښې ور کړم — شپه او ورځ مي غږ وی لکه تو ری
په عمو ر ت مي نر ی تبه شو ه ولا ړ ه — تاچه دوا ړه ستر ګې تو ري کړې نری
د و صا ل د لا لان کوم طرف ته غوا ړم — چه بهند ی شوم د هجر ان په کچر ی
نو ر د شمعی په فا نو س کښه پتېږ ی — تاچه وا غو ستې دخیال جا می نری
ز ه ر حما ن په ز ړ ه نری کړم هغه جو نو — چه یی ملاوي د و ښته په دو د نری

« عبد ا لرحمان مهمند »

د ا چه مست په میو را غی یار د چا دی — بیابه تاخت کا په کوم غولی وار دچا دی
چه ز ړ ه سوی یی د حر م په صید هم نشی — دا بید ر د ه بیصر فې ګز ار دچا دی
ما خو نه د ی څوك بیو جهی از ار کړ ی — د ا چه ما از ار وی از ا ر د چا دی
چه یی د ر ست جهان د مخ په رنګا ز یست کا — دا آفتاب غونندې روښان رخسار دچادی
چه بلبل یی ر سپد ی تر ګلو نه شی — د ا د ننه په حرم ګلز ار د چا دی
چه هیڅ ترس په زړه کښې نه اری ر حما نه — دا نا ترس اوبی پر وا ګزار دچا دی

« عبدالرحمان مهمند »

سپین ر خسار او مشکین خا ل یی سر خم دی — یا محمود او ایاز نا ست سره همدم دی
که دي مخ په ز لفو پټ دی با ك یی نشته — د حیات اوبه هم پټې په تور تم دی
ستا له زلفو له ر خسا ره له سرو شو نډ و — پیدا شوی شام ، شفق او صبحدم دی
په د هن کښې د ي غا ښو نه تجلی کا — یا غو ټی چه په غنچه کښې د شبنم دی

نه چه اوس زما زړه غوښ ستا په غمزو دی
چاره، غوښې له قدیم سره په غم دی

بې ژړا چا ته نه ګوري سیاچشمه
د نرګسو غوږ یې ده د جوی په نم دی

راحت ندی چا موندلی بې زحمته
ستا جفا او وفا دواړه منقسم دی

ستا د حسن د تعریف له بر کښته
د رحمان د شعر کوکې په عالم دی

«عبدالرحمان مهمند»

❀ ❀ ❀

زه که پرنګ بدیم ښکلیه! اعارولی له ما کړې
چارې د قسمت دی، زه یې زشت ته یې زیبا کړې

یو ځله بیا راشه په ګلونو ګذر وکړه!
ای د صبا باده! چه بیا نغښتې غنچې واکړې

ګل دې په هجران کښې سل ټوټې خپله سینه کړه
سرې دې له فراقه لاله سترګې ږړا کړې

ولی له شیدا بلبلی مخ جار باسی ګله!
ته په دا خوبی هم دده ناړو رسوا کړې

لاخوشبوبی ورکا چه بی واځوی واورته
زه به ثنا زیاته کړم که ته زیاته جفا کړې

ته د حسن نمر یې دانور ښکلې لکه ستوری
ګل به کالعدم شی که ښکاره خپله لقا کړې

«عبدالقادر خټک»

خوښ یم تر ابده د ساقي له میخانې
خورم شراب د مینې د کې د کې پیمانې

قدر د بلبل چه پاتی نه شو په ګلزار کښې
جوړې شوې په باغ کښې د زاغانو اشیانې

سپینو سترګو د راوښو واړل په خاورو
نه یې وساتلې په پښه کښې د ر دانې

هر ساعت چه ډمه کا سنګار د یار د زلفو
وخېژی تر زړه زما غا ښونه د شانې

هیڅ حاجت مې نشی په شیخانو ملایانو
ورکې شه پیخایه د پښتون د پرې ستانې

تل مې لیونی عوندی څوک نه پرهېزدی وکورته
ځای رالره نشته یې د یار له استانې

هرچه په ازل وی هغه دی زما په برخه
څه لره نور زه کړم شکایت د زمانې

مرګ د شمس الدین چه د دلبرد یاده نه ځی
شپه ورځ بې ترلی دی په ګوتو نښانې

«شمس الدین کاکړ»

ما په خوب کښې ځان ملنګ لیدلی دی
د زړه رخت مې په عشق رنګ لیدلی دی

اوس له ویرې په کوڅه ورتلی نه شم
ما د مستو سترګو جنګ لیدلی دی

غم و ښکلې توري راغی که مې پرهېزدی
ما خلاصی د ستا ترڅنګ لیدلی دی

ما بېګا شپه د یار مخ لید لکه شمعه
دا خیل ځان مې پرې پتنګ لیدلی دی

دا مطیع په سحر ځکه ځکه ژاړی
چه خپل حال یې ډېر بد رنګ لیدلی دی

«مطیع الله پیرخیل»

مینه د خوبانو نام و ننګ لري کوی
تش دیدن د ښکلیو د زړه زنګ لري کوی

تل آرزو لرم چه به یې حال و یارته وایم
ګله سپی غماز له یاره څنګ لري کوی

خوښ د معشوقو هغه عاشق وی چه بې ننګ دی
ځکه هر ملنګ له ځانه ننګ لري کوی

خدای په دواړو کونو هغه پوند په نور لیمه کړه
څوک چه ستا له شمعی ما پتنګ لري کوی

یارمې به شړل ندی راضی زه پرې پوهېږم
سپی غماز له دره ما په جنګ لري کوی

بس کړه ای ناصحه! تورځیګر راباندې مه خوره
ګله مست بنګی له ځانه بنګ لري کوی

بل شغل مې نشته په زړه بې دیار له مخه
عشق پوهسې رنګ دی چه بل رنګ لري کوی

«مطیع الله پیرخیل»

زړه مې د دلبرو تورو زلفو ته هوس کا
گوره دا يه ځان خونی تورمار لره وردرومی
مرم د خدای د یاره په شتاب شتاب رادرومه
چېری هم طبیب ورو ورو بیمار لره وردرومی
ځم د یار په اوری په هواهوس خوښی کړم
ذوق کاندې بلبلې چه گلذار لره وردرومی
هر څوك چه طلب کا پته نده دا خبره
هر کله مطلوب و طلبگار لره وردرومی
«خوشحال ختك»

خوږې شونډې دې شکرې ندی څه دی
ښکلی غاښ دې مرغلرې ندی څه دی
چه تسخیر په تورو سترگو کا د زړونو
سیه چشمې سحر گرې ندی څه دی
چه د زلفو په زنځیر یی زمری بند کړل
هوسی سترگی زورورې ندی څه دی
چه د باغ سرو یی پسته تر قامت ده
ښېښتنې په قامت سترې ندی څه دی
وایی نورې مینې لرې کړه د زړه نه
ستا د مخ په دور لرې ندی څه دی
«خوشحال ختك»

یار په ستمونو د خپل یار نه زهیر ېږی
سترگې د ښو په درانه بارنه زهیر ېږی
څو کبر لو یی ده و خوبانو خدای ور کړی
هیچېرې یی زړه په عاشق خوارنه زهیر ېږی
څه شو که ترې سلهځلهځار ېږی په ساعت کښې
گل د بلبلانو په چغار نه زهیر ېږی
ښهرنگ یی بدرنگ کا چه پری واوزی ېوخته
زړه د خزان گوره په بهار نه زهیر ېږی
گرانې دی هر گوره نوې چارې نو آموزته
هرچه مدام مې خوری په خمارنه زهیر ېږی
زردی چه خبر به شی د سترو له احواله
هرچه د ویښتلو په آزار نه زهیر ېږی
سرغواړه له خدایه خولی دېری دی فاضله
هرچه غم د سر کا په دستارنه زهیر ېږی
«فاضل»

چه خدای په بت مین کړم که داعیب دی هم وی دی
سجود که روښن کړم که داعیب دی هم وی دی
عالم وایی عاشق شوې زه سو گند خورمه چه کله
درست خلق دروغجن کړم که داعیب دی هم وی دی
کافر یم که یی و باسم هغه ساعت له زړې
ستانوم چه ځنکندن کړم که داعیب دی هم وی دی
که ستا کوڅه جنت سره څوك سمه راته کېږدی
کوڅه به دې وطن کړم که داعیب دی هم وی دی
چه ځوان وم دایم زوړشوم په رښتیار ښتیاخبرو
عالم د ځان دښمن کړم که داعیب دی هم وی دی
شیخان او زاهدان واړه په پسی شا ویل کا
په مخ یی مبرهن کړم که داعیب دی هم وی دی
که نور په صهبا مست دی زه خوشحال په خرابات کښې
مستی یی په دیدن کړم که داعیب دی هم وی دی
«خوشحال ختك»

په ما غم دی واړه ستا د مینې مینې
زړه مې درست پاره پاره شو وینې وینې
اندرون گو گل مې درست دو ښو ډك شو
ظاهری جامې اغوستې سپینې سپینې
بیا دې نوی پرها رو نه په ما روغ کړه
لړغونی مې لا روغ ندی ځینې ځینې
په ژو ندون یی څه احسان را سره نکړه
څه پکار دی که یی کړی په مړینې مړینې
زه دې درست له باغه وا پستم د لبره
تورزاغان پکښې مېوی خوری خوړینې خوړینې
تو رو زلفو دې خوشبو په کړه ملکو نه
د واړه گلو ښتی دی دمښکو چینې چینې
خماری سترگې دې د واړه شنه زمری دی
د خواجه محمد و مرگ ته وړینې وړینې
خواجه محمد بنگښ »

نه به شوق بې ناچارۍ وطن پرېږدی
نه به روح هرګز په خوښه بدن پرېږدي
که ستا مخ یو ځلې ووینی په ستر ګو
بت پرست به نور سجود د وثن پرېږدي
د یوسف غوندې به خو ځنی پېروان کا
که د زنې چاته زلفې رسن پرېږدي
که دې ولیدی سرې شونډی جو هریانو
په یاقوت پسې به تله د یمن پرېږدي
که د لبر په دا ښایست لاړ شې چمن ته
د خولئې دعوی به ګل د چمن پرېږدي
«کامګار»

چه یوه ګړۍ په جمع زړه ښه مخ وته و ګورې !
که درسته دنیا ستا شي هم څه نده دا تر پورې
داخوی زما قدیم دی څه ما اوس نده راوړی
چه بې د زیبا مخه رانه خس دی چار ې نورې
د خلقو تهمت پوسر د جهان غم نه بل سر
هم ته به مې له هسې رنګه سختی بلا ژغورې !
دا اور چه په ما بل دی د خپل یار له جدائی
نه ګرم نه ملامت یم که تل وینې ژړم تورې
اشنا ته وایه نشی نا اشنا به څه خبر پېژی
دا راز چه له ما نه دی اوریدلی خپلی مورې
ناوک یې د مږګانو د ابرو په کمال جوړ کړ
خدای زده چه به د چا تر زړه ګی وزی پورې ورې
ښه باز دې د خوشحال ختک خاطر په لاسو کبوت
په قدری خبر شه چېرې نه په لېزی پلو رې !
«خوشحال ختک»

شنه خالونه چه د پاسه پر جبین زدې
دا زما پر زړه دا غونه آتشین زدې
د عشق اور مې و پلوی د زړه ګی شمع
بیهوده مې پر موم نقش د نګین زدې
مادې خیال اره فرش کړی تور لېمه دی
ته بې نیاز ه قدم ولې پر زمین زدې
په شپه حال د مهجورانو په یاد راوړه
په راحت چه سر له نازه پر بالین زدې
«پیر محمد کاکړ»

❀ ❀ ❀

## ه: موضوع ګانې

### (۱) ـ مخ:

بادیې لاس په پلو کښېښږدی سره رېږدی
ګل یې مخ وته نظر کا خوله یې رېږدي
«خوشحال ختک»

د پرۍ ښکلی جوه ما لیدلی دی په ستر ګو
ړوند شم که به تا غوندې په حسن ښه وه
زور د غاښو مکړه مخ یې صاف تر آئینې دی
زخم به پرې وشی په ورو ورو یې ښکلوه
عمر به یې لنږ شی که ئې تار د زلفو کم شی
فهم کړه ای ډمی ! زما مخ ورو ورو چلوه
«عبدالقادر ختک»

ای چه په مخ و ډې خو ئې له ور ده
خالی یو دم نه یم د ستا له دره
ته بې آسیبه بېهی ، سیب او سی
که تر نارنج مې څهره زر ده
«عبدالقادر ختک»

که مخ دې نمر کړم د نمر کړه وړه نشته
که یې سنبل کړم سنبل مشکین نه دی
«عبدالقادر ختک»

د پر هوس لرم د ا ستا د مخ و ګل ته
زه بلبل پرې الوته کړم که بد نه وړې
«شمس الدین کاکړ»

سپین رخسار دی ستا کعبه د عاشقانو
تور زلفې غلاف دی نه د اطلس
«میا نعیم متی زی»

دا په خوب کښې را ښکاره شو د دلبر مخ
که په ابر کښې ښکاره شو د قمر مخ
چه یې ولیدو دا ستا جوهر د غاښو
پټ له شرمه په خپل آب کښې کړ گوهر مخ
له حیا دی غټ و مخ ته کتی نشم
کله لید په خوږو سترگو شي د نمر مخ
« قلندر »

دا دې یار خو دی، خو له نیولی
که لاله گل دی پر خپې و هلی
دا دې سرې شونډې که سپین غاښونه
که لعل و در دی سره پېیلی
«خوشحال ختک»

ډیر مې ستا و مخ ته وکاته موړ نشوم
نور به څو پردې نا بوده دنیا ویاړم
«شمس الدین کاکړ»

لکه مخ زما دیار دی ای باغوانه!
په درست باغ کښې یو نسرین هسې لري!
«خوشحال ختک»

مخ وته یې گوره چه په مخ لري خالونه
څه عجب زیبا دی لکه گل د پیغمبر
«خوشحال ختک»

## (۲) شونډې اوزنه:

د خولې ویل دې واړه نبات دی
خوا زه دي لا د کنځلو زبات دی
څوك یې چه ښکل کا سخ د هغو دی
شونډې دې دواړه آب حیات دی
«خوشحال ختک»

بوی به ستا د محبت ځنې روان شي
که یاره مې د نافې به دود تیتر کړي
په ناز کو شونډو یار د یانو مه زده
خدای چه شونډې سرې بې یانو درته در کړي
«عبدالقادر ختک»

غنچه خوله چه یې نقطه موهومه ده
څه عجب که په خندا کښې شي دره نیمه
«پیر محمد کاکړ»

په سرو شونډو کښې یې روز دی هم اوبه دی
دواړه زیست کا به یوځای کښې بې جداله
«دالپوری حافظ»

که څوك و وینی د استاذ نخ پر آب
زړه یې و وزی د سینې لکه حباب
«عبدالله پوپلزی»

چه یې خیال د زنخدان وزړه ته تېر کړم
په کوهې کښې گذار کاندې اسکورلا
«میانعیم متی زی»

هغه شونډې چه ځائې د یانو سرې دی
هغه شونډې څه حاجت لري وریان ته
«خوشحال ختک»

چه په خیال د سرو لبو د شپې څملم
هر سحر څاڅې ځما تر بستر و یني
«عبدالله پوپلزی»

## (۳)- بوسه:

چه بوسې د جفا جو يو د خولې اخلې
څوك مايوس څوك په اميد ديار دوصل
زه خوشحال د آهو چشم مينې سر گرم

گویا اخلې د يا غيانو قلنگو نه
څوك پراته غاړه غړۍ په يا لنگو نه
د غرخه غوندې په هسې گړ سګو نه
«خوشحال خټك»

چه د يدن دمين و كړ مه تازه شم
په ارمان د هغه و خت يم د ريغه د ريغه

لكه ككبنت چه په باران سره اوبه شي
كه د زنې سبب يې بيا زما په خوله شي
«خوشحال خټك»

څوك چه زور مه ښكاره كا وزيا تيږي

كه پخپله بوسه را كا زور به نشي
«خوشحال خټك»

مگر تا سره سامان د سلطنت دی

چه په هوډ مې سپينه خوله غواړې خټكه
«خوشحال خټك»

څو مې ياد دهغې خولې دمچې خوند دی

نور مې كل له د له هېر دی تلذذ
«خوشحال خټك»

سر به در كړم مچه را كړه ښه سودا ده

كه يې ته په بها پېرې زه يې پلورم
«خوشحال خټك»

په ر ښتيا ړ ما ته و وايه طبيبه!
سپينه خوله كه يې ريباره وزپيشكش كړم

چه د رنځ به يې صحت وي كه به نه وي
په خوشحال به مې منت وي كه به نه وي
«خوشحال خټك»

دادی هغه اوچه په هجران كښې پسې تهمرې

اوس يې په وصال كښې دواړه لوريه ښكلوه
«خوشحال خټك»

دصبا باده! گزر په چمن بيا كړه
زه خوشحال كمزوری نه يم چه به داركړم

په چمن كښې رنگا رنگ گلونه وا كړه
په شكار ناري وهم چه خوله يې را كړه
«خوشحال خټك»

زده مې تخمخ كېږي دسپين مخ وښكلول ته
زه چه ځنې سوال د بوسې وكړم راته خاندی

لاس يې لر بر كېږي دزلفينو ونيول ته
يا به زده راضی ده يا پروانه كاوين ته
«مطيع الله پير خيل»

چه يې تل دمخ ننا وايي خوشحاله

په صله مې سپينه خوله درته بخښلې!
«خوشحال خټك»

دبوسې وعده دايم صبا برات كا

زده به څو كاندې تازه په دا وينا كښې؟
«اشرف خان هجری»

بيا حانث په سپينه خوله شوم د خو با نو

قسمو نه مې نا صح گڼل عبث
«ميا نعيم متی زی»

هغه چا چه ستا دلبو خوازه نوش مكړه

په خو زويې د حلوا نشته غرض
« يونس »

كه هر ار لحله شيخی كوی خو شحاله

كه ښه ښكلې درنژدی شی نو يې ښكل كړه
«خوشحال خټك»

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٤ - سترګی :

مست دهغه مخ یم چه مخموری اری ستر ګي
هسی پرې غوځیږم وایی توري لری ستر ګي

یار مې په ښایست کښې بې نظیره بې مانندی
لا په درست صورت کښې د پرمشهوری اری ستر ګي

ناست دی لکه ځری رقیبان وخوار عاشق ته
ځکه ستاله مخه هوري دوري لري ستر ګي

هرچیرته چه ته یې هغه اورته مې نظر دی
هرچرته چه زانې شاهین هوري لري ستر ګي
« خوشحال ختك »

ما یې خیال لره ابلق د ستر ګو زین کړ
قدم نښ دی په رکاب زما د ستر ګو
« عبدالرحمن مهمند »

خار بندی مې دیښو کړه ترې چاپیره
ګوندې خیال دیار په ستر ګو کښې حصار کړم
« عبدالقادر ختك »

ځکه ما دعشق په تېر ځان شهید کړ
چه مې نه رسی د صبر په کفن لاس

مر ګې دژوند زما پوښته له مړاؤ ستر ګو
په رسا ګنذار یو هیښی د تور زن لاس
« عبدالحمید مهمند »

کښې وروځی کوږبانه چه دې را یاد شی
کازه غشی مې تر زړه لو یښی آزاد
« پیر محمد کاکړ »

نیمکښو دی د غمز و توري تېرې ستا
پرې به غوځ شی هرچه کاندې ننداري
« میا نعیم متی زی »

باز دیار دستر ګو دمژ ګانو په پنجو کښې
دی لکه تنزری په چنګ وړی زما روح
« میا نعیم متی زی »

د اشنا دتورو ستر ګو په تعریف کښې
نده کمه شاعری له اجتهاده
« میانعیم متی زی »

خو، دیار بیماري ستر ګې خدای خونی کړې
ګڼه خون کله کولی شی بیمار
« عبدالرحمان مهمند »

خپلو ستر ګو فتوی در کړه چه مې وژنې
حیرانی ده پردا لو ستو د مکتب ستا

و کوثر ته حاجت نه لری د خپلو
چه جام نوش کا څوك دمیو لباب ستا
« مرزا حنان »

زړه مې رم خوری له سینی پر خبر نه یم
دا د ستر ګو باز مې بیا راځی وښکار نه
« مرزا حنان »

یل یې په جهان کښې مو ندی نشی
عاشق تله دیار په لوری په لیمه کا
« عبدالقادر ختك »

بې دیار له مړاوو ستر ګو چه کج ګوری
ګڼه نکا رنځورا چا ته جواب سخت

څوك د صبر ارام نه غواړی په عشق
د ازل کاتب دی ښکلی په دی باب سخت
« عبدالحمید مهمند »

عجب نده که وحشی د کوه و د شت شی
هرچه زړه د آهو چشمو سره مل کا
« پیر محمد کاکړ »

روهي ګلونه (۵۲۵) ب سردار محمد، ح سراج الدين، ر فتح محمد، ن محمد نعيم، ه اجرائيه پښتو ټولنه ۱۱-۱۰ - ۵۲۴

## ۵- غاښ

په آورزو د سپینې خولې یې په بوستان کښې
نرګس پیاس پر سر نیولې دی پیاله
چه یې ولید خندا د سپینو غاښو
له شبنمه لمن ډکه کړه لاله
« شمس الدین کاکړ »

په رڼا د سپینو غاښو یې خرم وم
واقف نشوم د هجران د شپې له دا چه
« پیر محمد کاکړ »

## ۶- غوږ اوپوزه :

در په غوږ کښې د مهرویو هسې زیب کا
لکه بر ښنې په سحار کښې ستاره
« مرزا حنان »

چه الماس د لمندرو ځلانګې په غوږ کښې
کواکب کا په اسمان لرزان حبیب
« میا نعیم متی زی »

چه له غوږ وتې مقصود د موږ می لښتې ده
چه له پوزې یې مراد مومی لونګ دی
« خوشحال خټک »

سپینه پوزه دې غوټۍ د زنبق ده
چه چاپیر تري نور ګلونه د ګلزار دی
« خوشحال خټک »

## ۷- خال :

مخ وته یې ګوره چه په مخ لري خالونه
ته عجب زیبا دی لکه ګل د پیغمبر
« خوشحال خټک »

زه حیران د اعتقاد ورځو په نور خال یم
کافرخه رنګ سجده کاندې په محراب کښې
ګل د دې ری بارېکۍ په شبنم خوړ شي
نازک زړونه بد وي په صاف جواب کښې
« عبدالرحمان مهمند »

مشکین خال دې په سرولیو هسې زیب کا
لکه مهر په مخزن د در مرجانو
« عبدالرحمان مهمند »

لکه عکس د اسمان چه اوبه شني کا
زړه مې شین شو ستا د شنه خال له لاجورده
« شمس الدین کاکړ »

چه ز خال و خط خبری یکښې نه وي
د عشاق فریکار دا ترانه نه ده
« قلندر »

شنه خالونه چه د پاسه پر جبین ږدي
دا زما په زړه داغونه آتشین ږدي
« پیر محمد کاکړ »

شینکي خال د وروځو منځ د مهر و یانو
هم محراب دی ; هم منبر دی هم خطیب
« میا نعیم متی زی »

زړه مې ځکه په سل ژبو گفتگوی کړي
چه شانه وهي په زلفو د نگار لاس
« عبدالله پوپلزی »

په لښکر د تورو زلفو یې تالا کړم
خدای دې نه کا حاکمان کفر د چا
« د میا نعیم متی زی »

خیال د زلفو د رخسار زما په زړه کښې
زر عو نه کړه تر سنبل او سره گلاب
« میا نعیم متی زی »

ځانگړی پکښې زړونه د عاشقو سره یوځای
نه چه څیرې کیږدې سره گلونه په اوربل
« میا نعیم متی زی »

کفرستان د شاه د تورو زلفو گوره
چه په څه ښائي تاویږي وایمان ته
« خوشحال خټک »

که څوک وایی چه مار کله په کټ خیږي
زه خو ورته لیم په کټ د زلفو مار
« عبدالرحمان مهمند »

که اره لکه شانه شم پریږ نه یې نږدې دم
که د تورو زلفو تار په لاس راکښیوت
« مرزا حنان »

توري زلفې دي په لیچو باندي ځانگي
ښاماران دي د چندنو په ښاخو نه
« خوشحال خټک »

داربل په هر هر تار یې زړونه بند دي
مشاطه ور باندي نور یې په تارو
« خوشحال خټک »

که دد دین حج اکبر کوي تلو اروا که
چه پر سپین مخ باندي د زلفو تور اطلس لرم
« صدیق آخند زاده »

## ۸- زلفې:

که بل مار چیچلی په لاس یا په پښو کاندي
په زړه خوله لگوي مار د تورو زلفو
« عبدالرحمان مهمند »

رحمان ستا په مخ بې څنډو هم ډېر دي
پېښو دم د ور ته کښېښو د دام په څه
« عبدالرحمان مهمند »

د ګ مې د نښه لرمون په اور څو
زړه سمڅند رودې پکښې یې کوثر شو
چه ستا د تورو زلفو په رنگ دي
له بخته خو بې یم چه بخت مې تور شو
« عبدالقادر خټک »

په لیده یې پېچ وتاب شم نه پوهیږم
څه بلاده د شوخ چشمو په کاکل کښې
تر حلقو د زلفو مخ ئې معلومیږي
که گلاب راته ښکاره شو په سنبل کښې
« مرزا حنان »

زه مین په هغه زلفو په رخسار شوم
چه سنبل ورته خجل دي گلاب هم لا
« پیر محمد کاکړ »

خو دیه څو دي چه کله زلفې په مخ زنانگي
واړه زهر دي چه څوزي په تور مار کښې
« پیر محمد کاکړ »

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیال د زلفو یې دزړه نه جدا کیږی
دی کیمی یوبې ښکته شی تور حجاب
« عبد الله یو پلزی »

## ۹- خندا:

په بار بار د خندا منت را باندی
چه په مادی نظر وشو په خندا شوی
«خوشحال ختك»

کله کله په خپل قهر اکښې مسیږی
لکه خوك په هندو بار کښې دینداری کا
«شمس الدین کاکړ»

تبسم یې له دښنا مه سره زیب کا
قدر زیات لری ترخه چه شی شراب
« میرزا حنان »

## ۱۰- لاس:

دا څما د قاتل لاس دی نه یو هیږم
که تر باغ وتلی لاس دی د سرو گلو
« عبد الرحمان مهمند »

کوم دلبری زړه په سرو منگو لوټ دی
چه لرمیون دویښو د کې دی د حنا
« شمس الدین کاکړ »

سره نوکان دی د سرو گلو په څیر زیب کا
د واړه لاس چه دی رنگ کړی په حنا
«پیر محمد کاکړ»

## ۱۱- حسن:

ته په دا حسن د گل غوندی پیدا یې
پوری مور که ښا پیرئی یې راوړی
« خوشحال ختك »

زه رحمان د هغه حسن ثنا خوان یم
چه جر گه دعا شقانو وی پر پند ه
«عبدالرحمان مهمند»

ستا دحسن د آفتاب له گرمه خو یه
لکه گل په نمن یت تازه شبنم ودم
« شمس الدین کاکړ »

پوښکښې مخې د قند هار د کښلیو نشته
کښلی د کشمیر که دلا هو رو د کابل
زړه دشمس الدین په حساب سره دری ځای کړ
یوطرف دی تیك شوېل دی نته پل چار گل
« شمس الدین کاکړ »

خو برو ئی بې دلبرئی څه په کارنده
لکه ونه بې میو ی په پانو پور ه
« عبدالرحمان مهمند »

توری زلفې نښته خالونه سره رخسار
ښفه طوطیان دی سره گلونه تور ښامار
«یونس»

## ۱۲- جامه او گانهٔ:

ارغوانی جامې یې واغوستې رحمانه
پیایې جوړ کړه ستا دقتل اسبابونه
« عبدالرحمان مهمند »

دعقیق د آب په رنگ یې تن معلوم دی
هره ورخ چه جامه واغوندی گلنار
« مرزا حنان »

نور دشمعې په فانوس کښله پټیږی
تاچه واغوستې دخیال جامې سپری
«عبدالرحمن مهمند»

درسته‌دي له‌خيل‌غريو واېستم خوشاله
يودغاړي هارمي د ګلو نو مه‌شلوه
« خو شحا ل ختټك »

## وښي

داهلال‌دی چه‌لیدل‌شي په‌شفق کښې
که‌په‌لاس د ګل‌اندامي سپين‌وښي‌دی
« عبدا لر حما ن مهمند »

## ۱۳ـ عيش ،اودعشرت‌سامان :

دنيادار کړه چه نوی ښې دلبرې
اوردې يوړي ددنيا په‌ملك ومال‌شي
ارمان دادي چه په زړه هميشه نه‌وم
هميشه به‌سره ګلونه ګـال په ګـال‌شي
د ګلونووخت‌تيريږي‌ساقي! ګرم‌يې
که دجام په د کولو دې اهمـال شي
« خو شحال ختټك »

❀ ❀ ❀

ساقي ! يورته شه‌دميو جام تيار کړه
عمرهيڅ معطلي نه کوي‌تلوار کړه
که‌غمخوارغواړي‌په‌غم‌اوپه‌اندوه‌کښې
ښينه د که د شرا بو اختيا ر کړ ه
هغه‌خوك دي‌چه‌تهمت پرې وايه‌نه‌شي
غوز يه‌هيڅ‌ابا ندي‌مه‌با سه‌خيل کـار کړه
« عبدالرحمن مهمند »

❀ ❀ ❀

غنچه‌غټوه‌شراب‌ساقي!بيابه‌ارمان کړې
عندليب ناري وهي چه‌بهار دروي
« عبدالقادر ختټك »

❀ ❀ ❀

ساقي وخت دنوبهاردی شراب راوړه
دشرابو سره نقل دخولي مل کړه
« خو شحا ل ختټك »

## رباب

په‌آواز مې‌يې دزړه پرهار ګـانه‌شي
مين څکه د رباب په زيرو بم يم
« عبدالقادر ختټك »

له مز ينه زړه مي نرم او از خيږي
څکه‌خوښ لـګه‌رباب به‌زيروبم يم
« عبد ا لقا د ر ختټك »

باغ د ګلو نو ګـنج د ګـتاب وا ی
رودوسرو دو نقل‌و شر ا ب وا ی
ښې‌ښې محبو بې ښه ښه احباب وای
خو يې د عمر وخت د شباب وی
« خو شحا ل ختټك »

## شراب

زمايار په‌خوب ويده دی چه‌ويښ نه‌شي
په‌پياله کښې ساقي! مي‌تر يوه‌ورو
« عبد القا در ختټك »

ګله ! ته چه د بلبلي مخ جار با سې
مګرستاپه‌خيل‌ښايست اميدمدام‌دی
نور چه تل د ګې پيالي نشوی ښه‌دی
په‌يوه‌پياله خوشحال‌ختټك بدنام‌دی
« خو شحا ل ختټك »

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا گلگون شراب د کومې میخانې دی  چه صوفي یې په جرعه سره مدهوش دی
بیا به دا گلونه نوی میخواری کړه  د بلبلو په اواز کښې دا سروش دی
« خوشحال ختک »

د رحمان شراب له عشقه  نه انگور نه له عنبه
« عبدالرحمان مهمند »

د گلو نو میو ناوې راسته ناسته  زنگاری کمیس اغوستی د مینا دی
« عبدالرحمان مهمند »

شپه او ورځ په دا زه مستغرق یم د شرابو  وینم په کښې هردم د خوبانو انعکاس
« قلندر »

په تاخیر کښې افتونه پیدا کېږی  معطل مه کوه ساقي! په داد و مل شه
« عبدالقادر ختک »

یو نفس د یاد پیاله له لاسه مه ږده  دا شراب حقیقي نه اری خمار هیڅ
« دولت لوانی »

نن هغه شراب حرام دی  چه یې سی کا زی له انگوره
« شیخ دولت »

ای ساقي د جام په ور کړه سستي مکړه  کاشکې بوهم پاتې نشی هوښیار دریغه
« دولت »

## ۱۵- بیلتون :

کیږ ر نا د نمر خپره شوه  زما پر کور د ویر تاره شوه
د بیلتون ورځ تروره تیاره شوه  غېږ شونا خا په چه بیلتون راغی
زړه مې له دی ویرنی سین دی  په ژړا ژاړم خپه ما ورین دی
زرغون له او ښو مې سا دین دی  په نول نولېږم چه تاخون راغی

❁ ❁ ❁

نه به بیایم نه به بیا را شی  نه به تیاره شپه زما رنا شی
نه به ښه شي را ته پخلا شی  بیلېږي پېر یې اوس دیون راغی

❁ ❁ ❁

د ښښتن یار دی هیر مو نکړی  آ غلیه مخ چه په یا نه کړي
اور بل دې پر یښو وی وا ته کړي  په ما دبل اور کړوون راغی
« دا شعر د شیخ تمین بڼ کا کړ دی چه، د ۵۲۵ ه په حدودو کښې ژوندون کاوه »

❁ ❁ ❁

ویر مې زړه سوری سوری کړ  را ته وگوره ملو کې ! !
په بیلتون کښې دې و باسم  له خوږ مینه زړ گی کوکی
را ته وگوره ملو کې !
را ته وگوره ملو کې !

د بلبلتون او رو نه بیل دی    هر گړی می زړه کی سو ځی
لیونی یمه د مینی !    سو ځم زه لکه پتنگ ځی
راته وگوره ملو کی !
راته وگوره ملو کی !
غوږ و لی دی اور بیل دی    اور زما په زړه گی بل دی
زه د بختیار خاوری ایری شوم    په اور سوی می گوگل دی
راته وگوره ملو کی !
راته وگوره ملو کی !

« قطب الدین بختیار »

❀ ❀ ❀

« متوفی : ٦٣٣ هـ »

جدائی دما په زړه کا هغه چاری    لکه بازی په تارو یا په دراج کا
دوه مین چه په هواد و بیلـه بیل شی    خدای یی څه شکل د تش سلام محتاج کا
زما اوښی د گوگل په جوش پیدادی    لکه اور چه له کبابه نم اخراج کا
هر ناوك چه دقضا لـه شسته خیژی    زمانه د خوشحال زړه ورته امـاج کا

« خوشحال خټك »

که داستا ستر گی را وجا ربا سم ځانته    لـه بنادی به یی نور شاکرم وجهان ته
یوزمان می که داستا لیدل نصیب شی    نور به ستر گی پورته نکړم گلستان ته
طبیبان دخیل دارو درسره کیږدی    تا و یشتـلی مینه نه کا و درمان ته
چه په ما باندی تیر یږی ستا په عشق کښی    خدای دی هسی حال پیښ نه کا مسلمان ته
په فراق دښو یارانو چه د هر ژاړم    دواړه ستر گی می پیغور کاو باران ته

« خوشحال خټك »

اوس یی درد د فراقت زغملای نشم    لکه نی یم وهر چاته په فغان کړ

« پیر محمد کاکړ »

دفراق په درد کښی شوق د بوسی څه کړم    خوږ شربت په حال دمرگ د بیمار نښلی

« پیر محمد کاکړ »

مونږ لـه هواده تنها راغلی یو    د بڼ طوطیان یو ، په دام و تلی یو
غمازه ظلم را باندی مکړه    د ښو یارانو فراق نتلی یو

« پیر محمد کاکړ »

د سحر چـر گه خوږ شی په کومی    چه تا ناری کړی دلبر می د رومی
یو مـی دلبر ځی بیل رانه زړه وړی    زړه می بدا وړی چه دلبر نو می

« اخوند گدا ؛ »

د هجران دغم راتله په توره شپه وی    په هر چاورمـشـه بیوخته مېلما نه
د فراق اوښکو دصبر تیمم مات کړ    په دریاب کښی نشته نمونځ په تیبا نه

« شمس الدین کاکړ »

وخت د نوبهار دی زه جدا لـه خپله یاره    دریغه دریغه دریغه چه بی یاره ځی بهاره!
ژاړی غاړی غرونه په احوال د عاشقانو    سیل د راوروندی چه را درومی له کهساره

اوردخوزو زړودی چه‌دغره په‌ونو بل شو    سری ډډوزی خېژی له نېتره له چیناره
غوادی چه‌احوال‌دفراق چنودرمعلوم شی    گوره هغه زانې چه جدائی نحی له قطاره
نوري ناري نشته خو ناري د بېلتانه دی    راشه که بی اوري در باب له هره تاره
رنځ‌مي نه کمېږی‌په‌زمان زمان‌زیاتېږی    زر راځه طبیبه! گینه مرم د خدای د یاره
مرگ د رقیبا نو بل ژوندون د حبیبانو    خدای‌زوبه‌هنگام‌دوصل کېږی دادوه کاره
څه‌شو که لادم‌وهی په شماردی دژوندیو    رنځ چه‌لا دو اشی طمع یر بکړه له بیماره
هسې‌خوار‌وزار‌شوم‌ز‌خوشحال‌په‌عاشقی‌کېښې    خپل دی که پردی دی راته‌نه گوری له هاره
« خو شحال ختك »

چه‌په‌وخت‌دتلوراتلو کاچیغار و نه    دعوا دیاران را یاد زانې اکثر کا
« عبد القا در ختك »

که هر څو دبېلتانه له غمه وا یم    خپل‌ژوندون‌مي دروغجن کاندي‌چه‌یایم
په‌قد کوز په‌تن‌ضعیف گوښه یولی    په مثال لکه ابر و د لر بیا یم
« عبد القا در ختك »

له ښکیه وچاوده وخت دصبا شو    په هر مسجد کښې اذان ادا شو
راشه‌چه‌ښکل‌دي کړم‌اوس‌به‌بیلېږو    په ځان زمو نږه صبا بلا شو
« عبد ا لقا در ختك »

مین را یاد شو دا ستا له رنگه    که یو د رنگ کښېني زما تر څنگه
که اشنا نه‌یی داشنا مثال لري    ځار شم قربان شم تر تا ملنگه!
« عبد القا در ختك »

وخت د سحر شو پر یوتې تلي    له کښېیه لو ر یسه را و ختلي
د یار د راغلو وعده شوه تېره    په ډېر کتل مي ستر گي و تلي
« عبدالقا در ختك »

د مني وخت ؤ وي لید لي    يو څو بلبلي چه ژړ ېد لي
خواري خسته وي وي‌مي سزایی    چه بی گلو نو ویا ښېد لي
« عبدالقا در ختك »

وډل‌دهجر‌پرما شرط‌مکره‌په‌عشق‌کښې    ز هر چا خوډ لی ندی په شر طو نه
« شمس الدین کا کړ »

دزړه‌ویښې‌مې په کومه‌درشتی‌خورې    هغه شوندې چه په شهدوشکر خوږ شی
بېلتانه‌می‌هډوپوست‌هسې‌وچ کلک‌کړه    دیار لاس می په وهل دخنجر خوږ شی
« شمس الدین کا کړ »

د هند بار را نه آ هسته و وره!    یار مسافر دی د ربره بی ژ غو ره
د سا یې گل ؤ په نا ز لو ی شو ی    و تلی نه دی هر گز له کو ر ه
« شمس الدین کا کړ »

د هجران له ډېره غمه ولي نه مرم    له دي هسي رنگه ماتمه ولي نه مرم
چه یو یار له بله یاره جدا کېږ ی    د دې د هر له ستمه و لي نه مرم

چه په هر سحر زما په ژړا خاندی
چه په لمبو کړمی شا کاندي وګل ته

له دي هسي صبحدمه و لي نه ړم
له دي بیوفا شبنمه و لي نه مرم
« عبدالرحمان مهمند »

زاروخوار عاشق دی چه په شپه د جدائی

درسته شپه بیخوبه دا ـ مان ستوری شمیری
خوشحال ختک »

## کاغذ

مخ یی سپین ورق خالونه توری په کاغذ
دادی تماما د محبت کمال طور و نه
ته که نه رادرومي ګاهي ګاهي په خط یاد کړه
مه کوه ناترسه د جفا ستم را باندې
وران به هرګز نه شي کینلی توری له ازله
ستوری د طالع هم له جبینه معلو میږی
مه ګوره بی خط قلندره د یار مخ ته

سرو مال په دا عاشقان یلوری په کاغذ
یار له جدائی چه یار ژ غوری په کاغذ
نیم ملا قات و ینم ستا له لوری په کاغذ
کله کله یاد کړه خیل غمخوری په کاغذ
هرزمانی که ستر ګي د چا اوری په کاغذ
څه ګوری فالونه د بخت ستوری په کاغذ
بی تورو ندبیږی چه څوك ګوری په کاغذ
« قلندر »

## ۱۶ — ژړا

که ګریوان می د سپوږمۍ د نمر مشرق شي
در حمان خندا په اجر د ژړا ده

زه چه یار په ستر ګو نه وینم تورتم وی
تازګی د ګل په قدر د شبنم وی
« عبدالرحمان مهمند »

ناخبره یی له حاله شفق بولی

که دوینو په ژړلو کړم اسمان دوب
«عبدالرحمان مهمند»

بی دردان ئی لاس سرخی د شفق بولی

که په وینو کړم برجونه د آسمان دوب
« شمس الدین کاکړ »

زه د شمعي په خبر ژاړم تر صباحه

ته د صبح په شان خاندي له غروره
« شمس الدین کاکړ »

له ژړامی شوه تازه د زړه داغونه
تما دیار په زړه کښی جوروستم نشته

لکه تل چه شبنم اوری پر وښو
در وی ئی سپی رقیب را ته پرینږو
« شمس الدین کاکړ »

په سحر ژړا دیمنی نشانه ده
که فریاد په زوره نکړم زړه می چوی

بلبلانو پري لوولي ګواهي ده
که په زوره ناري کړ مه رسوانی ده
« مطیع الله پیر خیل »

هرسحر ستر ګي د ګل له اوښو ډکی

په دا باغ کښی ئی ژړلو خندا نشته
« عبدالقادرختك »

دوهمي ګڼه (۵۲۵) پ : سردار محمد ؛ ح محمد علي خان ؛ ر عبدالغني ؛ ن رجب علي ؛ د اجرائیه پښتو ټولنه تاریخ ۷-۱۱-۱۳۲۵ ع

## ۱۷ - او ښکي :

څه اثر به زما او ښي په تا کاندي
لا تازه شي او ر په او ښو د کباب
« عبدالرحمان مهمند »

هومره او ښي مي بهېږي په رخسار
چه غرقاب مي هم ګرېوان دی هم کنار
په ګرېوان مي تل داوښو باران وری
نه ور کېږي در حمان د زړه غبار
« عبدالرحمن مهمند »

خدای پیدا کړم لکه اوښکي په ماتم کښي
ځکه برخه مي ژړا شوه له السنه
« شمس‌الدين کاکړ »

بیا کوم سترګي به او ښو دیار مخ ته
ناروا دی په قران وهل خيچن لاس
« مطيع الله پيرخيل »

په ناولی مخ دیدن دښکلو نشی
چه خواوند نشی د اوښو په باران مخ
« پير محمد کاکړ »

له حسرته خپلو او ښکو برسر یوډم
محبت په شان و شکل د حباب کړم
« عبدالله يوبيلزی »

دا ورك زړه غوارم په‌او ښو یسي ځغلم
زخمي ښکار به پسل دوینو پیدا کېږي
« مرزا حنان »

## ۱۸ — غم :

غم دي هسي غلبه شو په ما باندي
چه مي ځای شي نه دننه نه د باندي
له زګېروی نه‌مي نور خلق په‌عذاب شوه
تل دوچو له کبله سوزی تاندي
زه دستا په‌غم کښي شمعي غوندي ژاړم
ته زما په غم کښي صبح غرندي خاندي
زړه‌مي ستا په اوری هسي او بزان دی
لکه زلفي دي په مخ دی او بزا ندي
ماتي ستا داند ښېښو په غم کښي سوي
ددنیا اند ښښي واړه لکه سپاندي
داد ستور دي چه لوی غم په سړی ورشی
نور غمونه ئي همه شي تر پښولا ندي
هرچه ما په نصیحت له تا جار باسي
بیا دي ستا په اوری درومي له ماوړاندي
سره لمبه ګوره چه څه کا په وچ د کی
مخ دیار په رحمان هسي چاري کاندي
« عبدالرحمان مهمند »

هسي زه یمه دیار په غم تازه
لکه وی هره ګیاه په نسم تازه
سترګي وخورم که نې وچي کړم له نمه
که مي شي په دا ژړا صنم تازه
زه به څه کړم دچا چاري بي دیاره
هر سړی دی پخپل سا په دم تازه
دیار نوی نوی غم زېږوی و صل
رغوی سوی پر هر مر هم تازه
کهدي زړه له‌غمه وچوی دلګیر مه‌شه
کا تبان کړی په چول قلم تازه
ښایسته یاران ګلونه دي رحمانه !
بیلتا نه کړه اکثر مړا وي کم تازه
« عبدالرحمان مهمند »

لکه غم د بختورو له خاطره

تل مطیع الله ځکه سرور په دود نغمې کا

غم دیار مې په خاطر کښې محکم بیا موند

جای نشین وغم ته تل په انتظار کښې

لاله افسوس کاد زړه له داغه
کفن ئې رنګه کړ د زړه په وینو

ګوتې چه پر نبض زما ږدي ههه پرې سوځي

قسمت هسې له‌بنا دلیو کناره کړم
« عبدالقادر خټک »
دا مشهور متل دی فریاد غم پر پښا نوی
« مطیع الله پیر خیل »
په کعبه کښې مې صیاد د حرم پیا موند
« پیر محمد کاکړ »
د کالا پانی بندی یم د انګریز
« عبدالله پوپلزی »
پسر چمن نه دی خاطر فراغه
په ارمان ویست خزان له باغه
« شمس الدین کاکړ »
ځکه مې حیران شو و علاج و ته طبیب
« پیر محمد کاکړ »

۱۹ ــ رقیب :

سپی رقیب ئې کښېنولی دی په مخکښې

عشق له عقله څخه کا خلاف کارونه
بې‌هنره سپی رقیب هلته څه غوښت

د رقیب وسرته وزی تېزی ناست یم

ما قبول د رقیب ناز کړ ستا د پاره

هرڅوک ږدی کوډی په مخکښې د یار پېر
« شمس الدین کاکړ »
ګنه زه څوک اشنائی د زور ورڅوک
که ویارته رسېدای شوی په هنرڅوک
« شمس الدین کاکړ »
پرې‌برئې نېږدم که‌ئې پلار په‌لاس را کښېوت
« مرزا حنان »
سوداوزیان په‌داجهان کښې‌خوراوورور دی
« عبدالرحمان مهمند »

۲۰ ــ جفا :

ستا دعشق حرفونه تور نه‌دی ګلګون دی
تش به نه شی هغه خم دعشق له میو
د دنیا چارې همه وا ړه فانی دی
مقتولان ستا د غمزو دی لا له نه‌دی
در جمان د زړه خوناب مګر قبول شو

له خوبانو چه کوم د وفا طمعه

نن مې پیاله تورو سترګو سره جنګې دی
که پر هکړی سر په‌لاس ورلره راشم

هم په داچه نوشته په جګر خون دی
چه‌ئې خاورې د فرهاد و د مجنون دی
داد ستا جورو جفاو لې افزون دی
چه په سره کفن له مځکې را بېرون دی
چه مخونه د دلبرو پرې ګلګون دی
« عبدالرحمان مهمند »
کتوری غوا ړم د زانو له قطاره
« قلندر »
پر لبانو ئې د زړه د وینو رنګې دی
لا په دائې باور نشی زړه‌ئې سنګ دی
« تیمور شاه ابدالی »

## ج : بدیعی تشبیه ګانې

خوله دې ګل غنچه ده تور ګیسو دې سنبل پاڼې　　ښې ددې دزر کې سپينه غاړه دې دزانې
شونډې دې ژوندون ښې په سترګو کړې خونه　　ژبه دې شکرې ده د ننسه په زړه پاڼې
هیڅ پری نه یو هیڅوم دا دې زنه که منه ده　　خال دې دی په زنه که دانه ده د مما نې
« خوشحال خټك »

کنډه ولې د دوا ړو سترګو ستا په طمعه　　وهر لور ته مې نیولې کور په کور دی
چه مې خیال د ترکوو لیډ و په زړه کښې　　دواړه کسې مې وزړه و ته نسکور دی
« عبد الرحمان مهمند »

مایه خواست وزاری خوله له یاره غوښته　　ده په ناز لکه غنچه سره و نه غوښته
څه خوشحال زما ترغوږه د یار وروړه　　چه مدام کا پرتا خواب د ناز یا لښته
محبوبا پرپا انګ وا وښته په خوب کښې　　که هوسئی ده د بهار پر ګلو رغبته
ثمره د بد فرزند ښکنځل د پلار دی　　پیدا مشه نا خلف د چا له پښه
« شمس الدين كاكړ »

چه له غنګه د ګلرخ مې اغیار کښېښناست　　په چشمانو کښې مې ګل عوندې خار کښېښناست
« پیر محمد كاكړ »

آهو چشم پرسبزه د چمن رام شو　　یا پر تخت د زمرد شهریار کښېښناست
« پیر محمد كاكړ »

که عشاق جنګ وجدل کا باندې څه شوه　　پر ګلزار وی د بلبلو شر و شور
« پیر محمد كاكړ »

کوم یه له دوه وښه دی سپین رخسار که چنبيل ګل　　کوم یو له دوه وښه دی تور ګېسو که سنبل ګل
« پیر محمد كاكړ »

پر سینه د ګلبدن ګریوان پاره شو　　د غنچې له چا که رنګ د ګل ښکاره شو
« پیر محمد كاكړ »

دا تور خط راغی پر مخ د ګلعذار　　که غالب شوه په کشمیر پاندې کفار
« شمس الدين كاكړ »

چه مې ستا د مینې داغ په خاطر یوړ　　زړه غونه به مې لاله شی له تربته
« میانعیم متی زی »

میانعیم ناست دی ستا دغاړی الېلو نه شماری　　یکښې پراته دی هزاران زړونه بلبلي صنم
« میانعیم متی زی »

ګوتې تورې کړې په بای کړې دا پورې　　زه حیران یم ستا د سپینو ګوتو تورته
« خواجه محمد بنګښ »

زه درپسې درسته شپه پټ ژاړم لکه شمع　　ته صبا خندان لکه ګل واز ګرېوان دچاپی
« علیخان خټك »

یون ئې د تندرو، دربده ئې دی د سرو
بېر کوی په پلو کښې حمله ئې د سپاره ده
« علیخان ختك »

تماشا چه زه د خپل داغو نو تل کړم
هم گلشن هم لاله زار په لاس را کښېوت
« مرزا حنان »

د گلرخ په هوا در ستهٔ شپه ر فتن کړم
د شبنم په څېر پښې پېلې سر سر تور تم
« شمس الدین کاکړ »

او ښې در، رنگ گهر با ز بده لکه لعل
جنس مې ډېر ولې رونق د بازار ته نشته
« مرزا حنان »

د یار خیال ته مې خالي کړ د زړه غولی
مېلمانه لره تیار شی سرای د ستور دی
« مرزا حنان »

چه دې خیال په خاطر را شی مضطرب شم
لکه پېښ چه د مفلس کره مېمان شی
« مرزا حنان »

چه تاو ویشتم تازه غزل انشا کړم
پرې بلبلې فریاد کاندی چه گلعذاروی
« خوشحال ختك »

پر خپل ځای با ندې ولاړ یم لکه شمع
تر غزل پورې رفتار کړم لکه شمع
« شمس الدین کاکړ »

وخت دی راغی دفدا که فدا کېږی
شمعه بله شوه تازه پتنگه خوځه !
« جمعه بار گزی »

آفرین دې په ول ول تورو سنبلو
چه ئې ځای د پاسه وینو په گلو
« خوشحال ختك »

## قبیح او ملیح

که یو ځله ئې په سرور باندې کښېني
رنځ د هجر به شی دفع د بیمار
په مدار مدار به ئې کاږم چه خوږ نه شی
د بانو په ستني ستاد یو ندې خار
« شمس الدین کاکړ »

# دویم باب ـ اخلاق او نصایح

## الف : ښه خویونه

### ۱ ـ اخلاق

که د رنگ خوبی ئې ستایې بودې نشته
په جهان کښې که باقي دی خو اخلاق دی
« خوشحال ختک »

په خو یونو کښې د هر فرق دی
که سړی پرې خبردار شی
ځینې هسې خوی آغاز کا
چه خپل هم ځینې و بېزار شی
ځینې هسې خوی آغاز کا
چه پر دی ئې خد متگار شی
که څوك خپل خصلت د ښو کا
تر سرو زرو به ر و بېدار شی
« خوشحال ختک »

ثنا د گل شی له ښکلیه بو یه
صفت د مرد شی له نیکه خویه
اهل به نه کا ستا ینه هیچیري
د گل له رنگه د مرد له رویه
« عبدالقادر ختک »

چه گل همت ئې خوراك لباس وی
په تحقیق هغه ار ذال الناس وی
شرف په خوی دی په دیانت دی
که څوك شریف وی یا څوك کناس وی
« عبدالقادر ختک »

په ښه خوی د سړی قدر قیمت کېږی
بد خصلت سړی یا دیو دی یا پېری دی
چه ئې علم وهنر نه وی ځنې تښته !
بې هنر سړی که و گورې لاشی دی
« خوشحال ختک »

په ښه خوی باندې پردی عالم خپلېږی
په بد خوی باندې خپل واړه شی سوا
« قلندر اپریدی »

که دې رنگ، بو، لطافت واړه د ځان کړل
نور د گل په څېری پاس په دستار گرځه
« فاضل »

د ښه خوی گټه ده ډېره
له گڼلو تراند تېره
هغه څوك چه اخلاقی وی
د هغه نوم به باقی وی
که د چا اخلاق ښه نه وی
د هغه به ژوند ښه نه وی
د اسلام دین دی راغلی
پیغمبر دی پا خېدلی
چه پوره کی ښه اخلاق
او پر ځای کی دا میثاق
په خویو انسان انسان دی
که نه وی خوتش حیوان دی
مکارم انسانیت دی
ر ذائل حیوانیت دی
« عبدالکریم کاکړ »

هر طرف يري سره څمکه سره ينده شي
په نسب که خان ، نواب قاصي قضات وي

لکه کښت لره باران اوباد په کار دی

۲ - په ځان باور « او » همت :
چه فلك سره سر باسي
کړه ئې ندی بې حکمته

رب دې مکړه د اخلاقو پله سپکه
بد اخلاق سړی نه ارزی په کنجله
« احمد ګل الـلمی »
د عالم تولی په خلق په احسان شی
« خوشحال ختك »

په همت کښې هغه زه يم
زه خوشحال دده په کړه يم
« خوشحال ختك »

په تېرو تورو ور دروي يکسر ننګان   په لمبو باندې ځان ولی پتنګان !
د کنجکو قدر يو ، د در ويل دی   ننګيالو سره څه ژوی بې ننګان
ار تګی د زړه دليل د جنتی ده   د دوزخ دا ور لايق دی دلتنګان
د باد شاه په سلطنت پورې خندا کا   په سپهر و ايرو لړ اسی ملنګان !
نور ماهی ئې تار په تار دروی له مخې   ما توی لوا ئې بيړی نهنګان
دهاتی دپاسه سپور ورته پيکه وی   چه د مېو پيالې آخلی سر هنګان

څه د ځان صرفه اوس کار کوه خوشحاله
لکه کار کا پر هار ژ اې پلنګان

« خوشحال ختك »

چه په غوښو ئې روز ګار هغه زمری يم   نه چه ولې ئې خوراك هغه مېږك يم
که عالم راته ګل تا و کاغم مې نشته   په رښتيا ويل د ډېرو پو ليو لك يم
په دانش په شعور نده په همت ده   چه دا هسې سر ګردان لکه پتك يم
هر پښتون چه د مغولو نو کری کا   که دی زر ، د هغو واړو بهترك يم
چه منصب مې د مغل خوړ يو ملك وم   چه منصب د مغل نشته اوس ملك يم
د فرمان د پروانې حکم ئې نشته   شکر داچه په خپل حکم په خپل وك يم
نه مې کار په خاص وعام نه په ديوان دی   نه په درو لاړ د هر يو ه مردك يم
نه تصديق شته نه يادداشت شته نه توجيه شته   نه په فکر د سند نه د دستك يم
هر ګيدی به چه له ما سر کوزی غوښته   د هغه د سر يا توره يا کوتك يم
پښتانه لره شړیء اندېر مې بس دی   نه په فکر د مسندنه د توشك يم
آزادی ده په ساده سپينه جامه کښې   خلاص دغه د زر بفت اود مېلك يم
د وښو جونګړې هسې راته ښې شوې   وايې ناست په محلونو د آهك يم
که او ګره د بتو شته په شړو مبو سپينه   د مغولو پولاو پانې ډېر برې ډك يم
چه نيولی مې داهو د ننګ ونام دی   که له خپلو هوده وا ودم کنيزك يم
په بل غشی تويك هيڅ ويشتلی نه يم   که ويشتلی يم خو بيا په خپل تويك يم
چه شهپر مې بتی خيل وو کند کيرشول   پر وا دار په لندو پرونو دبارك يم
د کريز بڼې مې توئې لکه باز کړې   ګمان مه مکړه چه بې پرو ښا پېرك يم
تف په زيره د همه وا ړو بسار کو   لا زما په زيره هم که زه بارك يم

که دواړو پښتنو را ته تسلیم دی — زه خو بیا دسباکیء انا خټك یم
نن خو قام را سره ډېره جفا و کړه — کانده بیا د خدای وحکم و ته ځك یم
که څه حق یا دنیکی یا دورورۍ شته — و یا داش و ته په طمع د هر یك یم
مهمندی زما د کیډی لاس او پښې دی — راضی من داف ربد یو یه کو مك یم
ډېر چینی چه تراوش و کا دریاب شی — چه ایده شم اوس خود ایم یو بولك یم
کړ لانیی خو پښتنی خو چه پښتانه دی — زه د ننګه په کار دواړو مشترك یم
که مې عمر په شماره تر شپیته تېر دی — لا په کار د سوارۍ لکه از بك یم
د افغان په ننګ مې وتړله توره — ننګیالی دزمانې خوشحال خټك یم
« خوشحال خټك »

❀ ❀ ❀

حواله مې په تیشه د فرهاد شه ده — تر هغه چه نا هموار لکه خارا یم
تر هغه چه سرد جوشی د حنا وینم — خو ش په طور دمك بې دست و پا یم
« کاظم خان شیدا »

بار دهر خس و خاشاك په خپل گردن زده — حو صله دې په مثال د لوی دریا کړه
« کاظم خان شیدا »

راته یو دی بحرو بر — که څه سمه وی که فر
په همت به ئې تسخیر کړم — په شاهانه شان وفر
« احمدشاه بابا »

ای مرزا په خپل اختیار له ځایه پاڅه — دون همت اندېښه مکړه بله بله
« مرزا خان انصاری »

که فلك ئې دزمری په خوله کښې ورکا — خدای دې نه کا چه عارف پکښې غارت شی
« خوشحال خټك »

ځه هغه شهباز شه چه دې ځای په سردرو وی — نه لکه د کلی کارغه گرزه غم دنس کړه
« خوشحال خټك »

که ئې ته په منت مومې وائې مه خله — که دچا په باغ کښې بوټی د کیمیا دی
« خوشحال خټك »

سردې دروم مال دې درومې پت دنه ځی — د سړی د چارې کل خو بی په پت ده
چه یی خدای ورکاو چاشکرد کاندی ندی — په جهان کښې او په بخره د همت ده
« خوشحال خټك »

علم تا بیائی په پوره جهل تابیائی په ښکته — یاعیسی اره وردرو مه یاقارون ته ځان سپاره
د نباتو حلوا مه خوره چه منت ور سره مل وی — خپل کشکاب دخپل محنت خوره په سر راوده پشتاره
« خوشحال خټك »

❀ ❀ ❀

هغه زیست چه د عزت له مخه نه وی — چه یی کا به هغه زیست پوری هکك پکك یم
اوریی پوری په منصب په نوکری شه — چه تر فهم و تر نظر د مغل ککك یم

په خپل نام ونګ چه را شم لیونی شم
چه په طمع د او ږ و ز غلی و شست ته !
تر قضا پورې د هیڅا چاره نشته !
لکه باز په لوی اوی ښکار زما نظر دی

خبر دار کله په سود او زیان دلګی یم
ګمان مکړه چه هغه نا پوه سړی یم
او کنه تر زاړه ذئب لا زیرک یم
نه چه ګرځی ګونګټ نیسی باد خور ګی یم
« خوشحال ختک »

❀ ❀ ❀

که د جام لکه حباب وه نه نیو سینه ته
آفرین دې په همت شیدا ختکه

« کاظم خان شیدا »

❀ ❀ ❀

په خو غره په غره د باز غوندی پرواز کا

بیا به وانۍ د خوشحال ختک پر نشته
« خوشحال ختک »

ساقی جام د میو مه پر ښږ ده اه لا سه
د بلند همت کښ پورته پورته در ومی

خو د عقل خه زده وی لا به مست کښی
ښکته ښکته ځی سړی په پست همت کښی
« خوشحال ختک »

چه همت د سړی څو قدری هومره
د و لتمن سړی هغه بلبلی بو یه

د تمیز په تله هر سړی تا له شی
چه له سینده نی جدا د چا واله شی
« خوشحال ختک »

نور ه پښتو نخو اه په ځای میشته ده
که یی درست د ه تو زور راته ښکاره کړه
عجب مار می چار و تلی تر دوه پښو دی
مست ها تیان خونی زمری په زنځیر کښیږی
په خپل اه می باور شته اثر به و کا !
یو دوه سړی مارمی پروت په دواړو پښو دی

خو یو زه دی زمانی په کښی منصور کړم
نه به بیا په قوم کښی کښېنم نه به هور کړم
مګر لوی پادو پیداشی چه یه دور کړم
بویه دا چه ځان فلک وته تر بور کړم
رقیبان به او ر لړ و نی د تنور کړم
په دیدن یی له نشاطه نه نفور کړم
« خوشحال ختک »

کار به خپله تر دستی لکه حباب کړه

چه محتاج د خیاط نه شی پیر هن ته
« کاظم خان شیدا »

د باښی د باز نصیب شوی تازه غوښی

دوچ در بو بیخ نصیب شود سپهر کښندی
« مطیع الله »

وزی تښتی پروت به خپل پوزکی ښه نی
د منت پو لا و د ي ز هر شه که نی مومی

نه په تخت د پا سه نا ست د بل کره
د محنت سو ی سکرک د ساګی سره
« عبد الحمید مهمند »

که د توان رسی به لوی دریاب کښی ګرزه
عاقبت به ککری ور با ندی کښیږ دي
هغه یار که په پا لنګ را سره نشته
د غمزي په تیغ نې خوږ ښه نې خوشحا له

په بیله کښی د ي زو ا ل ویښم نهنګه
تر خرا غ چه کښې و ښی ګرځی پتنګه
دا هم شکر چه نې بوی ځی له پا لنګه
مړ نی په روغ صورت نه ځی له جنګه
« خوشحال ختک »

که غوټۍ یې وهي په لاس به در شي — چاوي دا چه په دریاب کښ گوهر نشته
که د جنګ په کار کښ ډېر دي حکمتونه — خو صبا ډېر نشي زلمیه ظفر نشته
څه عجب باد شاهي لکه خورشید کړم — یکه تنها په جهان ګرزم لشکر نشته
د منت دارو که مرم په کار مې نه دی — که علاج لره مې راشي مسیحا هم

« خوشحال خټک »

راشه ګوره نامردان بلا و هلي — د ډېرې میدان ډېر پرېږدي لرې تېښې زغلي
د آسمان د پاسه ګنبت ننداره کاه — کوز د ځمکې د تلي په مینځ کښ هلي
مړ هغه چه ئې نوم نه یې نښان شته — تل تر تله به ژوندون پیائي ښا غلي
څوك په خپل ښې کړل کاد اعزېزو — چا په خپل ښې ګډو نه دي کړلي
پسینه کړنه هو مره فائېده نه کا — چه په وخت کړ نه وکا ډېر آ خلي
چه محنت په ځان قبول کا راحت موی — رنج و ګنج سره دا دواړه دي ترلی

« خوشحال خټک »

ښیا د د چارې په مصلحت دی — ښیا د مړ دانو په ښه همت دی
چه سره یو شي دا دواړه نو که — واړه دولت دی حرمت عزت دی

« خوشحال خټک »

مړدان هغه دي چه همتناك وي — د ننګیالي په کار کښ چست و چالاك وي
کار چه آغاز کا انجام ئې فرض ګڼي — په زړه هم پاك وي په خوله هم پاکوي

« خوشحال خټک »

چه په خپل دخپلو وینو سر خرو ګرزم — څه منت به دد و نا نو د دینار کړم
چه په وازه خوله موندو شي مه یې وینم — که صدف غوندې حاصل در شهوار کړم

« عبدالقادر »

که دمځکې غوندې کوز په تواضع یم — په همت تر واړه پاس لکه آسمان یم

« عبدالقادر »

چه همت دې دښوس دی ځان بازمه کړه — ځان په رسم د جانباز و جان باز مه کړه

« عبدالقادر »

هر سړی په موافق دخپل همت نظر اړینه — په وړو چارو هیڅ کله کا ته نکاندي لوی چاری

« عبدالقادر »

مړدان هغه دي چه همتناك وي — په هره چار کښ چست و چالاك وي
چه غم پېرې راشي پروا دغم نه کا — خواږه له هر چا په زیست وژواك وي

« خوشحال خټک »

چه په شان د آفتاب ندی ګرم روپه — ستا په سر کې په سایه دهما خوښ یم

« کاظم خان شیدا »

چه همت مې نه کا ډېر په هسکو او — لکه موج نکړمه بیم له پور پو تلو
سوال مې خوی له در افشانه ابر نه دی — صدف ورانه خپله خوله کړه په غوښتلو
د آفتاب به کمند نه خېژم آسمان ته — ه زړدم بار لکه شبنم پر دوش د ګلو

« کاظم خان شیدا »

۳ ـ امید :

د شپې ښېتن دي سحر ته ګوري
هېڅوک دې د طمع امید پرې نه کا

له مقصوده نا امید مه شه یکلخته

دا دستور دی چه شپه ولوېږي په ځمکه

په ژوندون به لکه شمع دا سرد نه شم

هر ګره ګره کشا لري نیکبخته

٤ عزم او توکل :

د هوښیارو نادان هومره تفاوت دی
که په ما باندې خرڅ خوري پروایې نکړم

نه رسي ترياره هرچه ډېرې اندېښنې کا

هغه باغ چه تل ما واده د بلبلو
د زړه راز و چاته ووایم حیران یم
توکلت علی الله وینا یوه ده

په پرېشانو اندېښنو خاطر پرېشان شي

٥ ـ جد وجهد :

په طلب کښې دي ستې وینم درویشه
نعمتونه رنګارنګ دي په هر لوري
څو طلب هومره موندل دي په دادور
د عسلو خوازه کله هغه مومي !

غشی چه ډېر ولي نه تیرانداز شي
کار د محنت دی د مشقت دی

هر مرغه چه د بل غوښې خوري مردار دی
د ذرې په څیر د لمر په طلب ګرځه
کار په تش لستوني نشي بې د لاسه
چه تقوی دیانت نلري رحمانه

ګوندي پسرلي و خپړې د صبا ستوري
باران په تېز و کښتونو اوري
« خوشحال ختک »

خدای په ځمکه کا مرغونه د هوا پېښ
« عبدالحمید مهمند »

په شتاب ور پسې صبحدم را ځي
« عبدالحمید مهمند »

چه تر مرګه پورې زما جانګزاري ده
« کاظم خان شیدا »

نا امید له خدایه غوته جبین مه شه
« عبدالرحمان مهمند »

خو ځمکې د آسمان په مینځ کښې وت دی
د هر هر کله دانا سره په نبت دی
« خوشحال ختک »

نور کېسې پرېږده د عشق په توکل هسې
« خوشحال ختک »

اوس په ده کښې د بلبلو آواز نشته
په هر لوري چه نظر کړم همراز نشته
د خوشحال د زمانې سره ساز نشته
« خوشحال ختک »

جمعیت مومي خاطر له توکله
« عبدالقادر ختک »

چه وتلې یې د دې خونې له ویشه
په غښتوني یا ندې نده جفا پیښه
بلکه لا تر طلب بخره مومي بېشه
چه حذر کا د مچې له بده نیشه
« خوشحال ختک »

چه مشق د خط کړي وخط ته ساز شي
ورو، ورو، په هر هنر ممتاز شي
« خوشحال ختک »

ځان حلال کړه لکه زانه شاهین مه شه
لکه تیږه هسې پروت په زمین مه شه
لاس په توره کړه بې لاسه آستین مه شه
د دې هسې همنشینو نشین مه شه
« عبدالرحمان مهمند »

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه زمري خپلې منګولې نه کا ککلې
هومره نه وي خړ بې غوښې ورته لې
مرجونړا درو مرجان هله ولچه کا
چه قبول کاندي د بحر خونې چلې
عاشقان چه ترس تېرشي هله ښکار کا
د دلبرو پسې خولې لکه جلې
بازچه والوزي له جالې هله ګوري
د کبکانو ښایسته سترګې کجلې
چه داور بخري یاد سره رفیق شي
بیا هاله کا په ملکو نو لمبې بلې
چه سیلاب دغره دسره نه روان شي
بیا هاله بیاپې په مخ دبري خځلې
«خوشحال خټک»

* * *

په تحصیل پسې یې ځکه کوښښ بویه
خپل هنر له لاسه مه پرېږده خوشحاله
«خوشحال خټک»

چه توده ترخه قبول لکه دریاب کا
هم هغه د قیمتي در و ماب شه
چه لمبه یې د آتش کړه په ځان تېره
له هغه پسه د ګلا بو ګل ګلاب شه
د کمال کسب پیا په دسعا دت ده
هغه ښه چه د کمال په اکتساب شه
ته هم زده مراد وغواړه له عمله
چه په علم یې عمل وکړ کامیاب شه
«خوشحال خټک»

ښادي عمغونډي آسانه مونده شي
سور په خپلو وینو لعل دبدخشان دي
«عبدالرحمان مهمند»

زر ندد هله څه حاصل کاندي چه ګرزي
یو زمان قراري مکړه له طلبه
«عبدالقادر خټک»

له آزاره چا بازار مو ندلی ندی
له انګاره چا ګلزار موندلی ندی
تلوار مکړه په خپل وار به برخه درشي
بې له واره چا خپل وار موندلی ندی
په قصور مطلب موند نه شي پسې پاسه
له ګفتاره چا کردار موندلی ندی
«مطیع الله پیر خیل»

کار کوه کار، په کار هم کار دی
تاوان په ځان باندي خالي ګفتار دی
عقل څه بل دی خبري نور څه دی
ګو تره ګونګه طوطا طرار دی
«عبدالقادر خټک»

لکه عامل شوه د خاورو لاندي
عمل هم ورک شو په مځکه باندي
اوس په خبره برول و بل دی
دا بیت بازي دي عالم یې کاندي
«عبدالقادر خټک»

کله به لا دروميٖ له ماي دسحر خوبه
خوب بیغمه نه کا چه په مځکښ بي منزل دی
عبدالقادر خټک»

چه منت په ځان قبول کا نو راحت شي
چه عارف د مصیبت شي عافیت شي
«خوشحال خټک»

٦ ـ صبر او استقلال :

غشی چه دبر ولي ښه تیر انداز شي
چه مشق د خط کړي و خط ته ساز شي
کار د محنت دی د مشقت دی
ورو، ورو، به هر هر هنر ممتاز شي
«خوشحال خټک»

مړ نهي د هر چا نندې سره سمې
دخرد بار د فيل په شا باندې مثقال دی

ته چه لاف د مردانو د ميدان کړې
په ميدان دی کوم راوړی استقلال دی

که همه خلق يې سنز شه په خندنه
بېچاره خوشحال په خپل هنر خوشحال دی

« خوشحال خټک »

د خرد چه صبر چه استقلال نه دی
چه شمېرې راشي پکښې خو شحال نه دی

مسړدی يې هيڅ ده و زما په بو هه
که يې په جاه ودولت شوك سيال نه وی

« خوشحال خټک »

اضطراب به دي خلاص نه کاله ختا:
مستقل و ر ته په صبر و تحمل شه

« عبدالقادر خټک »

په تا کښه را شی خدا ته لو يه
تېښته تسليم صبر ته بو يه

ته به يې دفع په صبرو کړی
نه په لښکر و په زرا و زو يه

« خوشحالی خټک »

صبر و نيسه په ځکښې که مراد غواړې
هيچا کړی دغه کار په شتاب ندی

« عبدالرحمن مهمند »

ای حنانه صبر و کړه مراد به مومې
د فلك زر نده په وارده پس پيش

« مرزا حذن »

خلاص به نه شي سرکشان له گوشمالي
چه فلك په جهان شته دی تلوار مکړه

« کاظم خان شيدا »

دا نا يې مه گڼه چه صبر نه لري
چه صبر نه لری حکمت به څه لری

سړی د صبر به کار کښې و ازمېه !
چه صبر ناك وی هر څه به ښه لری

« خوشحال خټک »

صبر ناکو سره جور فلك نه کا
د فلك جور د چا چه سبکسار و

« خوشحال خټک »

ژوندی که گرځی خان يې ژندی دی
تور زن د سر به وينو لړ لی دی

چه صبر نه لری ظفر به نه مومی
ظفر له صبره سره تړ لی دی

« خوشحال خټک »

شورش مکړه د گردون له کشمکشه
اومه کلکه کا مرغی له اضطرا به

« اشرف خان هجری »

٧ـ د وخت اهميت :

دو باره دي را تله نشته په د نيا
نن دې وار دی که دروغ کړی که رښتيا

هر چار چه تر وخت تېره شي عنقاشي
عنقانه نيلی په دام کښې د هيچا

تر ورځ تېری او به پېرته نه جار وزی
نه جار وزی تېر ساعت به پېرته بيا

تېر ساعت په مثال مړی د لحد دی
مړی چاری ژو ندی کړی په ژړا

هره نيته چه صحيح گڼه به زړه کښې
په غرور به هغه نيته کړې خطا

په عمل د نيکو بدو فهم و کړه
چه به دا کښې دې بهبود دی که بېدا

شته

« عبدالرحمان مهمند »

چه بې وخته ارمان کا به وخت وبه مړوی

که د بېره سعیه کوښښ کړی څه شی
که هر څو مېچ په بېړی ملاح کا

آبشاره ! ولی دا هسې ژاړې !
که ټل فریاد کړی به کانی سروهې !

کړل دی ویل دی دواړه اوان لری
چه کار دنن ورځې پرېږدی صباته

۸ ـ زړه

شه سړی پردی بدلاسا په نیکۍ خپل کا

یو زړه دخوشحال ندی چه جهان بکښې ایده شی

دواړه ښکو نه لکه تن دی
زړه یی چون او بېچګو دی

خودې زړه خاندی خوله دې خندا کا
مدار دهری چاري په زړه دی

دنازکدلو اطوار مشکل دی
مم یی نشته ګنډل یی هم لا

منبرو سوځه یواور کښې شراب وځښه

که هزار ځله تقری پرهیزګاری کړې

قلب د دمومن ګوره ملقب په عرش الله دی

چه زړه ونو دنیا څلو پروا وی

و ګوری واړه کاروانه ځپل کا
څو کې چه آرام ګټی دښکو نام ګټی

د هغه عالمو زړه سړي د و ښکو دی
« عبدالرحمان مهمند »
په وخت چه نکړی بی و خته څه شی
په ژانګې چه کښېوزی پوري هاله شی
« عبدالقادر خټك »
لـه چا فریاد کښږي څوك پسې غوادی
بیانه راشني او به نچه لاړي
« عبدالقادر خټك »
چه وخت یې تېرشی افسوس ارمان لری
هو ښیار به نه وی دا خوی نادان لری
« خوشحال خټك »

کومه شاغلیاده چه څوك بد کا زړه دیارخپل
« خوشحال خټك »
دهر چا زړه مرآت دی صفائی وراره بویه
« خوشحال خټك »
کار د تن جوړوی زړه
څوك دا غمو شه ګڼی زړه
« خوشحال خټك »
چه زړه دې ژاړی ستر ګی ژړا کا
زړه دی مفتی دی هره فتوی کا
« خوشحال خټك »
په دا به پوه شی هر چه عاقل دی
که زخمی شوی د مینا دل دی
« کاظم خان شیدا »
در ته وایم څوزړونو آزار مکړه
« عبدالرحیم هوتك »
شه دې نشته چه مدام دل آزاری کړی
« عبدالرحیم هوتك »
زار زار جوړو چه زړه په بازار پلوسی
« دالپوری حافظ »
زړو که زړه دسړی پوسی خه پکار
« عبدالرحمن مهمند »
مردان هغه دی چه کار دبل کا
د څو زړو زړو نو دارو به ټل کا
« خوشحال خټك »

نه سره سم دی و اړه مړو نه ؛ نه سره سم دی دهر چا زړو نه
زړه هم هغه ګڼه چه اکثه غرشی که بیا ندي راشی هزار غمونه
«خوشحال ختک»

مرهم به زړه‌زده پیر هارونه دا نیابه‌ګل کړی نادان خارونه»
په هره سوړه لاسونه مه منډه یکښې به خوب کا خونی مارونه
« خوشحال ختک »

زړه دی دهر چا سره صفا وی بیه‌چا ګرم مه‌شه که‌دي رضاوی
که‌څوک ناحقه اتا پرخاش کا اند وه ئې مکړه ظفر به ستاوی
«خوشحال ختک»

په‌بدن کښې دزړه اهمیت .

زړه په مثل د پادشاه دی هر اندام د ده سپا دی
تول د ده فرمان بردار دی دی بادار دوی خدمتګار دی
کل اعضا یې مسخر دی د ده حکم ته مضطر دی
په فرمان یې خوله ویل کړی لاس نیول ، ستر ګی کتل کړی
په بدن کښې ګوشت پاره ده چه ګو چنو ئې یې جثه ده
چه وی راست شی راست بدن شی چه فاسد شی فاسد تن شی
پس چه شو صلاح فساد د تمامی به زړه بنیاد
ته مدام اصلاح دزړه کړه به هیڅ وخت غفلت مکړه
زړه په مثل ګنجینه ده د ګوهر و خزینه ده
دپر یکښې دی جواهر قیمتی نفیس نادر
اول عقل ښه ګوهر دی د جمله نعمتو سر دی
بل ګوهر یې معرفت دی زیات ترنو رو په قیمت دی
نور علمو نه حکمتو نه واړه دی لوی نعمتونه
چه زړه هسې خزانه ده د ګوهر و ګنجینه ده
پس لازم یې ده ساتنه له جمله ؤ غلو رهزنه
چه دښمن یې تالا نه کا جواهر یې یغما نه کا
«حبیب الله کاکړ»

چه‌غرقاب‌شی تورمژګان په‌نم‌دزړه نورخراب شی خانمان په دزړه
عبث‌وای غم دزړه وبوالهوس ته چه‌یوهېږی هلکان به غم دزړه
په بل مخ باندي سوا د یار له مخه ما تړلی دی چشمان محکم دزړه
چه‌یې‌عرش او کرسی لاندي‌ترقدم‌دی بالا تردی هسې شان قدم دزړه
دخلیل له کعبې ۱۰ کعبه ده اوچه که‌آباد کاڅوك ویران‌حرم دزړه
که‌نور خلق قدمونه ږدی په مځکه مادی ایښی په آسمان قدم دزړه
دامکان‌چه‌دآسمان مځکی‌ترمیان‌دی یو خلوت دی دامکان سلم دزړه
زه مرهم دزړه له‌چا غوارم بی‌یاره چه کړی نشی طبیبان مرهم دزړه
صورتی همدان دیر دی په دنیا کښی ولې نه مومی رحمان همدم دزړه
«عبدالرحمن مهمند»

همیشه په خدای د شکر شکایت کړي!
منکر بېږي په عطا د سبحان و اې!

دربېلي خدای دهري چې ري توان دی
په دېر توان کښې خپل ځان بولي نا توان ولي!

زړه د نفس په پیروی در ځځه لاړو
د خبیث په لاس دې ور کړو قرآن ولي!

« رحمان »

بنګ شراب سرود کوه عبدالقادره!
خو یو مه کړه آ زرده دمسلمان زړه

«عبدالقادر»

مرده دل دي له تقره زړه بیرون کا
یو ساعت په کور کښې نه بر ېږدي خوک مړی

جمعیت چه لدنیا په نیا غوا ړی
هغه غړی په معنا د شګو پړی

«عبدالقادر»

هر څوک چه یو کا زړه خوله خپل دواړه
دو یم په نیت شی ثابت له واره

که کمی ورغی په دین د نیا کښې
تاوان یی واړه وزما په غاړه

«عبدالقادر»

هغه چه ستادی چه یی ساتل نکړي
ویره مې کېږي چه یی دبل نکړي

که دادې خوی دی دادې خصلت دی
خپل به پردی کړي پردی په خپل نکړي

«عبدالقادر»

چه زړه له تا نه دچا ښه کېږي
ښه کړه د عا ګڼه د عا قبلېږي

ازار د هیچا د ا خستو ښه دي
ښېری د خوږ و زړو نو لګېږي

« خوشحال ختك »

لتو مه ګنج د زړه په ویرانه کښې
پر وا نلرم د شهر په عسس

«شمس الدین کاکړ»

زړه ولاړ شو اوښی یو وار بیا ولاړ نی
لکه چیر ته لښکر دروی د سلطان دوست

« مرزا حنان »

زړو نه مه ماتوه لعل د بدخشان دی
بیا مشکل دی ر غول د شکسته ؤ

« خواجه محمد بنګښی »

چه بهتر تر در ګوهر دی هغه زړه دی
چه پراخ تر هر کشور دی هغه زړه دی

مکرم په مخلو قاتو کښې انسان دی
په انسان کښې چه بهتر دی هغه زړه دی

کم یی مه بو له بیحد ه مشرف دی
چه د خدای باندې نظر دی هغه زړه دی

دمکې حج خو موقوف په یوه وخت دی
چه مد ام حج اکبر دی هغه زړه دی

که هر څو یی صفت و کړم څه به و کړم
چه تر حد صفت بهر دی هغه زړه دی

د زړه شان خو یو بیحد ه عالي شان دی
چه تر ډېر خوږو خوږتر دی هغه زړه دی

سرچشمه د معرفت د لوی در یاب دی
چه محل د در ګوهر دی هغه زړه دی

څه سیالی به نیشکر ور سره کاندې
چه شیرین تر نیشکر دی هغه زړه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د خولي په وېل حکم دقاضي دی
چه ظاهر وباطن دواړه يري رو ښان دی
هيڅ اشيا يی لـه فتره بېرون نـه دی
زه نبي به يې نن کم هنر بيان کړم

چه مقبول دخدای په در دی هغه زړه دی
چه دا هسي بلند لمر دی هغه زړه دی
چه د درست جهان دفتر دی هغه زړه دی
چه منبع د هر هنر دی هغه زړه دی
« عبدالنبی »

دلجوئی به دي تمام وګړی و کړی

که نه هم د دلجوئي په جستجوی شی
« قلندر »

داپند له مانه په زړه کښي ياد کړه
زړو نه د هر چا په احسان ښاد کړه .

خو دي لاس د سـی مروت د اد کړه
آز اد بنده کړه بنده آز اد کړه
« عبدالقادر خټك »

۹ ـ ژبه

فولا دی تو ره وی که لويه تبه !
ډېر يی بلا به د ر خپه وا وړ ی

تر دا لا بده ده بد ګو يه ژ به !
ژبه که بده کړي د پند طا لبه !
« خوشحال خټك »

په واك چه نه اری په کام کښي ژبه
په بده ژبه ځا ن ځی جهـا ن ځی

که ګنګک شی ښه دی په لويه تبه
ايمـا ن لا هم ځی و اوره طا لبه !
« خوشحال خټك »

خوږه مري ده کـه خوږه ژ به !
هنر هم دادی کـه دا هنر اري

چه خوږلا يري خپل کړیزما صاحبه
چار به دي تل وی تر سيا ل غالبه .
« خوشحال خټك »

که هر څو ډېر يې تر صحبتو نه
لا به يې ژ بـه ډېر فهم و کړ ی

علـم اد ب لري فصا حتـو نـه
د ژ بي ډ ېـر د ی قبـا حتـو نـه
« خوشحال خټك »

ژبه عا دت کـړه په ښه و يلـو
که يی عادت کړي په بد ګوئي

چه دي عا د ت شـی هغه تـر تلو
مخ به دي تور کا تر پر د و خپلو
« خوشحال خټك »

په مر هم دخوشامند سره روغ مشه

هغه زړه چه پکښي تيغ دژبان کښيښي
« پير محمد کاکړ »

په مجلس کښي دمهرويو څکه زاړی

شمعي هم خ کا ره کو له بله ژ به
« عبدالله يوپلزی »

هر سړی چه شی ګويا لکه قلم

سر به يې شی له تن جـدا لکـه قلم
« عبدالله يوپلزی »

درست عالم په دا خبره خبردار دی

چه بلبله خپلي ژ بي په قفس کړه
« خوشحال خټك »

روهي ګلوخ ؛ (۵۲۵) ب سر دار محمد ح - ا تاج الدين ، ر محمد امين ، ن رجب علي ؛ ه اجراٸيه پښتوټولنه ۳۶ - ۱۲ ۴۲۵

سلامت کاروان به تېر کړی له رهزنه　　که جرس رنګه نکړي په غوغا ژبه
«ملاجمعه»

که تازی ژبه هر ګوره ښه ده　　فارسی هم ډېره په خوند خوږه ده
چا یی پلو دجمال وانه خیست　　پښتو لا هسې بکره پرته ده
«خوشحال ختک»

ژبه په تن کښې څه عجائبه ده　　صحت هم ژبه ده ژبه هم تبه ده
چه ښه مې څیر کړ ښه پرې خبر شوم　　جنت هم ژبه ده دوزخ هم ژبه ده
«خوشحال ختک»

جنګ د هانی او مزری آسان دی　　د خپلې ژبې آفت لا ګران دی
چه خپله ژبه یی په خپل فرمان کړه　　هم یی رستم ګڼه هم لا لقمان دی
«خوشحال ختک»

که څوك نیکان دی که څوك بدان دی　　په دا دنیا کښې چه په هر شان دی
مه یی ستاینه کړه مه یی غندنه　　نه به یی څه کړي چه د خپل ځان دی
«خوشحال ختک»

د هوښیارو ژبه پټه وی په زړه کښې　　راز به نه وایی اشنا ونا آشنا نه
لېز او ډېر ویل به نکاندې بی ځایه　　هیڅ باطل ویل به نه وایی و چا نه
«خوشحال ختک»

ژبه عادت کړه په ښو خبرو　　خبرې ښې دی ښه تر شکرو
دخوند مثال یی شکري وایم　　قدری ډېر دی تر مرغلرو
«عبدالقادر»

لکه وهی له میدان ګوی دا څه ژبه　　نه یی شی وهلای په تېره کړی شمشیر ګوره
«عبدالحمید مهمند»

که دین دنیا غواړی پرده پوشی کړه　　فتنې له خولې پاڅی نو خاموشی کړه
که نه خاموش یی نه پرده پوش یې　　بیخوده پر یوزه باده نوشی کړه
«خوشحال ختک»

سخی یی مه ګڼه چه نغن یی خوار نه وی　　باتوری مه بوله چه پرې برهار نه وی
که دانشمند وی تفسیر په یاد لولی　　چه ډېر ویل کا دی به هوښیار نه وی
«خوشحال ختک»

ښې خبرې در ګوهر خاموشی مهر　　دانا تل ځکه په خوله دغه خاتم ږدی
«عبدالقادر ختک»

د میرو میره دخانو خانه　　د جهانیانو جان او جهانه
دا رنګ لویی به هاله روزی کړی　　که وي نیکنیته او نیك زبانه
«عبدالقادر ختک»

بحر خاموش دی سیلاب غرغر لری — سیلاب تش لاس دی سیند امن یرلری
دسیلاب گېده دکانړو ډکه ده — بحر یه گېده کښی قیمتی در لری
«عبدالقادر ختک»

لهخامی جوش وخروش خپژی لهدیگه — دی له خپلې پختگی پختگان چپ
یه ابو بهدې ډیوه شی دمراد بـله — کهصدف غوندې پهصبر کړي دهان چپ
چه دانه پهخاورو پټه شی خوشهشی — یه گو گـل دننه وساته ارمان چپ
دبلبلو ناري ښې نـدی پر گلو — چه پهسر ولمبو کښی سوځی پتنگان چپ
لـکه کاه او کـهربا چه سره بولی — هسې پټه خوله بلل کانډې یاران چپ
«عبدالحمید مهمند»

سپین ویل دحق کـوه عبدالحمیده! — کهپه ژبه اویزان شې لکه صبح
«عبدالحمید مهمند»

تماشا دزمانې کـوه عظیمه! — مه له خولې نهځه وباسه مهځه وایه
«عبدالعظیم رانړیزی»

صافدلان له گفتـگو یه خفه کېږی — شی نفس دآئینی پرمخ غبار سخت
«مرزا حنان»

۱۰ اخلاص:

گوره څه بلنـد مقام دی د اخـلاص — چـه جهـان وایه غـلام دی داخـلاص
کهله ځمکې نـه اسمان تهځانه گران دی — د اسفـر یـه یـوه گـام دی داخـلاص
چـه خبـر کـا مخلصا ن لـه علـم غیبـه — داهمـه وایه الهـا م دی د اخـلا ص
در واج د رسـم عمـر مـدام نـه وی — لـکـه عمـر چـه مـدام دی داخـلاص
بی اخلاصـه حـلاوت د اسـلام نشتـه — که اسـلام دی خو اسلام دی داخلاص
څهعجب دی کـهمستان وی تـرې چاپېره — هرساقی څخه چه جـام دی د اخـلاص
څه عجب دی که همـای یه دام نیلی — هر صیـاد څخه چه دام دی د اخـلاص
درحمـان کـلام یه داسبب شیرین دی — چهیی هر کـلام کلام دی د اخـلاص
« عبـدالرحمـان مهمند »

هرباغی بوزې بنده کانـدې اخـلاص — هر بـی شرم شرمنده کانډې اخـلاص
آب وتـاب یی عـالمگیر لکه افتـاب شی — هرجبیـن چـه تـابنـده کانـدې اخـلاص
هیـڅ پروایـی دحیوان پـه اوبـو نهشی — هغـه ژوی چـه ژنـده کانـدې اخـلاص
هیڅ مقراض یی غوڅولی پـه خوله نهشی — هرپیوند چه پائنـده کانډې اخلاص
هغـه کار چـه سحر گر کانـدې پهسحر — ترهغـهیی خوچنـده کانـدې اخـلاص
سـند لاسـه زوړ کـافر دلـو کا او — واسلام تـه خواهنده کا نـدې اخلاص
دنفـاق له اهلـه ځان ژغوره حمیـده ! — پـهلبـاس بـهدې گنده کانـدې اخلاص
« عبـدالحمید مهمند »

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر باغي او هر سرشوخه هر بي شرمه — همه واړه شکسته کاندي اخلاص
په نیکنوم په عالمګیر لکه افتاب شي — مغه څوك چه همیشه کاندي اخلاص
د نفاق د شپې تیاره به رڼا ورخ کا — چه سحر غوندي خنده کاندي اخلاص
که بې پښو لره راتقي ملامت یم — که انسان له درنده کاندي اخلاص

« شمس الدین کاکړ »

۱۱ ـ راز ساتل :

چه بل خبر کړي د زړه راز یه — هوښیار به څه یې و ماته وایه !
هرچه هوښیار دی هنر یې دادی — خبره نه کا چاته بې ځایه

« خوشحال ختك »

د باد شاهانو به راز خبر مه شه — که یې خبر شې ځان ته غاورمه شه
رازیې د زړه په صندوق کښې وساته — په ښکاره رول یې چاته لر برمه شه

« خوشحال ختك »

که چاته و کړې د زړه خبره — تا کبد پېرې و کړې چه وبې نغره
که دې خپل ځوی وی ګمان پرې مه کړه — چه به یې نه کا چاته ظاهره

« خوشحال ختك »

که بېځایه زرکي نه وښکې آواز — نه صبا د ځنې خبرو، نه شهباز
سکه لیه دې خبرېهسې معلومېږي — چه خپل صوت دی هر سړی له غماز
د منصور وحال ته ګوره حال ئې څه شو — خدای دې فاش د هېچا نه کاندي پټ راز
درېغه درېغه که وروستي عقل دومي وای — دانجام خبري نه شي په آغاز
چه منکر پرې اعتراض کولی نه ئې — دا د شعر دی رحمانه ! که اعجاز

«عبدالرحمان مهمند»

ته چه مایوښتې دیار له حقیقته — څوك دیار خبري کاندي واغیارته

«عبدالرحمان مهمند»

خاص خاوت د ښکلیو عام په وخت د خط شي — کم فوت سړی له هرچا سره راز کا

« عبدالحمید مهمند »

ځای به ځای به ستا د مال حساب کاوه شي — خپل اسباب د کاله مه ښیه مزدور ته

«عبدالعظیم رانړېزی»

هوښیار به هر کله زمانه ساز وی — په دانائی به یې د کار اغاز وی
نادان به هیچېری په داخبر نه وی — په هرهر کار به یې بېځایه راز وی

« خوشحال ختك »

زړه بېځایه مه را باسه و بازار ته — وایه نشي په کو څو دخلوت راز

«عبدالله بو یلزی»

منصور راز ظاهر او مسوئی ته وخوت — د خلا خبري کله په ملا شي ؟

« دالپوری حافظ »

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲ـ زر:

اوس په‌دا دور ماولیدل خوازه دی ... تر پدر تر برا در تر پسر زر
نورو چار وو ته څه کوري دا کوره ... چه صاحب دمسلمان کا کافر زر
ځکه څه‌چه د آسمان ښایست په‌زردی ... ستوری زردی آفتاب زردی قمر زر
شاهزاده بی زرو کوښی تنها کرځی ... دهندو سره روان کا لښکر زر
زور، قوت، حرمت هوری درومی چه‌زروی ... دپادشاه په‌سر ځوك كښېږدی افسر زر
هرمراد چه‌دسړی وی په دنیا کښی ... دطلب په وخت یی ور کا دربر زر
«خوشحال خټك»

په خیالی کیسه به نرسی تر کامه ... څه حاصل که بوعلی شی په قصو!
«خوشحال خټك»

که‌هرڅومشکل کارونه در ته‌پیښ شی ... فکر مکره چه‌آسان به په زر نشی
ماچه واېده خوازه دی په‌دنیا کښی ... خوسړی دې یی په مینه کا فرنشی
« خوشحال خټك »

که‌پښتوی په‌اوریخ کښی هم‌ترمیاشتی امرتیری کا ... همه‌عالم خبردی چه‌زر ښه‌دی له‌درمه
« خوشحال خټك»

زردی‌چه ز پرمه دننګ وشرم کا ... صحبت د هرچا و بیلمه کرم کا
دېر کران کارونه‌په زر آسان‌شی ... زر په‌فولاد کښېږدی فولادهم‌نرم کا
«خوشحال خټك»

زردې هرچاته اعجاز معلوم کا ... معدوم موجود کا موجود معدوم کا
وینځه میرمن کا خادم‌مخدوم کا ... زر په‌سندان کښېږدی سندان‌هم‌موم کا
«خوشحال خټك»

بادشاهان ښه‌دی په‌خوانو زر ښندی ... ځوانان پري ښه کا چه‌ورته‌سر ښندی
زرسرد‌ا دواړه تو کو دېر کران دی ... یویوی و ښندی نه‌یی هریو ښندی
« خوشحال خټك »

زرپه بده ورځ په کار وی ... هوښیار ځکه ساتی زر
دزر دار بلا پـــه زرو ... دنا دار بلا پـــه سر
چه سپروی کذار په سپر شی ... چه سپر نه وی لاس شی سپر
«خوشحال خټك»

چاومانه نصیحت کړ چه زرښه دی ... تو اول به کا دزرو چه خبر دی
چه‌په‌کور کښی خزانی لری دزرو ... هغه کس که‌یك تنهادی زورور دی
هر پادشاه چه خزانه ور څخه نه‌وی ... عاقبت ورڅخه تار پتار لښکردی
هرسړی‌چه په‌نام لوی په‌دولت کم‌وی ... په‌معنا بدر نګه ښځه سپین خادردی
په‌امثال یی دهغې مرغی، مثال کړه ... چه‌سینه یی کشاده تن یی لاغردی
کوره مادهغه څر نګی ځواب ور کړ ... پري‌به‌بوه‌شی هرسړی‌چه‌دا نشوردی
ماوې مرد لره خونام بویه نادانه ... نه دزرو تولول چه بد هنر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



که هندوخخه انبار انبار مهران وی ... پەمهرانو به ښه نه شی مختصر دی
که پەخره باندې دزروصندق بار کړی ... خر بەهیڅ پدانبه نشی خر خوخردی
چەهنر یی دلویی وینویه لاس کښي ... دهغه وجود پارس شو واده زردی
«خوشحال خټک»

ځکەنوم یی دزهب وربانديې کیښود ... چەدباد غوندې هردم کا گذرزر
«عبدالقادر»

که زده سخی اری چه مال یی نەوی ... پەځان مې ولید څه حال یی نەوی
که باز داواده هنر د ښکار لری ... ښکار بەپەڅه کوی چەبال یی نەوی
«خوشحال خټك»

## ددولت اهمیت

ژبه هم ښه وینا کاندې چەیی وینه ... دخاوند پەلاس کښې زراو درهمونه
ژبور ور له ورځی وینا یی اوری ... ددرهم خاوندان تلوی په ویادونه
کەدرهم یی ځنی ورك شو شی نتلی ... پر نړی یی وی په خرو پیژندونه
کەبداې سونی(۱)وبولی خلق وایی ... داوینا ده رښتیاینه له رښتو نه
کەبې وزلې ووایی رښتیا خبره ... نور خووایی دخوسونیدی تیرونه
هو درهم ښندی هرچاله لویه برخه ... ددرهم دخاوند هرځای پرتمونه

درهم ژبه ده که خوك ژبور کیږی
ده وسله کەخوك به کاندې قتالونه

«ابو محمد هاشم ابن زید السروانی البستی المتوفی ۳۰۰ه»

چەنیستگاره شی کەخوی داحمدشاه نی ... ترتازیات پەدبدبه دی تا کرداس
«عبدالله یوپلزی»

* * *

۱۳ ــ خپل قام :

هرسردارچه دخپل قوم دبدوخیال کا ... آئینه دې دخپل ځان حال دجمال(۲) کا
پرې کوی ترخپلو ښو لاندې ښاخونه ... چەبدی دخپل عزیز پەزړه نهال کا
عاقبت هغه سردار شی مردار پاتی ... چەیی نفس دخپل بدوته لیوال کا
چەدبل و سرو مال وته هوس کا ... ترهغه پخوا بەورك خپل سرومال کا
هم هغه بەیکښی پر بوځی دامثل دی؛ ... چه وبل وته کوهی کښی وبال کا
دهغو پەخونه پیښ جنگ وقتال شی ... چەهوس دچا دجنگ و دقتال کا
چه له خپلو لاس و ښو شی بیمجاله ... لەغنیم سره بەجنگ به کوم مجال کا
پەبردو مړانه نه کیږی بی خپلو ... لەلحده دا اراز جمال جلال (۲) کا
چەتر خپله حده ښه غزوی وړاندې ... زمانه بەیی جمال غوندې پایمال کا
پردی نجره هیچانده خپله کړی ... بلکەخپله بەپرې بایلی چەداخیال کا
« عبدالحمید مهمند»

---

( ۱ ) لغات ؛ سونی : دروغ
(۲) جلال اوجمال · دوه نومونوته اشارت دی · «خادم»

## ۱۴ ـ وطن :

دوطن ونې چندن اګر دي
که سرای ونورو ته سنګېر دي

درزي لا ګزلري مقراض سوزن لري
کوچ یې اسان دی مشکل هیڅ ندی

هغه ورځ دهجرغم لره سرا شوم
ماهله ماتم دځان وکړ په ویښو
اوس په خه دوطن ګانې بوټي ژاړم
یو ناوک مې په دل لګ راووړله کوره
په محنت مې یو رباض جوړ کړ په دهر
شبېن فلک په خندا سورشو لههوسه
یو پاړو په دکن نشه چه مې دم کا

خاورې یې وایه مشک و عنبر دي
کاڼي یې وایه سره زره دي
« خوشحال ختک »

یوجمدر ګوټي خوشحال خبرن لري
غم دیارانو درد د وطن لري
« خوشحال ختک »

چه له یاره په ژړا ژړا جدا شوم
چه اتک وته مې شاشو په ژړا شوم
درخصت سلام مې کړی تري جدا شوم
زاروجار مې دباغ ونه کړ خطا شوم
لا مې ګل بوی کړی نه ځني سوا شوم
چه هوړي جبل په مخزه ورته شاشوم
ګرفتار په ګنج وګاو داژ دها شوم
« اشرف خان هجری »

## د وطن په یاد

ستا دعشق له وینو ډک شو ځیګرونه
تاته را شمه زړګی زما فارغ شی
که هرڅومی د دنیا ملکونه ډېر شی
د ډیلي تخت هېرومه چه را یاد کړم
در قیب دژوند متاع به تارپتار کړی
د«فرید» د«حمید»(۱) دور به بیا راشی
که تمامه دنیا یو خوا ته بل خوا یې

ستا په لاره کښې بائلي ځلمی سرونه
بې له تا مې اندېښنې دزړه مارونه
زما هېر نشی د استا ښکلی باغونه
زه د خپلې پښتونخوا دغرو سرونه
چه په نورو پښتنا نه کا ګذارونه
چه زه وکاندم په هرلوری تاختونه
زما خوښ دی ستا خالی تش د ګرونه
(احمد شاه بابا)

خوار غریب او بېنوا وای
وا ته غواړ مه له هنده
خو ژوندی یمه تر مرګه
مېشته خوښ یم په وطن کښې
نه دي هند شی نه دي نوم شی
چېرها ر کښې ګلا شیخ وای

خو وطنه ! ستا په خوا وای
چه وطن بېر خه زما وای
هم ماغه آب و هوا وای
نه چه هند واړه زما وای
هما غه بېد بېد یا وای
رزق الله او مشغو لا وای
« خواجه رزق الله »

بی وطنه نها پروت یم په غربت کښې
دهوا داشنا په ستر ګو لیده نشی
قاصدان له روهه رانغله مدت شو

نن له ما سره همدم د صنم غم دی
که په خوب را ته حاضر شی بس کرم دی
سلام بادرا رسوی منت یې تم دی
« اشرف خان هجری »

---

( ۱ ) فرید : شیرشاه سوری . حمید : سلطان حمید لودین

پښتنې جونه دې زلفې باد ته نيسي — چه شمال يې بوی راوړي په رنتمبور (۱) کښې
« اشرف خان هجري »

خو به فخر د کشمير په دوشالو کړي — خو به خيال کړي په اطلسو دفرنگ
« پير محمد کاکړ »

نسيمه ور شه د « سراى » سواد ته — له هغه پسه افضل آباد ته
سلام م وکړه په دواړه لاسه — د رود پوارو گل و شمشاد ته
« کاظم خان شيدا »

که گذر به خير اباد و کړي نسيمه ! — يادي کښت وشي د «سراى» دسيند په سيمه
په وار وار سلام زما ورته عرضه کړه — ور سره زما د لوري خو تسليمه
ابا سيند وته ناره و کړه په زوره — و لنډۍ ته و ېنا و وايه حليمه !
گوندې وي چه پيامې ستاسې جام روزي شي — په گنگا جمنا به نه وو له قديمه
چه سرې او به دغره نشته په هند کښې — ترې توبه که واړه ډك وي له نعيمه
خدايه زړه مې په وصال دهغه خوښ کړې — داچه اوس ورځني لرې دی دوه نيمه
هميشه به په هند نه او سې خوشحاله — عاقبت به عاصي ووزي له جحيمه
« خوشحال خټك »

نورجهان سقر شو با دې سراى دارالقرار دی — کله به خوشحال دارالقرار لره ور دومې
« خوشحال خټك »

دخوشحال د زړه خوښي نشي بې سرايه — خپل وطن يې په هر چا بانډې کشمير کړ
« خوشحال خټك »

دهواد ياران مې هر زمان يادېږي — چه نې مخ په خوب کې ووينم ويادم
«خوشحال خټك»

ښه په هند کښې چنبا گل دی — تر دا گل د وطن خار ښه
دسراى قدر نور چا نه دی — په خوشحال دی ترفر خار ښه
« خوشحال خټك »

درزې لاگزلرې بيانې سوزن لرې — يو جهدر گوتې خوشحال خبرن لرې
کوچ يې آسان دی مشکل هېڅ نه دی — غم ديارانو درد د وطن لرې
« خوشحال خټك »

## ۱۵ — مسلماني :

په دا دوه حرفه مسلماني ده — هر چه نه پسندې په ځان په چا مه پسنده
چه يې اوس به تولولو نه مړېږي — همدا خپل دولت به و کايه تا شنده
« عبدالقادر خټك »

چه نه پسندې په خپل ځان هغه مه پسنده په بل ځان — همدا ده که ته يې گورې په صحی مسلماني
نيکانو سره زيست روزگار په مهر و محبت کړه — بدانو سره زيست روزگار هم بويه اساني
«خوشحال خټك»

په قوت به داسلام کړي — د کفار انکار غارت
« دولت لوانی »

---

( ۱ ) رنتمبور ديو ځاى نوم دی چه شاعر هلته بندی و « خادم »

دمسلم نښانه داده که یی و ینسي
چه اول په شریعت دې استوار شی
« مرزا خان انصاری »

پسه مسلمو کښی خاصه مسلم هغه دی
چه یی وشلاوه زنار ددی دنیا
« عبدالرحمان مهمند »

## ١٦ ـ آزادی :

وهرچاوته چه وگورم فریاد کا!
بوزه نه یم د جهان دی سینې خوږې
په جهان به هیڅوك نه وی چه آزاد وی
ځنې عشق اندوه بنده کړه ځنې لوږې
عقل وهوښ یی وړی وته پیدا کړ
داچیچل داهل دیرانگ دی یادیږي
«خوشحال ختك »

چه سړي شړومبی یی چښم په وخت داوړی
بادشاهی داورنگ زیب زماه غړ که
« خوشحال ختك»

دحاتم دسخاوت خبرې مه کړه
لا به دا کښې هم د طمع نښا نه ده
« خوشحال ختك »

که یی ته به منت موږی وایی مخلبه
که دچا په باغ کښې بوټی د کیمیاوی
« خوشحال ختك »

دمغل منصب می پر بیهوده سې خوښ یم
لکه خلاص داوبه بنده بند یوان شی
دانا دره عقیده لکه زما ده !
لاعجب که بل پیدا هسې افغان شی
دمغل وته به هسې کار بنکاره کړم
چه راضی راځنې روح دفریدخان شی
آزادی تر باد شاهی لا تیرې کا
چه بل د حکم لاندی شی زندان شی
« خوشحال ختك»

چه نوکری کا څوك دیر گنده کا
سړی ازاد وی خپل ځان بنده کا
تر آزا دی نه بهتر هیڅ نشته
چه څوك په کور کښې خپله دنده کا
« خوشحال ختك »

طمع بلاده اصیل بنده کا !
بنه بنه سړی وی دائی گنده کا
ماده پر لیدلی دی چه طمع نه لری
په بادشاهانو پورې خنده کا
«خوشحال ختك»

لکه ونه مستقیم په خپل مکان یم
که خزان را بانديې را شی که بهار
«رحمان بابا »

که دعقل څه اثر لري و سر ته
لاس په سرمشه دهر گیدی ودرته
په نظر دهغو خاوره سره زر کیږي
هرچه نه لری نظر و سیم و زرته
بی منته جام دزهرو خکلی ښه دی
نه هغه چه منت بارشی و کوثرته
دیوسف له حاله زده که دغه پسه
وایه حال د زمانې وبیرا درته
دی فلك وچاته هیڅ بخښلی نه دی
چه یی نه دی را پیرودی ځنی بیرته
که له خدایه دوې خلقووته مخ شی
له فردوسه به دې مخ شی و سقرته
همیشه به در په در گرزی رټلی
داستو گنې ځای به بیانه موږی چرته
ددې سست بدن منت په رحمان باندې
چه له خپله دره ټلی نه شی بل درته
«عبدالرحمن مهمند»

روغې گلونه : ( ٥٢٥ ) ب سردار محمد ح عبد مجید ر محمد امین ن رجب علی : ه ا ج ا ٤٩ پښتو ټولنه لیلا ١٩ - ١ - ٣٦ ع

ژوندگی که څوك پوهېږي حضور ده دی   آینده و رفته کله دچا یاد وی

« عبدالرحمان مهمند »

نه خوښی کړم داحق سری ده ددې   نه مې زړه مومی اندوه دده له ذمه

دزلفېنه و تور حلقو دي عذار و ښم   که نسرين دي دی په زلفو کښې صنمه

« عبد القادر »

چه مې شا کړه وښا دهوو ته ښاد شوم   چې د زړه مرادمی پرېښود په مراد شوم

اوس څه غم نکړم له غمه بې غم ګرځم   راضي من چه دازل دویش په داد شوم

چه مې طمع ددنیا ور څخې پرې کړه   هغه کس که کیکاوس زه کیقباد شوم

ځان بازبه ولی کاروانه دیزېږه کا   له ښځانو ځکه زه بې اعتقاد شوم

خدای مې بیا په کښې بندی مکړه ترمرګه   احتیاج عظیم زندان وه ترې آزاد شوم

همېې ځان له غمه خلاص کړهم نیکنام شو   دپرمین په ورو ستنی ضرب دفرهاد شوم

بادی بوی عبدالقادره سحر راوړ   شګفته لکه غنچه په دغه باد شوم

« عبدالقادر ختک »

چه خوښ له ګمه دلګیر له خاره دی   عشق له دو بینه بې اعتباره دی

نه شکایت کړم لچا ، نه شکر   در دمي اهیاره در ېمان له یاره دی

« عبدالقادر ختك »

له بیخونده آزا دی شوه دسر وي   د ګنې پخېر پښو بنده بندی بیا

« عبدالحمید مهمند »

وزی تنږی پروت بخپل پوز کی پنه ئي .   نه په تخت دپاسه ناست دبل کړه

دمنت پولاو دي زهرشه ! کې مو مې :   دمحنت سوی مکړك له سا کټ سره

« عبدالحمید مهمند »

تخت و تاج ته به سر کوز د همت نه کا   چه په داد ددهر پوه آزاده مرد وی

« اشرف خان هجری »

دافقیر دولت په مرګي هسې هوس کا   لکه ستړی مسافر وخپل وطن ته

زنهار حلت په هسې ساعت ور کړه   چه دنیا وریانې نه وی و کفن ته

« دولت لوانی »

آزادی او کارو بار دی سره اپری   لاس له کار وباره وباسه که کار کړي

« عبدالرحمان مهمند »

هر ګدای چه آزا دعوی ترې قربان شه   باد شاه ن دشام دروم که دختن وی

ماتول دبت آسان دی مرد هغه دی   چه مشغول دخپل وجود په شکستن وی

« عبدالقادر ختك »

۱۷ _ انسانیت :

پوي اصل سره دوه او یامذ هبه   خدایه څه بنی آدم فریق فرینت و

« خوشحال ختك »

خلق ناديده دي په خبر و پسې تللي — جار تر عار فانو چه په حال دي پوهيدلي
دوه او يا مذهبه يکښې هومره قيل و قال — وايه سر هوا يه خيل مطلب پسې دي تللي
د پردي کتابونه مشتمل په دېرش حرفونه — کل وايه که گوري له الفه دي تحوولي
سل پسې سل سببه چه يې مات په يوه ځاى کړي — سل به بلل نه شي سره يو دي ماليدلي
وايه نور د نمر دي هم د ننه هم د باندې — هر چېرته دا نور دي په هر ښهر په هر کلي
زه خوشحال ختک يم د رندانو په مذهب کښ — نور ويل مې نزده مختصر مې دي ويلي
« خوشحال ختک »

ب : بابېزه خويونه

١ ـ بدعادات :

عادت لاړ شي عادت له سري نه — خداى دې نه کاندې په بدو چار عادت څوک
« عبدالرحمان مهمند »
همېشه وي نرم چوب غذا د کرم — شيدا مشه مرد خالي له سياسته
« کاظم خان شيدا »
سترگي به سوزي دخس له نامردانو — که همه لکه ايري آتش نسب وي
« کاظم خان شيدا »

٢ ـ بې پته خويونه :

پو چه د پر خوري سوگندونه — بېل چه د پر کاندې پورونه
آشنائي ور سره کم پره — دا بې پته دي خويونه
« خوشحال ختک »

٣ ـ کوزتيا :

تر هر څه بد کجئي خطر دى ! — کجي به نه کا چه دانشور دى
الف چه سم شي کجي يې نشته — ځکه تر نورو حروفونو بر دى
« عبدالقادر ختک »

٤ ـ بدنيتي :

چه د بل په نامرادي کښ مراد غواړي — دا سبب گڼه د خپلې نامرادى
« عبدالحميد مهمند »

٥ ـ بدگوئي :

چواړي د حلال خور په نامه پولي — له ښو خلقو بدگوئي نده ممکنه
ته چه بد له خلقو وائي زه وپوهېږم — چېري خپله بدي نکړې معينه
له هغو نه به دومبې ستا عيب خرگند شي — چه هر چا وته دې کړېده خندنه
« عبدالرحمان مهمند »
مه پر چا غيبت تهمت وايه مه نښله — مه د بد نامه په هيڅ بڼي آدم زده
« دولت لوانى »

٦ ـ بېکاري :

د جمله بلاؤ سرتن اساني ده ... لټ غوبی شی خرخاوه په قصا ; نو
فراغت د بېغمی په ملك كښ شته ... څه امید دبېغمی کړی طالبانو !
« عبدالحمید مهمند »

٧ ـ ډېراحتیاط :

کل وسواس له احتیاطه پیدا کېږی ... زه له ډېرې هوښیاری نه لېونی شوم
« عبدالرحمان مهمند »

٨ ـ تذبذب :

کمال د کفر تر ناقص دین ښه دی ... یا درست گمان ښه دی یا درست یقین ښه دی
چه کلمه د اشی کمه هغه شی ... دا نا ته کلمه مذ بذبین ښه دی
« خوشحال خټك »

٩ ـ شخصیات :

دزړه غلا په زړه کښ غم ده ... لا به تېر ه د سردار
هر سردار چه په زړه غل شی ... ځان رسوا کا خلق خوار
« خوشحال خټك »

١٠ ـ ظلم :

بازچه وینی دځیگرخوری مرگ یی زروی ... له دي وینو ځان ساته زما ځیگره !
که تر خه دی هم شراب دقهر نغره ... ظلم وجور په چا مه کړه ځیگر وره
« عبدالقادر خټك »

چه بېهوشی ډېره گېره پسې نر پلی ... ډېر په ظلم کښ څوك مه کوه گبر گوره
ماشی مړ کاندي هاتی چه سره ټول شی ... په یوه وجود مې کې مه کېږه ډېر گوره
لنږي لنږي او به تولې شی ملك وران کا ... په لنږ جبر چېري نه شي دلېر گوره
« عبدالحمید مهمند »

باز کرگس شاهین جوړه تری په هوا شول ... چه ثابت د عندلیب شو په گلعذار حق
بلبلان طوطیان د فکر په تال ځانگی ... خدای کړ پورته ا دي باغه دمالدار حق
« عبدالعظیم رانیزی »

خدای دي نکا چاته وازی دآزارخولی ... دغه خولی ده په آزار کښ دشامار خولي
په گړ کښ بخته برج هسی میدان کړی ... یا توبو بدی خولی دی یا دو یالم خولي
د یوي خولې له آراره وو پېر پېږه ... که پېمر دي دعا کا نه دي هزار خولي
چه پرې راشی د مظلوم د آه سېلی ... کاله خاورو ایرو ډکی د مدار خولي
چه قوصر د آه سر دور باندی لگی ... ور به نشی د هغه چا د پېر هار خولي
چه اثر د مسیحا لری په دم کښ ... خوږ و ی دي هغه خلق پگ فتار خولي
و رخ به شی د غم شپه پهغه خلقو ... چه پیاب بی بد دعا که هر سحار خولي
« عبدالحمید مهمند »

چه داغی یی سپین بشر په اور د ظلم
د مومن د زړه آزار د خدای آزار دی
چه نهال د ظلم کیږدی ځنی لاړ شی
آزادی که دي پکار ده شمس الدینه !

هسی خوښ د ظالمی په کار و لاړ دی

ر سید لې تر مطلبه په خود نه یی

په لاس مه شه پاز پرور د ظالمانو
هم آزار دی پیغمبر د ظالمانو
تر پیخ تر زهرو شی ثمر د ظالمانو
له مجلسه کړه حذر د ظالمانو
« شمس الدین کاکړ »
نه به وایی مرګ یی نشته تل به ژوی
« خوشحال ختك »
چه خوړی د د مظلومو د سر وینی
« عبدالله یوبلزی »

۱۱ قهر :
ما نی مه کوه حنا نه صبر بو یه

همیشه غو ته جبین یی ډك له کینه

د جهان کینی غصي واړه تر شا کا
دا پیدا چه خو د بینی ور ځ غه نشته
په کینه په حسد هیڅ د چا و نشی

جوړ کارونه خشموران کاندي تلوارهم
« مرزا حنان »
له خپلواو کورو کلی مرور یی !
« ملا جمعه »
که سړی په وخت دقهر مرګ تر زړه کا
د جهان ننداري ځکه دوه ایمه کا
هر سړی چه حسد کاندی ځان او به کا
« خوشحال ختك »

۱۲ ــ تعجیل :
دانا وران کارونه جوړ په دانائی کا

په هنر هنر خبري کړه دلبره

په تعجیل سره نادان کاندي‌هم کار کج
« عبدالقادر ختك »
تیزی مه کوه په هیڅ کار کښي د سره
« عبدالله یوبزی »

۱۳ ــ حرص :
په غم د نورو و غم ته ساز مه شي
سړی په طمعه د بل بنده شی

سیك و عالم نه په خپل آو از مه شي
دعا به دا کړم اخته په آز مه شي
« خوشحال ختك »

۱٤ ــ کبر غرور :
دغه زور په چلوي تر کو مه پوري
تا چه تیز تېزه سمند د خو د را یی

چه کمال غواړی په کبر احمقان دی
سبره ! هیڅ په تېتو و نو لو یی مکړه

چه پوازي دي په ځان تمام جهان خوړ
ما دا ستا دیر پواته هله ارمان خوړ
« عبدالحمید مهمند »
په پلیتو اوبو نه کیږی او د س
ستا به هم دغه قامت کاندي روزګار کج
« عبدالقادر ختك »

## ١٥ ـ بیوفائی :

چه یې نه وینې وفا به رنګ وبوی کښې　　زر که څه که مینه نه کا و ګلزار ته
« عبدالحمید مومند »

چه نه ننګ لري نه شرم مه یې غواړه　　تو به و کا ز ه له یاره د بیوفا
« مرزا خان »

که یې اوی دزړه په وینو لکه ګل کړي　　هم هغه به یې زړه در کاندي شنه تا نده
« عبدالقادر خټک »

## ١٦ ـ طمع :

څوک چه طمع له چا کا به حقیقت کښې　　که بادشاه د درست جهان شي لا ګدا دی
« خوشحال خټک »

نه دی نفس لره جلب د وز کړو لو　　امو ختـه در باندې غل او کا سیر مشه
نور قیدونه و اړه سهل دي حمیده !　　خو به غاړه دې د طمع زنځیر مشه
« عبدالحمید مومند »

له هغو ترخه ویل شي د حق پاتې　　چه به خوله کاندي خوږه حلو اد طمع
« عبدالحمید مومند »

سړی توب به دي سپیتوب کاندي دا طمع　　عزت و سا ته به صبر که دا نا یسي
هسې چارې به حرص در باندې و کا　　چه په هیڅ شو ې نه وی بیا به وا یسي
« عبدالحمید مومند »

که دې زړه وی چه بیا ای شي طمعه پرېږده !　　څو دي طمعه چاته شته توا نګر نه یې
« عبدالقادر خټک »

که یاس له حقه تحقیق حرام دی　　یاس له مخلوقه د حق انعام دی
اصیل بنده کا خلاص شو ی بند کا　　طمعه له خلقو د خلقو دام دی
« عبدالقادر خټک »

شر موی هر یو سړی د د نیا طمع　　د سپی توب نامه حاصل کا په دا طمع
همت ناک سړي که خوار وی دولتمن دی　　خاشاکی ګوره نه کوی له دریا طمع
د هغه د شرم بوزه په مخ نه وی　　چه کوی د نس د پاره له چا طمع
لکه څوک اوبې په خپله حیا کا ندي　　هسې ما و ته ښکار پېږي دا ستا طمع
لکه یو سپی چه هیڅ ختی ال هغې　　هسې ده د یو له بل نا صلا طمع
د هغو د عزت پښه د ه ښو ږد لسې　　چه په دا زړه له چا کا ندي بیا طمع
تل دخواست لاس به یې نیولی دی کوڅه کښې　　محمدی چه څوک کا بل ته پیدا طمع
د حاتم د سخاوت خبرې مه مکړه　　لا پیدا کېږي هم د طمعې نشا نی ده
« خوشحال خټک »

## ١٧ ـ ریا :

در یا عمل مې طوق شو را تر غاړه　　لکه خیور شي په څیګر د ستار د چا
« شمس الدین کاکړ »

۱۸ — بدي :

چه په بدو په رشوت کاندي حکمونه
چه په طمع د دنیا مفتیان فتوی کا

تور مخونه به دوزخ ته قاضیان د رومي
شرمنده به د دوزخ په زندان د رومي
« مطیع الله پیرخیل »

## ج: نصایح

دا همه له نا پوهی پیدا کیږی
پیر ځو ، ښه سلوك ، نمانځنه ، اوبل عدل
کبر جن حریص بی زده چه دروغ وایی
که وعده یی قیامت وی د غو ښتني
که طالع یی ددولت په شربت ډك کا

چه دخلقو نیکخواهی اری په زړه کښي
که بی غوږ د دانشمند په صیحت وی
د ناصح په نصیحت به اصلاح نشي
د مردانو په معراج به ور تلی نشي
مختورن د دوادو کونو ندی خه دی
نیکبختان به اندیښنه کاندی د نیکو
په هغه هنر کښي تینګی او سه خوشحا له

په دوستانو تلطف کړه خو په تاشی
د نمانځه تر قضا ګرانه دا قضا ده
نورانی کا هغه ځای چه سره کښېني
چه په تشه تواضع کښي ګټه کیږی
که حاتم غواندي درم کړي د مهرانو
خو بدانو سره بدشی هومره ښه دي
که دي سرځی کهدي مال ځی کهدي نورځه
په ظاهر باطن کفران دنعمت مکړه
که راحت غوادي په ځان محنت قبول کړه
که دارو په خواست موندل شی مه یی آخله
که آسمان دي‌دزمری په خوله کښي ورکا
که ژوندون دی هم هغه دی په جهان کښي

خپل استاد و ماته ووې خو پندونه
وې چه هره بدی کړه هغه بد مکړه
که دي زده وی چه بدنه موي له چا نه

خر خشي دعوي ناساري شر و شور
کهدي دا خویو نه شته څه‌غواړي نور
د یاری لایق نه دی دا خلور
دهوښیارسړی به‌نه وی به کار پور
بیا آخر شی د کم عقل جام نسکور
«خوشحال ختك»

مبارك شه بادشاهی اری به‌زړه کښي
شه عجبه آګاهی اری به زړه کښي
هرسړی چه تباهی اری‌به زړه کښي
که دسعی کوتاهی اری‌به زړه کښي
چه هر چاسره سپاهی‌اری‌به زړه کښي
ګمراهان‌به ګمراهی‌اری به‌زړه کښي
هر هنر چه سپاهی اری به زړه کښي
«خوشحال ختك»

د دښمن سره هم ښه کوه خلقت
چه قضا شی د ځلور و مصلحت
دیرینه ځلور هو ښیار په مشورت
هو مره سود نشته دډك طباخ دست
دیوي دمړی په چا مه زده منت
ولي عفوه کرم ډیر اری لذت
استو ار اوسه په کار د رفاقت
هوا خواه اوسه دخپل ولی نعمت
بی محنته هیڅوك نه مومی راحت
که دمرګ‌ې و ته نژدي کاندي زحمت
دزمری په خوله کښي مه پرېږده همت
چه یادیږی د سړی د خوی خصلت
«خوشحال ختك»

هر یو پندی مرغلري دی لا لونه !
چه دلاسه دي آزار شی دچا زړونه
اول ته پرېږده د بدو خصلتو نه

د شهوت په غوټه مه ځه شهوت اور دی
ته کینه، رخه، حسد له هیڅا مه کړه
د هر چا سره د ښو سلوك بایده دی
د دنیا په مال د نیکو نوم حاصل کړه
د هرچا سره نرمي ملایمت کړه!
خپل پردی ته د خپل راز خبره مه کړه
خوشخوئي هر گوره ښه ده نه دا هو مره
هغه کار چه په ارمي تر سره کیږي!
و هغو وته چه قهر کړي روا دی!
د هغو په مرگ ثواب گټلی بویه
که دښمن دي ډېر زبون ته ځني دار کړه
د دښمن په تملق غلطي مه کړه
عاقبت به خپل ورغوي په غاښ پرېکا
چه دي لاس په دښمن برشي پرې يې مږده
په خپلوانو باندې هومره خشم مه کړه!
د پاد شاه په مهربینه غلط مه شه!
پاد شاهان چه په چامخ کا د بدی
په هغې معشوقې څه باور د کړو دی
د بېلو یانې خوره نه هغه یاستی
د بد خویه سره هیڅ بدی ته مه کړه!
د کم‌ذات په ښو خبرو غلط مه شه!
په هر کار کښې چه‌در پېښ شی ښېره مه کړه
په رښتیا که په‌دروغوی سوگند مه خوره
د حرص سترگې مړې په قناعت کړه
که هرڅو دي علم ډېر چه عمل نه کړي
د ښه دین دپاره علم، دانش ښه دي
په جهان کښې که مردان دی هم هغه‌دی
چه بدانو سره ښه کړي قباحت دی
عاقبت به ملکگیری در ځني برېکا
که‌دې وروروی که‌دې ځوی‌وی چه‌بد کار شو
چه بد فعل، او بد غرض په کوم ځای ناست‌وی
چه په کالو وی مشران نه يې حرمت کړه
په‌هغه کور کښې چه ښځه چرگه بانگ کړی
هرچه شرع فرمائي په هغه کار کړه
نیکو کار په فقراؤ خیر خیرات کا
که دې زړه له وینو ډك شی و دښمن ته

پیدا اور د دوزخ سوی دی کورونه .
د ازل په ورځ مقسوم دی قسمتونه
په بدی کښې څه فایده د کوم سودونه
تل جهان و چاته نه پرېږدی مالونه
گنډي وی چه پداخیل کړي دچاز ړونه
د بخچي د ننه ښه دی خیل ر ختونه
چه په‌باغ کښې دې خرتیزی وهی‌خرونه
څه حاجت چه رساوه شی تر جنگونه
چه اری د بدو فعل بد خو یونه!
چه پای سوځی له شامته غاړي‌غرونه
په یوه شجرې و سوځي ښا رونه
د رستم غوندې هم مړه دی په مکرونه
هر چه کار کا د دښمن په ور مونه
د ما رانو په غاره منده لاسونه
چه پردی ورځني تښتي په ملکونه!
زورور په لږ گناه و هی سرونه!
و سپیندو ته تل ه‌شی بندونه!
چه‌په هر لوری یاران لری زر گونه
چه‌یې خوري د نو کری په خوش‌طونه
غلیمان ور له بس دی خپل خو یونه
د گله پر، وانه خوازه لری گلونه
په تلوار، سره ورانیږی‌جوړ کارونه
منافق‌وی چه‌دیر ډېر خوری سو گندونه
چه په کور کښې دي انبارشی نعمتونه
نه حمار یې په تا اښلی کتابونه
نه پیدا چه‌پرې لوټې پردی کورونه
چه و سختي و ته و نیسی لاسونه
د بدانو خو هم تور ښه وی مخونه
چه په لارې تر تا تېر دروهی ستاملونه
په خیېړوی کاږه کړه ور مېږو نه
د هغو د ناستي تښته په گرو هونه!
بیا هغه چه دي په ځای وی لکه ترونه
د هغو خونو نه ځی بر کتونه
مه عمل کوه په ر... دو دونه
هرزه کار په‌عمارت کاندې خرڅونه!
انږو ډېر په زبان مه راوړه غمونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



به هر کار بهتي لاس بروي په ځواني کښې    که طاعت که عبادت که نور کارونه
په ځواني کښې چه د کار تلاسه وزي    په پیري به دي ونه رسي لاسونه
همیشه او سه خو له پته لکه ناوي    چه ضرور شي هاله و کړه دوه حرفونه
تر هغه به نه معقول په جهان څوک وي    چه همیش په خندا سپین اري غاښونه
که خبره که خندا کړي ځکې ځکې !    هره چار تر حساب مه کوه بیرونه
که دي زړه وي چه بهتر عیب دي ښکاره نه شي    چا ته مه شماره د خلقو بد عیبونه
که له تا نه په قوت د مټو زیات وي    له هغه سره حجت مه کړه بحثونه
چه تواني زي د هغې خبري لاف کړه    او که نه په دروغ مه وهه لافونه
چه دښمنو کښې د جنګو خرخشې وي    تر هغه خپل هوس کړه خپل ښکارونه
که دي واوریدل چه بیا ویلې روغ شول    نور په خپله وسله ووهه لاسونه
چه دښمن ونه بتر دي هغه څوک دی !    چه د ښمنو سره کا مصلحتو نه !
خدای هغه په دواړه کونه دي نمانځلی    چه په ورځ کا عدل وداد په شپه لمونځونه
چه دزړه په تمامي دهغو نازو ده    تل نیاز منو سره وړی دی نیاز و نه
داصیل شیوه خپل اصل نه ابداس دی    په زربافو کښې پالم وي پامړي و نه
« خوشحال خټک »

په پیري کښې چه هوس دی د ناب کړي    بیهوده ګمان په صبح د مهتاب کړي
داسته ګناه کوي توبه و کازي    لکه بت هسې په غټو سترګو خواب کړي
علم و کړي بیاعمل ور بانه دي نه کړي    لکه طفل هسې لوبې په کتاب کړي
په شپه پروت بې دغمان په میخانه کښې    او د ورځې مخ په لوري د محراب کړي
له خالقه دي نه شرم نه حجاب وي    له رحمان ګوښه و نیسي حجاب کړي
« عبدالرحمان مهمند »

کړه ګیلو کړه چه سینه د ګلزار شي    اغزي مه کره په پښو کښې به دي، لاړ شي
نه چه بل په غشو ولې هسې بوه شه    چه هم دا غشي به ستا په لور ګذار شي
کوهی مه کنه د بل سړي په لار کښې    چېرې ستا به د کوهي په غاړه لار شي
نه چه هر چاته بخوارو ستر ګو ګوري    لا به وهې به ستا صورت تر خاور وخوار شي
آدم زاد په معنی واړه یو صورت دی    هر چه بل آزار وی هغه آزار شي
که نه نه ګوی نظر دچا و عیب نه    هر سړی به ستا د عیبو پرده دار شي
د متقان کرپه لوړه محکمه بانه دي ه کا    سر کوزی کوه چه پټ دي مرغزار شي
دمات لوښی او از کله ثابت خېږي    د هر چا عمل خر ګند پخپل ګفتار شي
واذا حکمتم بین الناس راشه واوره    حق باطل سره جدا کړه معني نغاره
مدا ماچه لکه باز غوښې دقام خوري    عاقبت به شي بندي په پښو په غاړه
جوړ وي نوی قصر ونه خبر نه شي    تن صبا دی ابادی و ینم و یجاړه
فکر و کړه وخت کو تاه دی وږ لو یږي    د د نیا پر لانده پاتې بانديي و لاړه !
« د مرزا حنان »

نن چه صبح دی رو شانه لار صحیح کا
ناګهانه به دا صبح شب تار شی
لږ ه نې مه ګڼه هر څو که ګناه لږوی
چه لږ لږ و سره جمع کړی بسیار شی
که بل بد کا نه دی ته به ورسره و کړه
هر یو نخل چه میوه لری سنګسار شی
تل و بڼو و ته آزار د بدو رسی
هر چنجی و نرم چوب و ته دو چار شی
هغه زده به له طوفانه په امان شی
چه کشتی غوندی د خلقو بار بردار شی
خدای دې بدله لاسه نه کا او که وی هم
در حمان دې له کل بد و استغفار شی
« عبدالرحمن مهمند »

اې مدام د بل په کمه روا داره
نیکی نه کوی بدی لره تیار ه
قدم مږ ده پر عاجز میږی په ظلم
نه چه دغه پښه دی و مبتلی له مار ه
هر چه وی صباح به راوږی لږ که ډېروی
دا چه نن یې پستم اخلې له خوار ه
کبر مه کوه چه کبر پر خدای ښائی
چه رانده په دا شیطان شو له دربار ه
تکیه مه کوه پر مال فرزند بې بخته!
که دې مال که دی فرزند دی نایکار ه
دا جل صبا د طلب د استاد روح کا
ته طلب د مال اسباب کړی نا قرار ه
که دا پند د حنان ونیسی په غور کښې
دی بهتر له هغه ګنجه بې شمار ه
« مرزا حنان »

ډېر به ستا په سبب خواب دراحت و کا
که دمهد په شان ورك دخان آرام کړی
« شیدا »

پند دی سو دمن واوره تور زنه
اسا نه نده د سر بند نه
مصلحت مه پر یږده د خپله لاسه
هم به خپل راز لری د زړه د ننه
« خوشحال خټك »

همیشه وائې چه خدای مې پیږندلی په یکی دی
که دی خدای وی پیږندلی مینه مکړه په باطله
په خپل حسن غره مه شه که په حسن لکه ګل شی
زمانه به دی خپره په یو څو ورځې کا زائله
« خوشحال خټك »

د چا وخوان ته خالی کتل مکړه
که تل دی خوان خوری منت په بل مکړه
چه پری باور ځی هسی و یل مکړه
چه مال د بل شی هسی بیا تل مکړه
( خوشحال خټك )

منجم که در ته نحسه ادینه کا
یا طبیب و تا ته بد ي کا شکر ي
په جمعه به و نمانځه و ته و نوزي
له شکرو به هم ګرزي اري لري
په قران کښې چه شراب دی منع شوی
ته یې وایې لکه بې د مور نغري!
« خوشحال خټك »

عاقبت به یې زده ترلاسه کړې حنانه!
لکه زلفې دنګار تواضع خوی کړه
« مرزا حنان »

لکه څنګه ژغوري بربنده تېرو تورو    مسې خپل سر له ښېرو د سحر ژغوره!

« عبدالحمید مهمند »

چه ظاهر غوړوي په باطن سپوروي    پېژبه خوږوي په زده کښې شوروي

ور سره مه کښېنه تا به تباه کا    سپین زر که سپین وي اثر یې توروي

« عبدالقادر خټک »

له همه واړه عالمه صلح کل شه    وښوېدو خوشبویي ور ډکوه ګل شه

تعلق په تېرېد و نی هوس مکړه    په بهار کښې په نارو لکه بلبل شه

« عبدالقادر خټک »

څوك چه نرم وېل کا عمل بې ګوره    تېګان دم په خوله وېل کا نرم نرم

« خوشحال خټک »

ښېښتن مو مل دی    اوس موږ سر غل دی    هواد د بل دی

غازیانو ګوری    ښېښتن مومل دی

توري تېري کړی    د ښېن مو پرېکړی    منګلی سري کړی

خله به ښېښتو    ښېښتن مومل دی

که تېښګه کړو زړونه    بر بري یو نه    چه زمری یو نه

اسلام راغښه دی    ښېښتن مومل دی

غازیانو راشی    تول شاؤ خوا شی    د شهاب په ملا شی

د ښېن موغوخ کی    ښېښتن مومل دی

« شیخ ملکیار فرشېن ستانه دا شعر په یوه غزا کښې چه د سلطان شهاب الدین غوری سره وُ ، د غازیانو د تودولو دپاره درجز په رقم ویلی دی . »

# دریم باب: پښتو او پښتنوالي

## ۱ـ میړانه او توره:

مرد به نه شي په ګفتار
څو پیدا نه کړي کردار

چه دې وښکنځي مرد نه یې
که له تا نه وي په ډار

چه څه دې خو انتقام دې
د مردانو کار و بار

عفوه هور ته ځای لرینه
چه نه عیب وي نه یې عار

چه عزت و رځینه نه وي
هغه مرد نه وي په کار

هم مهره لري هم زهر
ښه مردان دي لکه مار

چه هم تندر هم باران وي
تر هغو ځوانانو جار

مرد به غم دخپل ننګ کا
نه د زر نه د دینار

مرد به غم کا دخپل شرم
د عزت د اعتبار

نا مرد فخر په نسبت کا
مرد نه مور لري نه پلار

د خوشحال خبرې ګوره
لعل و در پېیي په تار

«خوشحال خټک»

یا د سپینې توري مرد شه یا عاشق شه
چه یا د ښځې په بند لو په سند رو

د خوشحال خټک خوښې په هغه وخت وي
چه بر ښنا د سپینو تورو شي د زغرو

«خوشحال خټک»

د نامرد، د مرد په دا تفاوت وشو
په نامرد، شرم آساندی په مرد ګران دی

مست هاتیان خوني زمري توري وښکلي
که د سروبره دی نه شي کار آسان دی

کاشکي ته په دا دنیا همیشه پاتې
په احتیاط احتیاط کښې د هر خلق طوفان دی

که د ځان که د ایمان بدخوامې د هر دی
ما په خدای باندې سپارلی ځان ایمان دی

ننګیالي چه د اخلاص توره په لاس کا
د هر ا ښکري د همت پوري کاروان دی

په ښادۍ سره شریک دي اولسونه
غم یوازې د خوشحال خټک په ځان دی

«خوشحال خټک»

مور دې نه شي باندې بوره
چه مېړو نه د کار زار دي

څوک چه شته تر شرقه غره پوره
د تورزنو خد متګار دي

«خوشحال خټک»

درست پښتون تر قند هاره تر اټکه
سره یو د ننګ په کار پټ و آشکار

په داسې وخت، چه وخت د نام و ننګ دی
دا بې ننګه پښتانه کا څه رفتار

پښتانه چه نور څه فکر کا ناپوه دي
بې د توري خلاصي نشته په بل کار

تر مغلو پښتانه په توره ښه دي
که پوهه پښتانه واي څه هوښیار!

«خوشحال خټک»

«خوشحال خټک»

میړنو له تښتې شرم دی یو نسه !
د نصیب له پېښې ماړوه جلب
« یونس »

څه سړی څه یې تدبیر !
که جهان شي تېره توره
بې تقدیره به و نه مری
بې اجله مر گی نشته
لکه کار د مړنی دی
د غازیانو شهیدانو
کل گتنه ده د توری
مړنی دی چه یاد پېژی
چه په دروغ د توری لاف کا
توره زجره د خوشحال ده
تر اوو پېړیو پوری
دا د ځان ستاینه نه ده

هم هغه شي چه تقدیر
ستا به مر گ شي خلق خیر
نه په توره نه په تیر
تیغ و هه مکره تقصیر
هسې کار نه دی د پیر
پر وا نشته د سعیر
که کابل دی که کشمیر
په سندر و هم په ویر
د هغو نه یم د لګیر
کال په کال خلق خبیر
واړه مړه په تیغ و تیر
حقیقت وایم په ځبر
« خوشحال خټك »

چه په توره یې ځواب ور کړی مردېده
که وجود دی خوك آزار کاندی په چوب
« خوشحال خټك »

چه مېن په وسله نه وی
لاس دی سره کا ستر کې توری

مرد دی نه وائی خیل ځان ته
ځان دی و جوړ وی ځوان ته
« خوشحال خټك »

باغ وی سرود وی نقل و شراب وای
مجلس د خاصو کتاب په مینځ کښې

ښې ښې دلبری ښه ښه احباب وای
نقل د تورو و خت د شباب وای
« خوشحال خټك »

د زنانو په حساب دی مردان مشه
شړی ور پښتون به سل په د که یوسی

چه له زیبه له زینته هم آغوش وی
کشمیری چه بغر گ شالونه یې په دوش وی
« خوشحال خټك »

د بلا ته د اختیار توره په لاس کښې
تند رهم زمانه ذاته نه پیدا دی
وقضا وته تسلیم په شان دمړه یم
په سپین زړه که د باران سپینې اوبه یم
« خوشحال خټك »

چه جنگیالی وی دولت هغه مومی
دا د واړه تو کسې سره تړلی دی
چه ننګیالی وی عزت هغه مومی
خوك چه محنت کا راحت هغه مومی
« خوشحال خټك »

چه ځان غواص کا گوهر هغه مومی
دا کا رمې خوځله په ځان راغلی
چه بې ننګی واخلی دلبر هغه مومی
له سر چه تېر شی ظفر هغه مومی
« خوشحال خټك »

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستار قیب کله زما په مخ را تلای شي     دمړو و جنګ ته نه د رومی عو رتي

« مرزا حنان »

چه زړی شي میاشت آخره شپه را خیژي     پټوه ځان لـه عالمه په افلا س کښي
ښي ورښمني جامي خوی دار تپنو دی     دمړه مړانـه نه ځی به کرباس کښي
له یارانو اخلاص تللی دی حنا نـه !     گذران د زمانی شو په لباس کښي

«میرزا حنان»

د میدان په ورځ چه تښته کا له جنګه     یا تې هیڅ نشی با قی له نا م و ننګه
لـه میدا نـه تښته کا ردی د زنانو     مر د بـه نـه تښتی لـه غشی له تـفنګه
چه د تورو بـه بر ښنا یـی وار خطا شی     مور یی مه وای په هغه غولا تی انګه
د ضرور په ورځ بـه تښته له گیدړ کا     چه همیش کـاندی خوښی له نای وچنګه
د عـزت صدقه سر د سر د نـیا د ه     مړ نی بـه شرم سرور کا بید رنـګه

«یونس»

## ملی وحدت

تو له یو دی که غلجی که ابدالی دی     ښه هغه چه یـی ښیښه د زړه صفا د ه
چه عمل یـي د نیـکیه وی مړه هغه     کـه اغوستي یـی گـد له د خامتا ده

«احمد شا ه بابا»

۲ ـ ننګ او ناموس :

چه ننګ کا ننګیالی دی ورته اینبی دی دوه کاره     یا کـام د ننګ حاصل کا یاددوی مینه سپیرېږی

«خوشحال خټك»

چه د ننګ په چارو نر ندی خوشحا لـه !     که یی نر وینی په ستر گو هم ما ده دی

«خوشحال خټك»

کاشکي ځوان دپښتانه په ننګ کښ مړوی     نه چه گور لره روان شو م له تلتکـه
چه دقـام به ننګ کښ و مړ هغه ځو یه     په عالم کښي دخیل پلار غاړه کا لـکه

«خوشحال خټك»

څه یو ازي ننګ په ما را غلی نه دی     پښتانه د پر دی په غرو نه په سمو نه
چه ښور وا خوری دمغلو واده سپی دی     د سـګا نو په خو له څه ا خلم نو مو نه
گور به هم په ژړا سر کړم که یی ور ودم     زه خو شحال د زړه دا هو مړ ه ا لمو نـه

« خوشحال خټك »

چه د بل ننـګ و نـاموس سا تـلی نشی     و به نه ساتی څو ك خپل ننګ و نا موس

« عبدالحمید مهمند »

دخپل رنځ د درد علا ج را څخه نه شي     په حکمت کـه ارسطو و ا فلا طو ن يم
د گـلر خو په هـو س شپي ر نـو مـه     ا مو خـته لـکه شبنم په د ا شبخون يـم
تلخ ویل پر رقیب څو ـکوي ومـا تـه     آخر زه شمس الـدین ننګی ارم پښتون یم

«شمس الدین کاکړ»

خو وا نخلی له غلـمه انتقام — مرد نه خوب کا نه خواړه کا نه آرام
چه د ننګ او د ناموس اندوه یې نشته — د هغه سری به نه وی احترام
« خوشحال خټک »

نام و ننګ افغانی مې ولاړ بر هم شو — انصاف نشته د خوبانو په بازار کښې
« عبدالله یوبلزی »

واړه ننګ د پښتانه دی ګدا نه ځی — حال یې ورخ په ورخ زبون دی ستا په غم کښې
« خوند ګدا »

په جهان د ننګیالی دی دا دوه کاره — یا به وخوری ککری یا به کامران شی
« خوشحال خټک »

ننګیالی د ننګ د پاره — په هر څه لګوی اور
سر په باد د سری پر ښوزه — چه یې نه وی ژوندون نور
چه په نام و ننګ اخ نه وی — که تل ژوی مخ ئې تور
د جهان بلا دې کل وی — خو دې نه وی ویی (۱) سپور
« خوشحال خټک »

سر په دار لاړ شوی ښه دی
نه لاړ شوی په پیغور

٣ ـ ټینګښتیا

قول و بول په ژوندون نشی بد لولی — ځکه ځان په جهل و ژنی پښتانه
«عبدالحمید مهمند»

ځان به مړ د عشق په جهل کړم ناصحه! — وا به نودم زه حمید هسې پښتون یم
« عبدالحمید مهمند »

د دنیا ناوې به بیا په نکاح نکړم — که پښتون عبد العظیم یم په نسب
«عبدالعظیم رانیزی»

زما څه بې اعتقاد ه عقیده ده — چه له عجزه پر ملا خم و چاته نشو
« شمس الدین کاکړ »

د مرد چه نه وی وینا محکمه — په ده به نه شی در غلـه سمه
چه یوی زده وی ښوه خبره — خلاص وی له همه خلاص وی له غمه
« خوشحال خټک »

٤ ـ ښه ځوانی :

جار شم قربان شم دېلار له ښنده — را ته یې ووی زما فرزنده !
لذت دور کړې تر ساتل ډېر دی — خوی خیر ندی ممسك له خوند ه
« عبدالقادر خټک »

دلو یې په مقام به هاله کښېنې — که د ور کړې دمرانې به وزرځې
«عبدالقادر خټک»

---

(۱) ویی : لفظ ، کلمه.

د خپل ځان دپاره یم درم اسراف دی
چه په بل خونه ښندي بی اسرافی ده
« عبدالقادر خټک»

تو اول کښېول دزرو ښځي کاندي
ور کول بازل پی خوی خصلت د نرو
«عبدالقادر خټک»

چه شجاعت کا دنیا په کف لري
نوم به دنیکو په هر طرف لري
هر چه حاصل کا دا د واړه خویه
هغه میراث دشاه نجف لري
« عبدالقادر خټک»

که ځوانمردی بل آزار مکړه په ګلو
ځان دښو دبدو تیرو ته کړه هدف
«عبدالقادر خټک»

چه ګټل خوړول بخښل کا ځوان هغه
چه تو ره لري د توري خان هغه
کان دا لعل و دیا قوت و ګوهر څه دی
چه احسان تري پیدا کیږي کان هغه
چه ئې ته په ګېره وخوري حیطه شي
د مجلس سره چه خوږ شي خوان هغه
که دمال دي که دملك دي که د لېچو
چه ئې توان دچا پکار شي توان هغه
په تما مه شپه په ورځې میاشتې کال کښي
چه د خدای په یادو درومي آن هغه
چه دخوك دوړ اندی روستو ځی داخه شي
په تنها وجود چه شان شي شان هغه
و نور چاو ته وران مه وایه خوشحاله !
چه قول عهد وران شو وران هغه
« خوشحال خان خټک»

که پښتون شي ګدا ګر د کل جهان
غږ ئې تللی دی ودی دی تر یونان
هسی شه مهمان نوا زه خلك نشته
لکه خدای چه پیدا کړي دي افغان
که بهر در ته مرزی شي خو په کور کښي
له ادبه ځان میر ئې کړی تا به خان
ده رچا ځای له چه ور شي بې تکلیفه
کټ بوزي در ته تیار وي آش و نان
« میر احمد شاه رضوانی »

۵ ـ د پښتو نولی غرور :

زه له ځایه د ماغی په جهان را علم
ما د هسې د ماغ سر نه دی را وړی
له اصلي فو لاده هله تیغ رغیږي
په وار وار چه ځنې لاړ شي و سپخړي
« خوشحال خټک »

که زه ګوری درد آشامو سره شماریم
خوار هغه چه ئې له ما سره آهنګ دی
هر ملځي دسر بازی هنر څه ز ده
چه په دا هنر کښې سر ښندی پتنګ دی
لا تر اوسه ئې ما غزه په قرار ندی
چا چه ما سره و هلی سر به سنګ دی
د ګیندیو په ځیګر کښې ئې ګولی دی
که لیدلی چا دما د ښکار تفنګ دی
لا په خوب کښې په لرزه پریوزي له کټه
چه دچا ترغوږ زما د توري شرنګ دی
که په دا د رومي ګوري هغه زه یم
چه مي داغ په خاطر ایښی داورنګ دی
در ست جهان مي و مغل وته خپر کړ
ځای په ځای ئې پښتانه وته فلنګ دی
ځني څه اوپه دعوی لرم په زړه کښي
ولي څه کړم چه پښتون واړه بې ننګ دی

خو طالع را سره هسې مدد نه کا
دخو شحال دزړه دحال ننداره وکړه

ګټه ته بیر تر فریدونه مې فرهنګ دی
که په تخت دپاچه کښېنی هم ملنګ دی
« خوشحال خټک »

چه زما د در وېزې په کچکول ځیر شی

دحاتم به زړه په سهم د سوال یریږ بووت
« عبد الحمید مهمند »

هسې ر نګ له دې عالمه تنها خوښ یم
تر هغه چه خشک طبیعت د صحرا و یمم
چه شاړه وی له اقبې و زی مګس شی
چه په شان د آفتاب نده ګرم روبه
چه په قید یی د قفس کړم لکه زرکه
که بیدار لکه تصویر له خوا به نه شو

چه مد ام لکه وحشی په صحرا خوښ یم
لکه موج او اره په دریا خوښ یم
کله زه د هغه خوان په صلا خوښ یم
ستا په سر که په سایه د هما خوښ یم
تر دا هسې خنده ازه په ژړا خوښ یم
په دا حال له خپله بخته شیدا ! خوښ یم
« شیدا خټک »

جهان شرم نام و ننګ دی
چه وفا و رخه نشته
چه یې عشق تر سره کړی
په شا ځلېو جهان ارت دی
چه خو شحال باندې ناستی کا

که دا نه وی جهان رنګ دی
ګل په څه کړې چه خوشر ننګ دی
نور خوک نشته خو پتنګ دی
په غو و لیو با ندی تنګ دی
دا بو زی ندی او رنګ دی
« خو شحال خټک »

اکوړی ، یحیی ، شهباز واړه سره زر وو
اکوړی ، یحیی ، شهباز واړه زمری وو

په خیل دور واړه و ښه تېر کړ خپل وار
زه هم نه یم د ګیدړو په قطار
« خوشحال خټک »

د حاتم غوندې مې خیل و حشم نشته
سخاوت مې په تقلید په رسم ندی
په و ګړی مې خبر ې د مړ دی شته

په عطا کښې له حاتمه برابر یم
زه له خپله د سخی پلار پسر یم
په همت کښې په هر لوری نامور یم
« خو شحال خټک »

هر چه کاندی نوکري د باد شاهانو

خاسخا به د دربانو منت باروی
« عبد الرحمان مهمند »

مطیع الله له موره پلاره هم سوال مکړه

سل بلا شر مندګی دی په سوال کښې
« مطیع الله پیر خیل »

در و یزه له در و یزه ګرو ناکسی ده
چه رښتینی سیده صاف نه وی حمیده !

د فلک کچکول ته مه ګوره کچکول
بو لی بو لی عالمان دا هسې بول
« عبدالحمید مهمند »

هسې فخر شمس الدین کاندی په عشق کښې

لکه فخر کړی پښتون په خپل نسب
« شمس الدین کاکړ »

دروغ ویل هغه کاچه بی وېره وی یا طمع

خوشحال په دا اندی حق به وایی خوبی سر شته
« خوشحال خټک »

روهی ګلونه (۵۲۰) مخ ب: سردار محمد ح: سراج الدین ر: محمد امین ن: رجب علی ه: اجرائیه پښتو ټولنه ۲۷-۲-۲۶

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**